ناول: بوجۍ.

لیکوال: خواجه زی.

ژباړونکې:خواجه زی خپروندیه اداره

نشرکونکې چینل: https://t.me/pashtoonovels0



(c) ketabton.com: The Digital Library

"بِسمِ أَآأَلَلَهِ أَآأَلَرِحَمَنْ أَآأَلَرِحَيَم"

#بوجۍ ناول.
#ابلیس ناول دویم جلد.
#خواجه زی: لیکوال.
#اول برخه.
________________🖤
بِسمِ أَآأَلَلَهِ أَآأَلَرِحَمَنْ أَآأَلَرِحَيَم

ضرورت به معرفۍ ته نه ویې د ناول د نوم په اړه؟ ځکه تول پوهیږو بوجۍ څه ته وایې؟ خو بیا هم لږ به یې واضح کړم چې کامل متوجه شې، وره، وریجې او نور شیان چې پکی اچوی هغه خلطي یا هم کخوړې ته بوجۍ یا هم بوری وایې...

زبیر- پخدای قسم دا ظلم دی..
ذوالفقار په نری مسکا پداسې حال کې چې سر یې ښکته وو او د دواګانو په حساب و کتاب لګیا وو وویل: بیا پر تا باندی چا ظلم کړی؟
زبیر- پخدای که په څلور مذهبو کې دا کار انصاف وی!
ذوالفقار سر راپورته کړو او زبیر ته چې د اطاق مینځ کې ولاړ او ګیلې و شکایتونه یې کول وکتل او په خندا یې وویل: څه شوی بیا؟
زبیر- پخدای ذوالفقار دا کار دی دسې دی لکه د تور او سپین مینځ کې د توپیر ایخودلو پر معنا؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- استغفرالله وایم څه شوی چې داسی بر بر ددي؟
زبیر زما خواته چې پر کوچ ناست وم او د هغه بل هفتې د وارد شوی دواګانو لیست مې چک کوی ګوته ونیول او ویې ویل: مورِ دوارِه ستا کارمندان یو کنه؟
ذوالفقار زما خواته راوکتل او بیا یې د سر په خوځه ولو زبیر ته د هو جواب ورکړو چې زبیر په ناراضه لهجه وویل: بیا ولې پر ما دومره کارونه کوی او طاها دی مفته بیکاره خپل ځنګ کې کینولې؟ دا وچ ظلم دی ای خلکوووو..

د زبیر په خبره په خندا مې وویل: هسې بې شرمې مه کوه زه کله مفته بیکاره ناست یم؟ نګوری لیستونه چک کوم د سهار راهیسې؟
زبیر- وی... زه دی پارچه، پارچه شم دغه دوه ورقو اړولو را اړولوته ته کار وایې؟
- نو تا بیا کوم غر کینلې ځنګه؟
زبیر- غر نه غرونه مې کینلې د سهار څخه تراوسه لکه خر پدی سره دوبې کې په هغه بی مصرف خراب موټر سایکل باندی یو شل دانو دواخانو تخو مې دواګانې وړی

دومره ګرځیدلی یم چې بیخی د اخ او ټوخ وولیدم..! هغه وخت ته کرار د ایسې شمال ته ناست یې او دوه ورقې اړوی را اړوی او سینه هم ټکوی چې د سهار راهیسې کار کوم..؟ ذوالفقار د محشر میدان کیدی په دغه بې انصافې باندی چې خپل وراره دی خپل ځنګ ته کینولې او پر ما دی ظلم کوی د خدای و مخ ته دی د ګریوانه څخه رانیسم...

زبیر دا خبری وکړل او په غوسه د کوټې څخه ووت چې ذوالفقار په خندا وویل: لکه چې ستا پیریان زبیر ته تللی چی داسې لیونی شوی ..!
- هغه عادت دی هر کله چې یو څه ستړی شي داسې اپلاتی وایې..
ذوالفقار- اممم خو د حق څخه تیر نشم نن د رښتیا یې هم زیات کار کړی..

څه مې ونه ویل او د لیست په چک کیدو شوم دا هفته د سروی" دواخانو ته د دواګانو وړو او د هغوی څخه د پیسو راخیستو" نمبر د زبیر وو یو هفته هغه سروی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی او یو هفته بیا زه! کوم هفته چې زما نمبر وی ولاکه نه دومره جنگ وی او نه خم دومره ګیلې! خو کوم ورځ چې د زبیر نمبر وی بیا داسې حال پر مورِ جوړه وی..

سر مې ښکته وو او د حسابونو د چک کولو حال کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه ما فکر وکړو چې بیا به زبیر راغلې وی ترخو خپل زړه پر مورِ یخ کړی او یو څه نور خبری هم وکړی خو د سلام پر غږ مې سر پورته کړو!

ذوالفقار- علیک سلام طاهر خان؟ دا د کوم خوا لمر راختلې چې ته زما شرکت ته راغلې؟
طاهر زما او د ذوالفقار سره ستړی مشې وکړل او په یو خالې کوچ کیناست ما هم حساب کتاب پریخود او ورته مخامخ کیناستم ذوالفقار هم خپل د میز تر شا د ریاست د چوکې څخه را ولاړشو او مورِ ته مخامخ پر یو نفره کوچ کیناست..

ذوالفقار- ښه نو څه خبری څه قیصې دی طاهر؟
طاهر- شکر د خدای فضل دی کاکا خیرو خیرت دی.
ذوالفقار- شکر چې خیرو خیرت دی..
دواړه خاموش شول طاهر لږ پریشانه غوندی معلومید ما په کراره ورنه پوښتنه وکړل: څنګه وه ادی؟ مروه؟ حسنا، طیبه ټول ښه وه؟
طاهر سر راپورته کړو او ما ته یې په کتلو په نری مسکا وویل: شکر دی ټول ښه دی سلامونه یې ویل..

- علیکم سلام...
طاهر- هغ... هغه اصل کې زه راغلې وم چې تاسو دواړه دعوت کړم..
ذوالفقار- څه ته؟
طاهر- میلمستیا مو کړی ټول کاکاګان عمه او د هغه کورني مو دعوت کړی یو کورنی میلمستیا ده، تاسو ته مې هم زنګ وهې چې راشې.! خو بابا ویل د زنګ لځایه درشم او مخامخ مو راوغوارم تر څو نن شپه راشې زمورِ کورته...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاهر په خبره د قیصې تر اخیره ورسیدم، دا دری میاشتې کیدل ما او ذوالفقار په کامل توګه د بابا سره قطع ارتباط کړی وه! ذوالفقار خو ددې لپاره چې بابا ورته خبری کړی وه او ما هم ددی لپاره چې وهلې وم؟! هو کله چې بابا خبر شو ما ځانته یواځې کور اخیستی البته د ذوالفقار په مرسته نو یو بل جنګ یې هم د ذوالفقار سره وکړو او هم یې زه یو سپیره ووهلم! د هغه وخت موږ دواړو نه د بابا کورته تللې وو نه هم ذوالقرنین کاکا! البته ذوالقرنین کاکا کله ناکله راتلې د ذوالفقار کورته خو بابا بیخی دا دری میاشتو کې نه وو راغلې..

ذوالفقار- زه خو ددی بیخایه میلمستیاو حوصله و عصاب نلرم..
- همچنان زه یې هم نلرم هغه د داسې کورنې میلمستیا خو بیخی نه..
طاهر- ما ته چې کوم خبره شوی وه ما هغه تر تاسو دواړو راورسه ول نور نورستاسو زړه چې راځې کنه؟(طاهر دا خبره وکړل او لځایه پاسیدی د تلو وقت کې وویل: او هو که نه راتلې نو بیا بابا ته خبر ورکړی.. زه نور باید لاړشم کار لرم بایدد ماښام لپاره سودا ویسم کورته..

د طاهر د تلو وروسته ما ذوالفقار ته چې په تروش تندی نظر لاندی ځمکې ته نیولې وو وکړو او ومې ویل: ته ځې د بابا کورته؟
ذوالفقار سر را پورته کړو او غوښتل یې چې جواب راکړی چې موبایل ته یې زنګ راغې په همغه تروش تندی موبایل ته جواب ورکړو...

ما بیرته خپل حساب کتاب راوخیست، زه خو نه تلم هغه میلمستیا ته! اول خو دا چی بابا سره می جوړه نه وه دویم هم کورنی میلمستیا وه! مطلب د بنی اسرائیل ټول اولاده یوځای کیدل او هغه مینځ کی زما حضور داسی وه لکه د لیوانو مینځ کی دی میږی! ولای همداسی وو هر چا راباندی حمله اچول ترځو ما بیاب کړی او طعنه راباندی ووهی! نو عقل وایې کوم ځای کی چی پوهیږی داسی سپک سپانده کیږی مه ځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذوالفقار د خبرو څخه معلومیده چی د موبایل شاته نفر ذوالقرنین کاکا دی! د لږ خبرو وروسته ذوالفقار په غوسه موبایل قطع کړو او ویې ویل: تیار شه.
- چیرته؟
ذوالفقار- ترڅو چي مورِ تر کوره ځو او کالې مالې بدله وو ماښام دی..
- ته غواړې میلمستیا ته لاړشی؟
ذوالفقار- زه نه مورِ غواړو میلمستیا ته لاړشو..
- امکان نلری زه لاړشم ته ځی پخیر...
ذوالفقار- زما پر عصابو مه ځه طاها... شابه پاسه..
- زه نه ځم ذوالفقار....

ذوالفقار په غوسه وویل: ته فکر کوی زه د شوق روان یم؟
- چی زړه دی نغواړې خو ته هم مه ځه..
ذوالفقار- ته ماشوم یې په ځیني خبرو نه پوهیږی...

ذوالفقار په زوره مجبور کړم تر څو ورسره هغه میلمستیا ته لاړشم، زبیر هم زمورِ سره راغلو ترڅو ذوالفقار یې په موټر کې تر یو حده ورسه وي.
- زه غواړم خپل کور ته لاړشم کالې مې بدل کړم یو حمام وکړم بیا د هغه خوا خپل درځم..
ذوالفقار- ضرورت نشته زما کور ته راځه هم کالې دی هلته شته او هم حمام لرم...
هر رکم بهانه مې چې راوړل ذوالفقار سره یې جواب په لستوني کی وو نور نامیده شوم او غلې کیناستم..

زبیر- یعنی تاسو دواړه اوس روان یاست آشتی کنان؟
- خوله دی بنده کړه.
زبیر په خندا وویل: ای کاش زه هم راغلې وایې ستاسو سره ترڅو لیدلې مې وایې چې سنګه صلح کوی؟ غیرِه، ښکل کول، لاس مچ کول..
ذوالفقار- که خپل د غاښونو سلامتیا غواړې نو خوله دی بنده ساته زبیـــــر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه وو د ذوالفقار ګواښ فايده وکړل او زبير خپل خوله نور بنده کړه، زبير مو د ذوالفقار د کوټې مخکې پياده کړو او هغه د تلو مخکې بيا لږ چينجی واچوی چې ما ورپسی د آب معدنې خالی بوتل ختا کړو او هغه هم په خندا ولاړی، د موټر څخه ښکته شوم ترڅو د ذوالفقار د کور دروازه خلاصه کړم او هغه موټر د ننه ويسې، دروازه مې خلاصه کړه او ذوالفقار موټر دننه ويسو، ددی څخه مخکې چې دروازه بيرته بنده کړم د جنرال د کور دروازه خلاصه شوه او د هغه لور او تازه زوم د کور څخه راووتل!

د جنرال د لور په ليدو مې بيحده حيرت وکړو زيات ډنګره شوی وه! دا څو وخته مې بيخی ليدلی نه وه يواځی د ذوالفقار د خولې خبر شوم چې ورکړی ده هغه هم يو نظامی سړی ته پر بن! د هلک پسی مې وکتل او بايد ووايم هلک نه بلکه سړی نه سړی هم نه بوډا کم او زيات د 50/52 کالو ښکاره کيدی! زه يې چی وليدم چې ولاړ يم او دوی ته ګورم نو تندی تروش شو يو بد بد نظر زما خواته راواچو چې ما هم ژر خپل نظر ورڅخه واخيستو هغه بوډا د جنرال د لور لاس کلک ونيو او روان شول، نه پوهيږم ولې خو بی اختيار مې د هغوی پسی کتل!

زړه مې د جنرال په لور وسوځيدی منم زيات شوخ او شيطانه وه خو حق يې نه وه چې داسې يو بوډا خريت ته يې ورکړی هغه هم پر بن! کور ته ننوتلم ذوالفقار لګيا وو خپل ګيره يې جوړه ول، زما پر ليدو يې وويل: چيرته وی؟ ورځه اول ته حمام وکړه..
- سمده..

خپل پخوانې کوټې خوا ته روان شوم تراوسه څه ناڅه زما شيان پکې وه، د الماری څخه مې خپل کالې راخيستل چې د کوټې کړکی بغير د کوم باد او شمال څخه کرار خلاصه شوه او بيرته بنده! په حيرت مې وروکتل يو څو دقيقی هملته ولاړ وم چې وګورم د رښتيا داسې کوم کار وشو يا هسی زما خيال وو؟ بل کوم خاص کار ونشو او ما هم ژر خپل کالې راوخيستل او د هليز ته ولاړم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار تراوسه لګیا وو خپل ګیره اصلاح کول زما ګیره هم د کوم ورځ څخه چې زبیر وربلندی پاکی تیره کړه داسې ګڼ ببره راتلل چې مجبور هفته پر هفته مې باید اصلاح کړې وایې! خو د حق څخه تیر نشم د هغه دوه تارو څخه داسی یو برابر ښه ښکاریده..

ذوالفقار- غواړی سنت دی واخلې؟( مطلب ګیره اصلاح کړی)
- نه اوس لپاره حوصله نشته یو بل وخت به یو لاس په ګیره او ویښتیانو مې ووهم.
ذوالفقار- سمده نو ژر کوه ناوخته کیږی.

په پنځه دقیقو کې مې یو حمام وکړو او راووتم، د ماښام آذانو خوا وه چې حرکت مو وکړو لاره کې موټر مو و دره ویې او یو جومات کې مو مونځ وکړو او بیا الحرکت، زه بیخی تللی نه وم د بابا دا نوی د ښار کور ته نو ځکه نه پوهیدم څنګه دی؟ او چیرته دی؟ د نیم ساعت وروسته چې موټر د پاخه سړک څخه خام سړک ته په حرکت شو پوی شوم چندان ښار کې دننه هم نه دی! د یو کوڅی مخکې چې دوه دری نور موټران هم ولاړ وه ذوالفقار موټر و دره وی..

- موټر د ننه کور ته نه وړی؟
ذوالفقار- ځای نشته حویلې نلری آپارتمان پشان جوړ کړی یو کوچنی پارکینګ لری چې هغه کې هم یو نفر ضرور خپل موټر پارک کړی.
- دلته دی موټر سوک خراب نکړی..
ذوالفقار- نه سوک کار نلری.. ښکته شه..

د موټر څخه ښکته شوم ذوالفقار موټر قفل کړو او د یو دری منزله کور په خوا روان شو توره شپه وه ټول کوڅه کې یواځی یو کور برق روښانه کړی وو نور هیس نه ښکاره کیدل، ذوالفقار د کور دروازه وټکول نه پوهیږم ولی خو د زړه درزا مې بیحده زیاته شوی وه لاسونو مې خوله کړی وه، بیحده زیات استرس او ویره مې درلود ځان سره مې وویل: څه مرګ درباندی شوی؟ ولې داسې ویریدلې یی؟ سوک خو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نخوری! سنګه چې ته د هغوی د لیدو څخه ښه نه راځی همغسی هغوی هم چندان ستا د لیدلو لیوال ندی نو آرام اوسیږه.

په همدی خبرو مې ځانته دلداری ورکړل چې د طاهر غږ مې وآورید چې د دروازی خلاصه ولو مخکې وویل: سوک یې؟
ذوالفقار- ذوالفقار یم.
طاهر ډیر ژر دروازه خلاصه کړه او موږ کور ته داخل شو د ذوالفقار خبره یو دم صحیح وه په شمار دری قدم حویلې وه او بیا یو کوچنې پارک کینګ چې شاید یو موټر پکی په زوره ځای کیدی! طاهر زموږ سره ستړې مشی وکړل او کور ته یې دعوت کړو..

د تلو حال کې ما ذوالفقار ته وویل: دا دری منزل کور یواځی د بابا دی که ذوالقرنین کاکا هم دلته اوسیږی؟
ذوالفقار- دری نه دوه منزل کور هغه لاندی منزل کامل تکاوی( زیرزمینی) ده د دی کور څنګ کې چی هغه سره دروازه کور دی هغه د ذوالقرنین دی.

نور مې څه ونه ویل او د طاهر پسی شوم طاهر دروازه خلاصه کړه او مخکې شو تر څو موږ ته لاره وښایی، ډیر عجیبه وو یو څو زینې پورته تللې وه او یو څو لاندی خوا ته دوه لاری درلود! ذوالفقار لاندی زینو ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا تکاوی ده.
- لویه تکاوی معلومیږی؟
ذوالفقار- کامل یو منزل دی لاندی دری څلور کوټې لری غټ لوی دهلیز.
- اهوم ښه ځای معلومیږی.

زینو باندی چې پورته شو لوی غټ دهلیز وو او د هغه ځای څخه د خبرو غږونه راتلل د دروازی مخکې ما او ذوالفقار خپل بوټونه وباسل او ننوتلو زموږ د ننوتلو سره سم یو دم خاموشي شوه! ما خو ځان نامحسوس توګه د ذوالفقار شاته پټ کړو! کرکه لرم لدی چې اته ویشت سترګې راباندی دروبین واچوی! بابا د دهلیز سر کې د ذوالقرنین کاکا سره ناست وو د هغه انډی نالې باندی فرید او د عمه میره ناست وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نور شاوخوا هم ښځې او ماشومان وه، فهیم نه راته ښکاریدی لکه چې ندی راغلې شکر..

ذوالفقار خاموش ولاړ وو لکه چې هغه هم نه پوهیدی څه وکړی؟ اخیر کې یو غټ سلام په ټولو واچوی او کوم خواته چې طاهر اشاره وکړل همغه خوا ته راون شو ما هم د ذوالفقار په تقلید یو سلام وویل او د ذوالفقار پسی شوم نه مې غوښتل د ذوالفقار د څنګ څخه بل ځای کینم، هسی د ذوالفقار اندې کې مې د امنیت احساس کو.

همدا چې غوښتل مو په نالې کینو چې بابا خپل لځایه پاسیدی! داسې لکه چې غواړی په غیږ ورکول سترې مشی وکړی؟ ذوالفقار هم بابا ته فکر شو او صاف و دریدی، یو څو ثانې د بابا خواته وکتل بیا په کراره او کلک قدمو د هغه خوا ته نږدی شو، بابا ته یې غیږ ورکړل او سترې مشی ورسره وکړل..

بابا- تیر شوی اختر دی مبارک شه..(په حیرت مې د بابا خواته وکتل اختر خو یو کال مخکې تیر شوی وو؟ وروسته مې یاد ته راغله چې دوی اختر کې د یو بل سره نه وه لیدلی ځکه چې جنګ یې کړی وو نو ځکه بابا اوس ورته د اختر مبارکی ورکړل؟)

ذوالفقار- ستاسو دی هم مبارک شې، عبادتونه او قربانی مو قبول شه..
بابا- ستا هم..
ذوالفقار د ذوالقرنین کاکا بیا د عمه میرې سره هم سترې مشی وکړل زه هغه مینځ کې ګنګس ولاړ وم، همدا چې بابا زما خواته وکتل ژر خپل ځای کې کیناستم او نظر مې د بابا څخه واړوی او راغلو کسانو ته په کتلو شوم، هسی نه اوس ماته ووایی راشه راسره سترې مشی وکړه!

فرید خپل لځایه پاسیدی او ویې ویل: ذوالفقار کاکا راشی دلته کینې..
ذوالفقار- ضرورت نشته ته دی ځای کې کینه زه د طاها اندې کې راحت تره یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار زما څنګ ته کیناست او د هغه د کیناستلو سره سم یو دم د دهلیز فضا کې بیا خاموشي خپره شوه، بد احساس مې درلود لدی چې داسې ځای کې شتون لرم زره مې غوښت پاسیږم او الفرار، خو افسوس چې داسې کار مې نشو کولې، د لږ خاموشي وروسته د عمه خاوند پداسې حال کې چې زه مخاطب کړی وم په یو طعنه لرونکې انداز وویل:

د عمه خاوند- ښه نو طاها جان ته سنګه یې؟
- شکر خیرو خیرت دی خپله ښه یاست؟

زما د عمه د خاوند نوم بشیر دی او ما هیس دا بشیر خان صیب نه خوښیدی! دا هم زما د عمه خاوند وو او هم زما ماما! هو زه یوه عمه لرم چې هغه هم زما د پلار موخې بدل وه، خو نه پوهیږم ولی دا بشیر ماما دومره زما سره چینجې لری؟ هسې د جان په ویلو یې ما هیس ښه احساس پیدا نکړو! دا د جان لفظ سره ما کرکه پیدا شوی وه خلاصه هر هغه نفر چې غواړی ما سپک سپانده کړی او را باندی ملنډی ووهې نو زما د نوم سره جان اخلې!

بشیر ماما- آوریدلې مې دی ښاپیری ماپیری لری که سنګه؟ وه هلک که د ربښتیا یې لری نو ورته ووایه چې کوم خزانه مزانه درته راوړی هسی موږ ته به هم یو شئ د یو کونج مونج څخه راورسیږی..

هغه دا خبره وکړل او کټ کټ په خندا شو د هغه سره د فرید خوله هم دری من غاز وخوړل او هر هر په خندا شو! ما ویلې وه زه د جان لفظ سره کرکه لرم دا هم ثبوت. هیس مې ونه ویل او یواځې مې وروکتل غټ سرې دی شرم نلری پدی خبرو، مثال پدی خبره دی اوس زیات ټوکی او خوش اخلاقه کس ښکاره شو؟ د بشیر ماما یو بد خاصیت همدغه دی چې پر هر چا ملنډی وهې او فکر کوی پدی کارونو باندی خوش اخلاق کس ښکاره کیږی؟ خو زه ورڅخه کرکه لرم انسان باید لږ شخصیت او دروند والې ولری نه دا چې هر مجلس کې د خولې کشک خلاص وی او مشر و کشر ته ونګوری او بیځایه اپلاتې ووایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی څخه مخکې چې زه کوم جواب ورکړم، ادی، عمې، او د کاکا ښځه سره د فرشتې او زما خویندی دهلیز ته راغلل، لځایه پاسیدم د عمه سره مې ستړی مشی وکړل بیحده مهربانه ښځه وه سومره چې میړه یې بیعقل وو هغومره زما عمه هوښیاره وه، د ادی او د کاکا ښځې سره مې هم ستړی مشی وکړل او ادی د تل پشان زما پر لیدو د سر په ویښتیانو یې ښکل کړم او څو څاڅکی اوښکې توې کړل! ادی تل زما پر لیدو ژاړی! او بابا بیا تل زما پر لیدو تندی تروش کیږی! د طیبه سره مې هم ستړی مشی وکړل زه خبر نه وم چې طیبه ماشوم لری؟ هغه رکم لیدو باندی په حیرت مې وروکتل ..

خو څو دقیقی وروسته خوشحال شوم لدی چې ماما کیږم او هم خفه شوم! لدی چې ددی ماشوم پلار د فرید پشان یو بیعقل انسان دی خدای خبره ددی ماشوم آینده به څه شي؟ زه لا همدی فکرونو کې وم چې یو ناشنا انجلۍ پداسې حال کې چې د عمه شاته د شرم څخه ځان پټ کوی زما سره ستړی مشی وکړل! ما بیخی ونه پیژندل خو کله چې هغه جنی ذوالفقار ته ماما وویل پوی شوم دا د عمه مشره لرو ده! خو سومره غټه شوی؟! دا دومره کوچنی ماشومه وه چی ما لیدلی وه خو اوس ماشالله پیغله انجلی وه، د هغې پر لیدو دومره حیران نشوم سومره چې د فرشتې پر لیدو هک حیران شوم!

هیس مې باور نکیدی چې دا دی همغه فرشته وی؟ یو لنډ جمپر دامن یې اغوستې وو د پطلون سره؟! زموږ ټول قوم او خویش کې انجلۍ خو لری هلک لا پطلون نه اچوی! د پطلون څخه مې نظر واخیست او مخ ته مې وکتل دری منه آرایش یې وهلې وو لکه چې کوم واده ته راغلې ویې؟! وریځې داسې نری کړی وه چې بیخی نه معلومیده! دا یې لا بله کارنامه زموږ رواج وو انجلۍ تر هغه وخت چې کوژدن یې نه ویې کړی خپل وریځی نه اخلې! بیخی پوه نشوم هغې سلام وکړو که ونکړو؟ ما څه وویل کنه؟ په ګنګس انداز د ذوالفقار اندې ته کیناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجونی هم د سترې مشې وروسته د دهلیز څخه ووتل یواځی عمه، د کاکا ښځه او ادی په دهلیز کی زموږ سره کیناستل، ذوالفقار خوا ته مې وکتل د هغه تندی هم تروش وو او دوه سترګې د دهلیز دروازی خوا ته کوم طرف چې انجونې تللې ول نیولې وه! فرید خوا ته مې وکتل د غوسې څخه تک سور شوی وو خو ناست وو خپل ځای کې! د ذوالفقار د غوږ انږی ته مې کرار وویل: ذوالفقار څنګه چل دی؟

ذوالفقار زما خوا ته راوکتل او په پوسخند په لوړ غږ داسې چې نور یې هم وآوری وې وویل: لکه چې پر دا بعضو خلکو د ښار هوا بیخی بل رکم زیات تاثیر کړی؟
د ذوالفقار په خبره فرید جست خپل لځایه پاسیدی او د دهلیز څخه ووت، د هغه په تلو ما کرار وویل: لکه چې بیخی زیات تاثیر یې کړی هغه هم منفې تاثیرات!
ذوالفقار- دا دوه دری میاشتې ښار ته په راتلو دا رکم شئ شول که دا مو خارج ته استولې وایې عجب نامې کارونه به یې کړی وایې ..!

دشپې ډوډی راغله و مو خوړل دسترخوان ټول شو، چای راغله خو زما ټول فکر تراوسه د فرشتې هغه نوی څهره کې وو! ولې ځان څخه داسې شئ جوړه کړی وه؟ او ولې هې زما خوا ته کتل او خندل؟ په همدی فکرونو کې وم چې د ذوالفقار د موبایل غږ د فکرونو څخه راوویستم، ذوالفقار د بخښنې په غوښتو لځایه پاسیدی ټول خاموش وه او یو نفر لکه ماته رادیو بغاری وهل! د مجبوری څخه ورته غوږ شوم چې څه وایې؟ لکه چې بحث د پښتنو د بدی او غچ اخیستو په اړه وو او بشیر ماما لکه چې یو مثال ورکوی..

بشیر ماما- ګوز په پښتنو کی ډیر بده خبره ده، د بد څخه لا بتر تر دی حده چی پر دی خبرې مړی او دښمنیانی کیږی. زه څو کاله مخکی تللی وم خپل کلې ته هلته چی ولاړم یوه ورځ یواځی ځان په پټیو کی ګرځیدم چی څو ځوانانو راته مخ ونیو راته ویل یی: ته د هغه سړی زوی یی چی زما په پلار یی ګوز اچولې.! او تراوسه یی موږ ته طعنا او رسوایی پاتې؟ نن موږ ستا پرتوګ باسو او درباندی غول کوو چی خپل پیغور له مینځه یوسو..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبری چی هغه کسانو وکړل رنګ می وپریدی هر څو نه چی زاری می کول چی زه هغه کس نه یم باور یی نه کوو همدا چی راغله خپل خبره عملی کړی چی زما ماما او څو نور خپلوان مو راغله او په سل عزر او زاریو زه د هغوی څخه خوشې کړم په همغه ورځ د کلی څخه راغلم دومره ویریدلی وم چې حد نه درلود. کله چی کورته راغلم تازه په قیصی خبر شوم. زما پلار په ځوانی کی ډیر شوخ وو په پهلوانی کشتی وخت کی د دغه ځوانانو پلار نیولی وو او په بیچاره یی ګوز اچولی وو بس د هغه وخت څخه تراوسه تقریبا شل کاله دوی هغه ګوز د یاده ونباسو نو ستا په نظر خپل بدله دیاده باسی؟ یا بخشه کوی؟

نه پوهیدم د بشیر ماما دی خبری ته کوم ریکشن ښکاره کړم؟ همغسې می ورته کتل! که دا خبره مثال ماته زبیر کړی وایې د خندا څخه به مې ورته ګردی شنه ول! خو د بشیر ماما د عمر او د داسې مجلس چې ښځې، ماشومان او مشران و کشران حضور درلود دا خبره یو رکم سپکه او لری د ادب څخه ما ته ښکاره شوه، هیچا څه ونه ویل یواځې ځینی کسانو وخندل.. بابا چی زما د راتلو څخه دوه سترګی راته نیولې وه ناساپه یې وویل:

بابا- سنګه یې محمد طاها..!
په حیرت مې د بابا خوا ته وکتل اول ددی په خاطر چې زه یې مخاطب کړی وم! دویم دا چې زما کامل نوم یې ماته واخیست!
په کراره غږ مې وویل: شکر د خدای فضل دی ښه یم.

ټول بیرته خاموش شول! نه پوهیږم هغه ماحول او فضا هغه رکم وه! یا هم لکه چی ټول منتظر وه زه خبری وکړم! ښه وو ذوالفقار بیرته راغې، د هغه پیاله چای یخه شوی وه نو ځکه یې زما د واخیستل! غوښتل مې ورنه پوښتنه وکړم چې چا زنګ وهلې وو؟ بیا مې ځان سره وویل پر ما یې څه؟ دا بد اخلاق هم د زبیر څخه راته منتقل شوی وه! هغه عادت درلود د هر چا څخه پوښتنه وکړی چا زنګ وهلې وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا- محمد طاها درس خو دی هم خلاص شو اوس څه اراده لری؟
یو سه ځای کې مې ځای پر ځای شوم بد احساس مې درلود چې ټولو زما خبرو ته غوږ وه! په کراره غږ مې وویل: د اوس لپاره خو کوم خاص اراده نلرم د ذوالفقار شرکت کې کار کوم، که د خدای رضا وه اراده مې ده ځانته کارو بار شروع کړم.
زما په خبره فرید په ریشخند وخندل او ویې ویل: ته یو کار سر ته نشی رسولی اوس غواړی ځانته کاروبار شروع کړې؟ دا کارونه ستا په حد کی ندی.

- ډیر شیان زما په حد کی ندی. لکه ستا بی سواد سره خبری کول.
زما په خبری ذوالفقار په خندا شو...
ذوالقرنین کاکا- فرید جان یو سه شوخ طبع هلک دی.
ذوالفقار خپل د چای پیاله کیخودل او ویې ویل: نه ذوالقرنین خبره د شوخ طبعی نده( ذوالفقار خپل سرته اشاره وکړل) ستونزه یی بل ځای ده.
فرید- کاکا هیس زما څخه ښه نه راځې...
ذوالفقار- خبره د خوښ ناخوښ نده، خبره د عقل ده چی ته یی د جرګ هومره هم نلری.

فرید د غوسې څخه تک سور شو او ویې ویل: د خدای شکر دی خپل تر اندازی هم عقل لرم او هم شعور، که ستاسو مطلب د عقل څخه ګیره خریل او لاس کې دسبند او ګوتمې اچول او د خلکو ناموس کتل وی! نو هو زه بیعقل یم..
زه خو ورته حیران وم یعنې بحث څه کې وو؟ او ده پکې راکش کوم مثالونه کړل؟
په کرار انداز مې ورته وویل: یو متل دی وایې کافر همه را به کیش خود پندارد(خلاصه داسې چې مضر انسان خپل ګمان پر ټولو کوی او فکر کوی ټولو کې زما پشان چینجې دی.) د کاکا زو دومره درته وایم ترخو چی ته ما وغواړی وپیژنی د سر ویښتیان به دی د خولی د غاښونو پشان سپین شوی وی، او هو ته زما پیژندل پریږده ورځه یو دوه خبری د مجلس زده کړه چی کله مشران ناست ویی خپل خوله بیځایه ونه خوځه ویی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالقرنین کاکا- هلکانو دومره جنگ مه کوی، یو نن ماښام پریږدی په آرام واوسیږو.
- باور وکړی قسم پر خدای زه کرکه لرم لدی چی د فرید سره خبری وکړم، خو نه پوهیږم دی ولی دومره مشتاق دی زما سره په بحث کولو کی؟
فرید په غوسه وویل: فکر کوی زما ډیر خوښیږی ستا پشان بیعقل سره خبری وکړم؟
- معلومیږی خو همداسی...!

زما په جواب کې فرید ډیر یوه بده خبره وکړل داسې چې بیان کول یې لا د ادب څخه زیات لری دی، د هغه په خبره ټولو ورته بد بد وکتل او خبری ورته وکړل، خو ماته یې دومره زور راکړی وو چې زړه مې غوښت سترګې پدی پټې کړم چې مجلس کې یم او مشران،کشرانو و ښځې و ماشومان ناست دی او خوله ورباندی خلاص کړم او ښه یې سپک کړم، خو هغه وخت مې سترګې د هیرت څخه خلاصې پاتې شوی چې ذوالفقار...

په فرید باندی خپل د لاس پیاله ګوزار کړل دومره یې هم نښه نیول سم و چې پیاله مخامخ د فرید په تندی ولګیدل...!

موټر کې ناست وو او د کور خواته روان وو، د ذوالفقار تندی همغسې تروش وو او هیس یې نه ویل، تراوسه د ذوالفقار د هغه کار په حیرت کې وم! هیس مې باور نکیدی چې ذوالفقار دی فرید په پیاله ویشتلې وی؟! د هغه څخه هم زیات د تعجب خبره دا وه چې د سر په مات کولو یې زړه یخ نشو او پاسیدی او غوښتل یې په هغه حال کې نور هم ووهې..! چې په زوره مو راګیر کړو، که رښتیا ووایم یو څه ډاریدلې وم د ذوالفقار څخه، هغه د غوسې وقت کې خپل پر ځان هیس کنټرول نلری..

- ه... هغه ذوالفقار وایم ما دلته ښکته کړه زه نور خپله ځم کور ته.
ذوالفقار- یو نن شپه قیامت نه راځې که زما کور کې پاتې شې، نیمه شپه ده ستا دکور لاره هم چندان ښه نده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سمده.

زما په دومره ژر قبول کولو او څه نه ویلو ذوالفقار د موټروانې حال کې یو نیم نظر راواچو او په تروش تندی وویل: ته زما څخه ویریږی؟

په تلوار مې وویل- نه ولې...؟

ذوالفقار څه ونه ویل ما هم چې اوضاع امنیت ولیدل نو کرار مې وویل: خو باید ووایم د غوسې وقت کې بیحده خطرناک کیږی انسان درنه ډاریږی!

ذوالفقار یو نیم نظر راواچو خو څه یې ونه ویل، کور ته ورسیدو ذوالفقار موټر کور کې و دره ویې د هغه د راتلو مخکې زه ولاړم تشناب ته ترڅو اودس وکړم، عادت مې کړی وو پنځه وقت مونځ په مسجد کې په جمع سره وکړم، خو د بابا کور کې راته ښه شکاره نشو چې پاسیږم او د ټولو مخکې ووایم چې زه ځم جومات ته؟ یو شانتې ریا کاری معلومیده نو ځکه د ماسخوتن مونځ رانه پاتی شو، د اودس کولو وروسته دهلیز کې مې جای نماز هوار کړو او په مانځه و دریدم..

مونځ مې چې خلاص شو غوښتل مې جای نماز قات کړم چې ذوالفقار وویل: مه ټوله جای نماز زه غواړم مونځ وکړم..

د جای نماز څخه ولاړ شوم او ذوالفقار په مانځه و دریدی، بیحد خوب مې راتلی زیات ستړی وم اول خو د سهار څخه تر ماذدیګر شرکت کې بیا هغه خراباتی میلمستیا! تراوسه چې د فرید مات شوی تندی او هغه نه بند کیدونکې وینه مې یاد ته راځې نو دوه احساس پیدا کوم اول د خوشحالې.. ښه کار یې وکړو د مور شیدی دی شې د ذوالفقار داسی نامې ټک یې وکړو! او دویم یو څه د ویری! د ذوالفقار خواته مې وکتل په کرار انداز یې مونځ کوی دا غوسه د نن پرون نده ذوالفقار تل همداسې غوسه کیږی او په وار وار یې خلک داسې جوړ ډبه ولې، د نور ډبول خو خیر زه پدی ویریږم چې هسې نه یو ورځ پدی غوسه باندی یو سوک مې مړ نکړی..!؟

د سهار مونځ مې بیا د مجبوری څخه په کور کې وکړو او همدا چې راغلم بیرته ویده شم ذوالفقار راویښ کړم ویل نوی دواګانې رارسیدلې باید ژر شرکت ته لاړشو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سل نه زړه او پټې سترګې د خوب روان شو، هلته چې ورسیدو نو بیچاره زبیر هم پداسې حال کې چې اړدمې باسل د موټر څنګ ته ولاړ وو، تر غرمه پورې مو ټول دواګانې ځای پر ځای کړل دومره ستړې شوی وو چې حد نه درلود، د ذوالفقار د مدیریت په کوټه کې ما او زبیر د زیات ستړیا څخه بې حال پراته وو..

زبیر- پخدای قسم زه د ذوالفقار لځایه وایې دا ټول مفت خوره شریکان مې د شرکت څخه ویستل، دا درې میاشت کیږی راغلې یو ما ولاکه یو نفر یې لا لیدی ویې! ټول کار ذوالفقار کوی او هغوی مفته پیسی خوری..!
- ولاکه زه هم نه یم خبر شاید هغوی یواځی پانګونه کړی ویې او کار د ذوالفقار وی؟
زبیر- ورک شه خیرن د پانګونې سره دی، ما هغه د شراکت تړون هغه ورځ ولوست هغه کې صفا د ټولو برخه لیکل شوی وه چې چا سومره سرمایه ګزاری کړی..( زبیر ناساپه د کوچ څخه پاسیدی او ما ته یې په هیجان وویل:

زبیر- ګوره ښا د ذوالفقار شرکت اوه دانې سرمایه ګزاره لري چې هغه کې دوه دانو خپل برخه خرڅه کړی او ذوالفقار د دواړو برخه او فیصدی اخیستې! نو اوس هم د ذولفقار فیصدی او برخه پر دی نورو پورته ده او هم ټول کار ذوالفقار کوی!
- ښه ماشالله سم دم جاسوس دی کړی ..
زبیر- عه پریږده خبری ته مې..
- اهوم وایه..
زبیر- یو بل نفر دی چې سرمایه ګزاری پدی ټولو کې لږ ده! یعنی که ذوالفقار هغه نفر دی خبری ته اړ کړی چې خپل فیصدی په ذوالفقار خرڅ کړی نو ذوالفقار ددي ټول نیم شرکت مالک کیږی هغه وخت کولې شې کرار کرار دا نور هم وباسې او موږ دواړه خپل شریکان کړی...؟

د زبیر په خبره په خندا مې ورته وویل: شکر دی چې ته ښځه نه یی کنه ځل کورنه به دی خپل پدی مغزو خراب کړی وه...
زبیر- ریشخندی مه کوه رښتیا وایم یو ځل سم فکر ورته وکړه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستا په نظر ذوالفقار به دی خبرو ته فکر نه وی کړی؟ هغه دوه نفرو چې خپل فیصدی خرڅه کړه هغه وقت شرکت په بد حال کې وو او دوی فکر کوی چې شرکت به حراب شي نوځکه یې خپل فیصدی خرڅه کړه، اوس چې شرکت په فایده کې روان دی یو نفر هم دیته نه حاضر کیږی چې خپل یو فیصد برخه خرڅه کړی کامل خو لری!

زبیر- بیا هم زه باید د ذوالفقار سره دا خبره شریک کړم..
- خو زه درته توصیه کوم تر یو دوه هفتو ورته هیس خبره مه کوه هسی نن خو بیا ستړی هم دی او عصاب یې خراب دی ویریږم کوم ترموژ مرموز درباندی ګوزار نکړی..
زبیر- څنګه پوی نشوم ترموز څه کوی؟

د پرون شپې ټول کیسه مې زبیر ته وکړل هغه په حیران انداز وویل: نه دروغ وایې...!
- پخدای..
زبیر- نه هسې خبره کوی غواړی ما و ډاره وی ترڅو ذوالفقار ته دا خبری ونکړم..!

- ما تا ته تراوسه دروغ ویلې؟ په قران قسم چې په پیالې وویشت!
زبیر- څنګه یې وویشت؟
- پیاله یې لاس کې وه دوه دری غړپ چای پاتی وه چې فرید اپلاتی ویل شروع کړل ذوالفقار هم درب...
زبیر- وای ... تاسو تللی واست چې صلح وکړی که جنګ؟
د دی څخه وروسته چې زبیر ته مې قیصه وکړل د ډار له لاسه یې ذوالفقار ته هیس ونه ویل او په ویره باندی وویل: طاها..!
- ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- ګوره ښا ما هغه د محمودی ورونو دواخانه چې نده هغه ته مې دواګانې ورکړل خو رسید مې وانخیست( یو کوچنې ورقه ده چې ددی خبری ثبوت ورکوی چې موږ فلانکې دواخانی ته دومره دوا ورکړی ترڅو د میاشت په سر د پیسو اخیستو وقت کې کوم مشکل مخ ته رانشی..)

- ولې دی رسید ورنه ونغوښت؟

زبیر- هغوی ویل زموږ د رسید کتابچه ورق شوی نوی چې تر سو جوړ کو لږ وقت نیسی..

- او تا ټنبل هم صبر ونکړو چې هغوی نوی رسید جوړ کړی..

زبیر- اهوم اوس به څه کیږی؟ که ذوالفقار فکر شو ورته هسی نه ومې غربه وي؟ ګوره د اوس څخه مې ویلې اوسیږی زما هډوکې بیحده نازک دی! که ذوالفقار یواځی لاس راته راوړی هډوکې مې مات کیږی...

- ګوره ذوالفقار ددې نوی راغلې دواګانو په حساب کتاب کې مصروف دی ددی څخه مخکې چې بیکار شې ته په دوه دقو کې په موټر سایلکل باندی لاړشه او رسید راوړه شابه تر هغه وخت زه ذوالفقار مصروف ساتم..

زبیر- ای قربان دی سم..

- بلا ورځه نو ژر کوه...

د زبیر د تلو څو دقې وروسته ذوالفقار کوټې ته راغلو د زبیر په نه لیدو یې وویل: دا بل چیرته لاړی؟

- چیرته نه اوس به راشی ویل د سهار څخه تراوسه وږی یم شاید تللې وی ځانته کوم شئ واخلی.

ذوالفقار- نو دا آشپز د څه لپاره دیګ باندی کوی چی دی تللې د بیرون څخه ځانته بوډی اخلی؟ و ته زنګ ووهه چی ژر راشه اله شابه.

دا چې دروغ مې لا سم صحیح نشو ویلې ځانته مې غوسه راغله په کرار مې وویل: هغه د زبیر فاصله نه خوښیږی نو ځکه تللې ځانته کوم بل شئ واخلې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار په مشکوک انداز وویل: عجب تر پرونه خو يې فاصله خوړل او نن بیا نه خوښیږی؟ څه خبره زما څخه پټ کوی تاسو دواړه؟

- وا ... هیس خبره نشته ته ولې داسې راګوری؟ زه څه خبر یم چې ولې نن چینجی درلود او ویل زه د بهر بوبې خورم ..!

ذوالفقار- یعنې ډاډمن اوسیږم چې کومه خبره نشته؟

- هو خیرو خیرت دی.

دعا دعا مې کول زبیر رسید را ورسه ویې مسج مې ورکړو چې راتلو وقت کې ځان سره یوشئ واخله چې ما ذوالفقار ته داسې خبره کړی هغه هم سمده وویل او ولاړی، د نیم ساعت وروسته پداسې حال کې چې یو کباب وریجی لاس کې وه کوټې ته راداخل شو او شکر د خلاص خولې څخه یې پوی شوم چې رسید یې راخیستې..

ما ذدیګر ماښام خوا ته د شرکت څخه ووتلو، ذوالفقار ډیر وویل چې زما کور ته راځه خو ما ونه منل او د زبیر سره په هغه خراب موټرسایکل د کور په خوا روان شوم، د لاری په نیمه کی زبیر ښکته شو او خدای پامانی وکړل، زما کور د ښار څخه یوسه لری دی دومره تګ او راتګ  نشته او زیاتر اوقات خاموشی ویی. د کوڅی سر کی یو زوړ جومات دی او د هغه چپ لاس ته دری څلور کوره دی. مخکی یو دوه دانی دو کانونه او یو زړه نانوای ده، او د کوڅی اخر کی زما کور دی..

خو د راسته لاس او زما د کور و شاته یو لویه هدیره ده، د همدی هدیری برکت وو چی ما دا خراب او بی ډیزاینه کور وکولی شو واخلم. ځکه ډیر خلک نغواړی د کور مخامخ يي هدیره واوسیږی! په همدی خاطر د کور بیه زما د توان البته د قرض د وسی د توان برابر وه او دا کور می واخیستی. البته د ذوالفقار په پیسو چې مثال ماته قرض راکړل او باید ادا کړم ورته، خو په هر حال خوشحاله وم چی که نور نه ویی یو کور لرم چی زما په نوم دی او هر کله چی وغواړم کولی شم بغیر د حیث شرم او ویری څخه خپل کورته راشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورته د داخلیدلو سره سم احساس می وکی چی چپ غوږ کی می بنګهاری او په زوره درد شروع شو لاس می خپل په غوږ کلک نیولی وه د څو دقیقو درد وروسته می احساس وکی چی یو ګرم شئ می په لاس کی راغله؟ کله چی لاس می وکتی ګورم د وینو څخه ډک دی حیران شوم چی دا سنګه چل وشو! ولاړم حمام ته خپل غوږ او لاسونه می پریول یو وړوکی پښته می خپل په غوږ کی ننباسل او دومره ډیر فکر می ونکی چی ولی داسی وشو؟ زه خپله یو سلو اتیا بدبختیانی لرم و دي موضوعي ته نور وخت نه لرم..!

ځانته می یو ناله په کوم کوټه کې چی ما ورنه د کور دهلیز جوړ کړی وو واچوی او سترګی می پټی کړل ترخو یو څو دقیقو لپاره آرام وکړم تر څو چې د ماښام آذانونه کوی! خو ډیر ژر خپل د معدی په آوازونو چی ویل یی یو شئ وخوره چی زه دی مړ کړم، د ارام کولو څخه مط ډډه وکړل لځایه پاسیدم د ماښام آذانونه وه ولاړ شوم چی وګورم څه کور کی شته چی ویخورم کنه؟ دوه دانی هګی وه خو ډوډی می نه درلود ژر می خپل بوټونه واغوندل او روان شوم ترخو هم جومات کې مونځ وکړم او هم ترخو چې نانوای بنده شوی نده یو څو ډوډی واخلم..

د مونځ کولو او ډوډی اخیستلو وروسته کله چی کورته بیرته راغلم نو د زبیر مسج می ولیدی چی ویلی وه ستا کورته در روان یم یو سم شی پوخ کړه مجبور شوم د هغه دوه هګی سره سلور رومی واچوم ترخو د دوه نفرو چاره وشی، زبیر ته می هم مسج وکړو چی راتلو وخت کی یو دوه ډوډی د نانوای څخه ځان لپاره واخلی. د زبیر تر راتلو پوری می یو څه کور منظم او پاک کړو د بې نظمه او ناپاک کور څخه می خدای کرکه کیدل، د کور د پاک کولو په حال کی وم چی سترګی می اوښکی شروع کړل هرسونه چي پاک کول می بیا هم اوښکی نه بندیدل..!

مجبور ولاړم او هینداره کی می ځانته وکتل سترګی می تکې سری شوی وه داسی وه لکه چی ژړلی می ویی..؟ اوښکی تراوسه روان وه سترګو می خارښت او سوځیدل هم شروع کړی وه دومره ډیر می سترګی پاک کړل چی د سترګو لاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوست می وشوریدی اول غوږ او اوس سترګی خدایه توبه دا نو څه مرض دی؟ لا د اوښکو پر پاکیدلو وم چی دروازه وټکیده د سمال په لاس د دروازی خواته لاړم ترڅو دروازه خلاصه کړم..

زبیر- سلام علیکم جناب طاها..!

- علیک سلام دروازه ځان سره بنده کړه.

زبیر- واخله دادی ګرم ډوډی.

د زبیر خبرو ته می پام نکوی او ژر ژر می خپل سترګی پاک کول کورته د ننوتلو سره زبیر وویل: ته ژاړی؟

- نه ژړا چیرته و بیعقله نه پوهیږم دا لس دقیقی کیږی چی سترګو می اوښکی شروع کړی هرسونه چی پاکوم نه بندیږی..

زبیر-دا غوږ کیدی پخته څه کوی؟

- غرمه هسی غوږ می وینه وکړل ما هم پخته پکی ننباسل.!

زبیر رانږدی شو زما د غوږ څخه یی پخته وباسل او زما غوږ ته یې په کتلو وویل: پخته په وینو ده خو کوم زخم دی په غوږ کی نشته..!( بیایی زما سترګو ته وکتل او ویی ویل: سترګی دی پټی کړه.( زبیر خپل د کمیس د لمنې څوکه خپله په خوله په اه ویلو ګرم کړل او زما د سترګو پر شا یی کیخود! کار یی چی هر سومره د عقل څخه لری و خو فایده یی وکړل او زما سترګو نور اوښکی ونکړل..!

- افرین البته زما باور نکیدی چې ستا دا کار به کومه فایده وکړی

زبیر- تا پرموږ څه ګمان کړی اینجانب داکتر زبیر خان احمدی...

زبیر زما کورته ډیر راتلو خو د شپی لخوا دومره نه پاتې کی دی، ځکه کورنی یی ماته د یو لوچک او لنډغر انسان په حیث کتل او نه یی غوښتل زبیر زما کورته راشی سو ځله ورور یی زما سره جنګ کړی وو چی نور د زبیر سره ونګرځی خو بیا هم نه زبیر خبره منل نه هم.. د ذوالفقار کور کې چی وم هیس مشکل نه وو خو همدا چی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې کور ونيو د زبير ټول کورنی راسره شاتې سوه، يو دم د هغوی نظر کې زه بد هلک معرفی شوم...

- کورنی دی څه ونه ويل چی دلته پاتې کيږې؟ نن ماښام؟
زبير- نه جنګ می وکړو کور کی دلته راغلم.
- ولی دی جنګ وکړو؟
زبير- زمری هسی بيځايه خبری کول ما هم ورسره جنګ وکړو، زما پلار هم خو ته پيژنی هميشه د زمری خوا نيسی ځکه پيسې ورته راوړي.. هی پيسې چې پلار او مور لا در باندی اخيستل کيږې هی...
- تخو خپل کورنی پيژنی چی دا سو وخته زما وينو ته تږې دی ستا په جنګ او دلته راتلو باندی نور هم ماته پرسيږي او فکر کوی چی ما ستا غوږونه در خلاص کړې چی داسی کارونه وکړي..!

زبير- که زما د کورنی څخه ويريږې او فکر کوی تاته مشکل جوړيږي زه زم.
زبير خپل د خبری سره سم له ځايه پاسيد چی ما يی ژر لاس ونيوی او ومې ويل: کينه خيرنه داسی بيا ورباندی بد هم لږيږي زما خبره... زه ستا د کورنی څخه نه ويريږم او نه هم راته مهم ده چی زما په اړه څه فکر کوی. که رښتيا ووايم حق ورکوم چی هغوی زما څخه بد راشی. ګ!
زبير- ولی مګه تا څه کړې؟
- دا افغانستان دی وروره دلته يو مجرد هلک په تنهای کور کی اوسيدل هغه هم پداسی حال کی چی خپل د ټول کورنی سره يی قطع رابطه کړې زر فکره انسان ته اچوی.

زبير- بد کوی هر څوک چی ستا پسې بيځايه فکر او خبری کوی، تا مګر څه کړې؟ خو د سهار څخه تر ماښامه ځی کار ته او ماښام راځی کور ته نه د کوم انجنی لار دی نيولی، او نه هم کوم بل غير اخلاقی کار دی کړې. نو بد کوی سوک چې ستا پسې داسې خبری کوی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا افغانستان دی نه خارج، دلته په نه خبره درباندی د کفر او ناپاکۍ ټاپه لګوی..
زبیر- اممم دا خو رښتیا وایی زموږ خلک بیحده بد زړه دی. همدا چی یو هلک تنها کور کی ووینی فکر کوی معتاد دی یا هم .......
- مرګ..

زبیر په خندا شو چې ما هم نور څه ونه ویل او ولاړم ترڅو ډوډی راوړم، د زبیر دا خاصیت ښه وو چی ژر یی خبری لیاده باسل او ژر بیرته خپل شوخ طبع اخلاقو ته راتلی، د ډوډی خوړلو وروسته زه لګیا وم آشپزخانه کې می هغه دوه قاب مینځل او چای مې دم کوی چې زبیر وویل:

زبیر- طاها ژر کوه راشه یو مقاله می پیدا کړی ارواح پوهنه..!
- خبر نه وم چی د هندو وانو غوندی روح منې! او فکر کوی چی سرګردانه او ورکه شوی روح وجود لری! پوهیږی دا ټول دروغ دی روح چی کله د انسان د جسم څخه بهر شې نور ددی دنیا څخه یې ارتباط قطع کیږی ...!
زبیر- فلسفه دی خلاصه شوه دا اروح پوهنه ده نه روح... روانشناسی درته یاده وم.!
- ښاااا زما پر غوږ روح راغله نور مې وا نه وریدل.
زبیر- بلاا
- هومم د کوم وخته ارواح پوهنه درته جالبه شوی..؟

زبیر- دلته راشه شابه.
ترموز او دوه پیاله چای مې راواخیست او د زبیر څنګ ته ورغلم.
زبیر- ګوره زه درنه یو سو پوښتنی کوم کله چی ته راته سم جواب راکړی نو زه درته وایم چی ته سنګه انسان یی؟
- غیب وای یا که فال نیسی؟
زبیر- توبه خدایه یواځی د ارواح پوهنی د علم په بنسټ ستا بعضی عادوتونه او خویونه درته وایم نه کوم بل شې...
- سمده ده پوښتنه وکړه زه تیار یم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- کوم یو درنه پوښتنه وکړم؟
- زه څه خبر یم؟
زبیر- ګوره دلته څو بخشه دی اول د روحی ناروغی په اړه دی او شل پوښتنی دی ته ټول ته جواب وایې او اخیر کی هغه درته وایې چې آیا ته کوم روحې ناروغی لری کنه؟
- نور څه دی؟ بغیر ددی روحی ناروغی څخه؟
زبیر- مثال شخصیت شناسی ده، ضریب هوشې ده، او خلاصه چې ډیر دی کوم یو ته غواړی درنه پوښتنه وکړم؟
- زه خو نه پوهیږمورباندی هر دانه چې ستا په نظر سم دی همغه پوښتنه وکړه.

د څو دقیقو وروسته زبیر په شیطانی خندا وویل: عه پیدا می کړو.. ګوره طاها هر پوښتنه چې کوم سم صحیح به جواب راکوی او ناز و نخری به نکوی کنه په لغته دی وهم..
په مشکوکه انداز می وروکتل او ومې ویل: خدای دی خیر پیښ کړی هسې ستا د خندا څخه زه ښه احساس نلرم..
زبیر په خندا وویل: تیار شه کلمه ملمه دی ووایه چې اول پوښتنه کوم.
- بسم الله کړه.

زبیر په شیطانی مسکا وویل: ددی آزموینې نوم دی آیا تاسو واده ته زړه شوی کنه؟

- ای بلا..
زبیر په همغه خندا شروع کړل- اول پوښتنه: کله چې یو کوچنې ماشوم د هغه د مور و پلار سره ګوری نو آیا آرمان کوی چې ای کاش ما هم داسې اولاد درلود؟
ددي څخه مخکې چې جواب ورکړم زبیر وویل: دروغ به نه وایې طاها..
- عه سمده رښتیا وایم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- جواب زه درته دری جوابه وایم ته یو دانه انتخاب کړه.
-سمده..

زبیر- 1هو آرمان مې کړی. 2 نه آرمان مې ندی کړی.3 کله ناکله آرمان کوم..
- دویم نمبر نه آرمان مې ندی کړی.
زبیر- کله چې یو تازه واده کړی جوړه مطلب خاوند او میرمن ګوری چې یو د بل سره خوشحال دی او خاندی نو آیا ته د واده آرمان کوی؟
1هو آرمان کوم. 2 نه آرمان نکوم.3 کله ناکله آرمان کوم..
- د دی جواب هم همغه دویم نمبر دی نه.
زبیر- آیا د پخوا پشان خپل د یواځې توب څخه خوند اخلې؟
1هو. 2 نه.3 کله ناکله.

- زما په نظر ددی دری جوابه تل همدا هو نه او کله ناکله دی؟
زبیر- ته هغه څه کوی جواب راکړه؟
- اول نمبر. هو
زبیر- کله چی خپل د متاهل ملګرو مینځ کې یاست نو آیا ارمان کوی چې ای کاش ما هم واده کړی وای؟
په خندا مې وویل: شکر متاهل ملګری نلرم کوم چې دی هغوی هم زما پشان مجرد خانان دی.. دویم نمبر نه...

زبیر په شیطنت وویل: اها دا جالب دی ګوره دی کې به دروغ نه وایې.
- داسې نکیږی ورشه قران کریم راوړه د هر جواب سره به لاس په قسم ایږدم چې ته باور وکړی!
زبیر- دا خو ډیره ښه خبره ده.
- بلا بلا
زبیر- خو بیا هم ګوره سم جواب راکړه.
- یو ځل بیا داسی ووایې نور بیخې جواب نه درکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- عه سمده خیرن پوښتنې ته غوږ شه، تراوسه د یو انجلۍ شتون او حضور تاسو نا آرامه کړی یاست؟

- که د نآرامه کولو څخه دی مطلب د عشق او عاشقۍ وی نو جواب می نه دی، او که مطلب دی پعذاب کیدل مطلب خلق تنګیږی وی نو هو زیاتر اوقات د انجونو شتون مې عصبی کوی.
زبیر- لیاقت نلری.. زه غوږ شه بل پوښتنی ته تراوسه دی فکر کړی چې نور مجردی بس ده او باید واده وکړم؟
- امهم رښتیا ووایم کله ناکله.
زبیر په شیطنت وویل: کوم وختو کې دا فکر کوی؟؟
- انسان شه بی ادبه..
زبیر- آیا تراوسه داسې شوی( زبیر خاموش شو بیا یی وویل: ددی جواب هم نه دی پوهیږم بهتره به وی ادامه پوښتنه وګورم.. اهمم ښا سه رکم سندری دی خوښیږی ارام که مست؟

- دا مست لفظ ډیر بد دی او زه سندری نه آورم..
زبیر-  بیخی؟؟ کله ناکله هم نه آوری؟
- کله ناکله چې آورم هغه هم زیاتره آرامه وی.
زبیر- امهم ښه تراوسه شوی چې د یو مغازی شاته و دریږی او زړه دی ووایې راځه یو چا ته ډالۍ واخله؟
- زه دومره بازرا ته نه ځم که لاړ هم شم دومره بیکار کیږم نه چې د مغازو شاته و دریږم چې سه شته او کنه؟
زبیر- ته سومره مسخره او بکواس شخصیت لری هسی د اوس څخه ماته جواب معلوم دی چې ته مجرد مړی کیږی خو خیر تر اخیره به لاړشو د آزموینې. تراوسه شوی چې د یو مخالف جنس خندا تاسو ته ښه ښکاره شوی ویې او تاسو وغواړی د خندا حال کې هغه کس ته وګوری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- امممم نه.

زبیر بد بد راوکتل او بیا یې وویل: کله چې پلار او مور دی ووایې نور دی د واده وخت را رسیدلی دی نو آیا زړه کې خوشحالیږی؟

- داسې خبره تراوسه ماته ادی بابا نده کړی.

زبیر- فکر وکړه داسی خبره درته وکړی خوشحالیږی؟

- هیسکله هم نه ځکه زه غواړم خپل راتلونکی د ژوند شریکه خپل و ټاکم نه مور و پلار می.

زبیر- البته که درته پیدا شول... اخیری پوښتنه... تراوسه مئین شوی یې؟

ددی څخه مخکې چې زه جواب ورکړم زبیر وویل: نه... خبر یم ته او عاشقی لری خبره ده.. ستا نمری 8 دی لیکلی تاسو تراوسه د واده لپاره چمتو نه یاست..!

زبیر پر ما خندل چې ما یې موبایل واخیست او ومې ویل: اوس زه درنه پوښتنه کوم او ته جواب راکړه.

زبیر- همدغه پوښتنه کوی؟

- نه د دی خوند لاړی یو بل نوی پوښتنه کوم.

بیحده زیات پوښتنې په بیلا بیلو موضاعتو کې وه، یو دانه یې هم ماته جالب نه ښکاره کیدی تر دی چې سترګې مې پر یو متن ولګیدل" آیا تاسو زیات خبری کوی که لږ" په شیطانی خندا مې همغه موضوع راوخیسته لس دانې پوښتنې وه زبیر ته مې موضوع ونه ویل او مستقیم لومړی پوښتنه مې وکړل، پوښتنه کیفیت لږ عجیبه وه دری جوابه پوښتنه وه ده باید یو دانه انتخاب کړی وایې..

- ښا نو پوښتنه داسې شروع کیږی...زه

1: زه هیسکله لځان سره خبری نکوم( مطلب ځینې کسانو عادت وی ځان سره خبری کوی)

2: زه زیاتر اوقات ځان سره خبری کوم.

3: د ځان سره په خبرو کولو عادت نه یم خو کله ناکله د ځان سره خبری کوم.!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- ډیر نمک حرام یې( په خندا مې ورکتل چې هغه په تروش تندی وویل: ته خپله هم پوهیږې چې زه زیاتر اوقات ځان سره خبرې کوم.

- امهمم دویم پوښتنه. فکر وکړې یو صمیمی ملګری مو خپل د تیر شوی چکر او تفریح په اړه تاسو ته خاطره تعریف کوی تاسو څه کار کوی؟

1: کوښښ کوی داسې الفاظ ووایست چې هغه نور چوپ شی؟
2: د هغه د څنډ او چوپ کیدو څخه فایده اخلې او خپل د چکر او تفریح ته دتلو خاطره بیان کوی؟
3: یا هم په خاموشی کې د هغه خبرو ته غوږ نیسې ..!

زبیر- امهم فرق لری کله ناکله چې مقابل نفر مې په زړه نه ویې نو کوښښ کوم داسې الفاظ ووایم چې نور خوله بنده کړي، کنه زیاتر اوقات په خاموشی کې ورته غوږ نیسم.

- امهم دریم پوښتنه. د دی کارونو څخه یو دانه انتخاب کړه.
1: کمدین.
2: یو سیاست مداره شخصیت.
3: د فلمونو اکټر.
زبیر- دریم که ونشو اول.
- نه یو دانه انتخاب کړه.
زبیر- امهم اکټر.

- امهمم څلورم پوښتنه. کله چې د کورنې سره ډوډی خوری نو....
1: په خاموشې کې ډوډی خوری؟
2: یا د ډوډی خوړلو په جریان کې هر نوی خبره او موضوع چې ستا په نظر جالب وې بیان کوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

3: یا هم غوږ نیسې ترڅو هر چا چې بو خبره وکړل ته هم پکې یو نظر ورکړې؟
زبیر- دریم.

- پنځم پوښتنه. د ملګرو مجلس کې ته زیاتر اوقات ....
1: تماشاچې یې او خبرې نکوی..
2: لنډ وقت کې درې منه ټوکې او قیصې کوې.
3: تل د خبرو حال کې او نور درته غوږ نیولې.
زبیر- دویم..
- که دا دی انتخاب کړې نه وایې یو جانانه لغت مط تا دروغجن ته درکول.. ښاا شپږم پوښتنه.. فکر وکړه غواړې یو شعر ووایې کوم یو کار کوې؟

1: په شاعرانه انداز غواړې هغه شعر ووایې؟
2: ډیر تیز یې وایې لکه کوم اخبار چې وی؟
3: د شاعر تقلید کوی او داسی هغه شعر وایې لکه تا چې هغه شعر لیکلی دی؟
زبیر- دریم..

- اوم پوښتنه.. فکر وکړه ښونکې ستا څخه غواړې چې د تختی مخکې لاړشی او پر تخته باندی لیکل شوی پوښتنې حل کړې..

1: هغه پوښتنې چې جواب مو نزده هغه تا لا جواب لیکلی او هسی نه پریږدی.
2: ټولو ته ډیر ژر جواب لیکی خو بی معنا جواب..
3: ویریږې او ټول درس مو لیاده وځې.
زبیر- اول و دویم زیاتر اول.
په خندا مې وروکتل چې هغه هم وخندل: ښا اتم پښتنه.
زبیر- دا څو پوښتنې دی؟
- خلاص شول لس دانې دی.
زبیر- زه ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اتم پوښتنه. په ټولګې کې زیاتر اوقات کوم ځای کې کینې؟
1: هغه ځای چې د استاد نظر راباندی ونه لګیږی.
2: د صنف مینځ اوسیږی تر سو په راحت خیال د ملګرو سره خبری وکړی.
3: اول چوکی کینې تر سو د استاذ په نظر راشې..
- ددی جواب ښکاره دی دویم..
زبیر په خندا وویل: افرین ټنبلان یو بل پیژنی.
- بلا.. نهمه بوښتنه.. ایا زبه مو بنده بنده کیږی؟
1: هو کله ناکله.
2: نه هیسکله نه.
3: هو زیاتر اوقات داسی کیږم.

زبیر- زما ژبه یو ځل بنده شوی وه هغه هم د زیات ویری څخه.
د زبیر په خبره د خندا څخه شین شوم چې هغه یو لغته راکړل او په تروش تندی وویل: هغه ورځ مې زاره وچودل په عمر کې مې د لومړی ځل لپاره د زیات ډار او ویری څخه مې ژبه بنده شوه.( په خندا مې د زبیر خوا ته کتل زموږ دویم سمسټر د حساب امتحان وو او ټول صنف امتحان داسې خراب ورکړی وو چې حد نه درلود، یو تولګې وال مو وویل چې استاد د امتحان ورقې د مدیر په میز کیخودلی او ټول استاذان نه پوهیږم چیرته تللې او اداره خالې ده..!

موږ هم زبیر ته یو څه باټ ورکړو او وامو ستوی چې د اداری څخه د امتحان ورقې پټ کړی خو د بد شانس همغه وخت کې استاذ ورباندی برابر شوی وو ...
- ښه جواب وایه نیمه شپه دی کړل.
زبیر- بغیر د هغه یو ځل څخه نور هیسکله.

- امم اخری پوښتنه.. غواړې خپل د کار څنګ کې کوم یو دا کار هم وکړی؟
1: نقاشی شې.
2: کمیډین شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

3: آواز خوان شی.
زبیر- رسامی مې هم خوښېږی خو فکر کوم کمیدېن برخه کې به زیات بریالې شم..
په خندا مې وویل: وه وه یو دم هغه سلیم شاهین جوړېږی..

زبیر په خندا باندی زه وهلم چې ما د آزموینې نتیجه او پایله راوخیسته.

- امم ستا نمری دی 10 لیکلی ته یو اجتماعې او شوخ طبع مزاج لرونکې انسان یې.!
زبیر- دا خو یم شک مه کوه.
- دا ټول اپلاتی دی.
زبیر په خندا وویل: ولې زور درکوی بخیل زما د تعریف آوریدلو توان نلری.؟!
موبایل مې د هغه خوا ته واچوی او ومې ویل: هسې دا بیځایه خبری دی دومره دا بیځایه مقالې مه وایه لیونی کوی دی.
زبیر- دا پوهیږی سومره مشهوره مقاله ده دا سومره ډیر نفرانو مطالعه کړی او ټولو ورته مثبت رای ورکړی.
- خو زه وایم په دوه روپو هم نه ارزی، هسی بیځایه خبری لیکلی او د مقالې په سر لیکلې د " ارواپوهنی اړوند آزموینه"

ساعت دولس بجی د شپی وو چی د ویده کیدلو ارده مو وکړل د عادت مطابق د کوټی په یو کونج کی پریوتم، زبیر هم خپل ځای زما څخه یو سه لری د کوټی په بل کونج کی واچوی برق مو خاموش کړو، د کړکی پرده پورته وه او د سپوږمی رڼا د کوټی مینځ ته راغلی وه او کوټه یی رڼا کړی وه، کله ناکله د سپې غړونه راتلل، زما د کور بدی همغه د کور شاته قبرستان وو، یو خو خپله هدیره ویره او وحشت لری او بل دا چي همیشه به دشپی لخوا د هدیری په شاوخوا سپې راټول کیدل او داسې حال به یې جوړه وی چې انسان به یې خوب ته نه پریخودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرمې څخه سترې وم خو نه پوهېږم ولې خوب نه راتلې؟! هسې ځای کې اړخ په اړخ اوړېدم د زبیر د منظم ساه اخیستلو څخه معلومیدل چی کرار ویده شوی. زما په نظر زبیر ډیر نا شکره دی؟ ځکه هغه یو کورنی درلود مور، پلار، ورونه،خویندی داسې کورنې چې د زبیر په تروش تندی لا خوا بدیدل او پوښتنه یې کول چې ولې خفه یې؟ پداسې حال کې چې زما کورنی ته زما مرګ او ژوند لا مهم نه وو؟ بیا هم زبیر خپل د کورنی سره په جنګ وو!

په همدی فکرونو کې خوب راباندی غالبه شوی وو او ویده شوی وم، د سو نفرو د لمانځه په آوازنو راویښ شوم! سترګی می چی خلاص کړل د کوټې په مینځ کی د همغه سپوږمی په رڼا کی لس دولس نفره چې سپین کالې اغوستې وه په لمانځه ولاړ وه! سو دقې مې هغوې ته وکتل یو نفر یې مخکې ولاړ وو؟ لکه چې امام وی او دا نور مقتدیان! پوی شوم چې پیریان دی خو عجیبه وه و نه ډارشوم! همغسې د هغوی خوا ته مې کتل او غوښتل مې د هغوی خوا ته لاړشم چې یو نفر د اوږی څخه ونیولم او ځان طرف ته یې راکش کړم مخ مې چې را وګرځه ویې شمویل وو..!

شمویل- هلته مه ځه پاسیږه مونځ وکړه.
هغه لس دولس نفرو چې مونځ کو هغه خوا ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: دا کسان ته پیژنی؟
شمویل- ګوره طاها هر مسلمان پیری ستا دوست ندی او هر کافر پیری هم نغواړی تا ووژنی، کله ناکله مسلمان پیریان د کافرانو څخه زیات ظالمان وی، کوښښ وکړه خپل ځان د ټول څخه وساتی..
- ستا څخه هم؟ ته هم پیری یې خو..!
شمویل- زه تا ته هیسکله تکلیف نه در رسه وم، خو هو زما څخه هم ځان وساته.
- نو دا ولې راغلې زما کور کې مونځ کوی؟

شمویل- هغوی تل همدلته وه، هغوی دلته ژوند کوی، دا کور د هغوی دی..
- یعنی زه د هغوی کور ته راغلی یم؟ خو ما دا کور اخیستی! یعنی دوی غواړی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل د کور څخه وشړې؟
شمویل- نه هغوی هیسکله دا کار نکوی، هغوی د انسانانو سره کار نلری، هغوی دلته د کلونو راهیس د انسانانو سره یوځای ژوند کوی تر سو چې ورته کوم تکلیف ونه رسه ویې هغوی درسره کار نلری..
- ښا نو که زما سره کوم مشکل نلری نو ولی اجازه نه راکوی چې د هغوی سره مونځ وکړم؟

شمویل- ته ډیر ساده یې ماشوم.. هغوی پیریان دی او ته انسان..! ته نباید هغوی ووینې..!
- پوی نشوم... څه مطلب؟
شمویل د ژبی لاندی کرار ځان سره وویل: دا ولې دومره بیعقل او ساده دې؟
- څه؟
شمویل- ګوره د انسانانو او پیریانو مینځ کې خدای څه ایخودلې؟
- یو پرده او فاصله.. لکه باډر.
شمویل- افرین فکر وکړه دغه هغه پرده ده (شمویل خپل دواړه لاسونه زما مخ ته ونیول او د یو لاس په ښکته کیدلو یې وویل: دوه پردی وه چې یو دانه یې لری شوی ستا لپاره او ته زموږ نړۍ ته لږ را داخل شوی یې نو ځکه کله ناکله پیریان ګوری پداسې حال کې چی هغوی فکر کوی ته هغوی نه ګوری..!

په ګنګس انداز مې وروکتل اوس هم سم پوی نشوم، زما د نظر په لیدو هغه په خاموش نظر راوکتل او ویې ویل: پوی نشوی کنه؟
بیا مې هم یواځې مې وروکتل چې هغه وویل: تنها زما دا خبره یاد کې وساته که کوم پیری دی ولیدی چې تاته کوم تکلیف او نقصان نه در رسه وی او لګیا دی خپل کار کوی نو ته خپل ځان ناګاره واچوه داسې لکه چې هغه نه وینې.. اوس هم پاسیږه مونځ وکړه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمویل په اخیری لفظ د خوب پاسیدم د مولا آذنونه وه، د کوټې مینځ ته مې وکتل هیس سوک نه وه! یو سه و ډار شوم د شمویل په خبرو یعنی دلته زما کور کې زما سره پیریان ژوند کوی؟ پدی فکر په ویره باندی مې شاوخوا وکتل لځایه پاسیدم په زبیر مې د لمانځه لپاره غږ وکړو او خپل هم اودس و مونځ مې وکړو او بیرته د ویده کیدلو لپاره خپل ځای ته راغلم او دومره ژر ویده شوی وم چې فکر مې نشو زبیر د لمانځه لپاره پاسیدی او کنه؟

سهار د موبایل په آواز راویښ شوم د خوب حالت کی مې موبایل پیدا کړو او جواب می ورکړو..

-الو ..
ذوالفقار- بلای الو چیرته یې چې دا دری ساعت زنگ وهم جواب نه راکوی؟ ما درته پرون و نه ویل چې سبا بیا تاسو دواړه ژر شرکت ته راشه چې دا پاتې دواګانې هم ځای پر ځای کړو؟ چیرته دی هغه بل ټنبل؟

د ذوالفقار په غوسه ناکه غږ خوب مې یو دم وپریدی په ځای کی کیناستم خپل د سترګو د مښلو حال کې مي ذوالفقار ته وویل: اوس پنځه دقیقو کې درځو..

موبایل مې بند کړو او زبیر مې غوښتی د خوب راویښ کړم چې ګورم خپل ځای کې نه وو! شاوخوا مې ورپسی وکتل لځایه پاسیدم چې زبیر د کوټې څخه راووت زما پر لیدو یې وویل: راویښ شوی؟
- هو ته کله ویښ شوی؟
زبیر سو ثانی په خاموش نظر راوکتل او بیایې کرار وویل: یو خبره کوم خو و نه ویریږی.
- څه شوی؟
زبیر- هسی اوس خو ته خپله هم ماشالله مولا یې او ددی خبرو څخه نه ویریږی، ستا د کوټې په غږونو راویښ شوم...!
په ویری او وحشت مې وویل: څنګه آوازونه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- هسی د قدم وهلو! اول مې فکر وکړو چې شاید ته اوسیږی خو کله چې مې ته دلته ویده ولیدی نو لړ شکمن شوم او کوټې ته ولاړم..

په تلوار مې وویل: کوم څه دی ولیدل سوک وه؟
زبیر- هیس سوک نه وه..! البته که خفه کیږی نه نو باید ووایم پیریان موږ نشو لیدلی ..
کرار مې ځان سره په ویره وویل: خو زه یې لیدلی شم..
زبیر- څه دی وویل؟؟
- هیس ...

لاس او مخ مې ومینځې او د زبیر سره یو ځای د شرکت خوا ته روان شو، خو فکر مې تراوسه د زبیر خبرو کې وو، ما خو د کور شاوخوا نثار کړی وه بیا سنګه زبیر داسی غږ آوریدلی؟ یعنی هغه تعویذونه باطل شوی کوم چې ما خپل کور ورباندی نثار کړی وو؟ خو چا باطل کړی؟ او ولې شمویل وویل هغه پیریانو دلته د پخوا څخه ژوند کوی! نو مطلب د انسانو سره کوم کار نلری خو دا چې وویل زه هغوی لیدی شم پداسې حال کې چې هغوی فکر کوی زه هغوی نشم لیدلی؟ ددي خبری په معنا پوه نشوم! پدی مینځ کې یو بل خبری هم زما فکر ځان طرف ته کړی وو او هغه دا چې ولې شمویل تل ما ته په خوب کې راځی او خبری کوی؟ ولې هیسکله ما ته په ویښه نه راځي؟ دا ځل مې چې ولیدلی باید ضرور ورنه دا پوښتنی وکړم...

شرکت ته ورسیدو موټرسایکل مې و دره ویې او دواړه جوړ شرکت ته داخل شو، د ذوالفقار اطاق ته د داخلیدو سره سم دواړه خپل پر ځای و دریدو، زبیر کرار وویل: هغه یو متل دی طاها وایې شیطان یې یاد کړی شیطان حاضر شو..!
ذوالفقار زموږ دواړو په لیدو هغه ناست کس ته چې ما یواځې اول میاشت یو ځل په شرکت کې لیدلی و او ذوالفقار راته د شرکت د شریکانو څخه معرفی کړی وو، موږ معرفې کړو موږ دواړو هم ورسره سترې مشی وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار تندی تروش وو داسې لکه چې د يو موضوع څخه خفه ويې؟! ما او زبير دواړو د سلطان خيل سره سترې مشې وکړل او غوښتل مو چې کينو چې زبير راته اوړه چونګار کړل په تروش تندی مې وروکتل چې هغه د سر په اشاره يو خوا ته اشاره وکړل! د زبير نظر مې تعقيب کړو او تازه مې سترګې د کوټې په اخری کونج کې په کوچ ناسته په يو انجلې ولګيدی...!

سلطان خيل- ښه نو ذوالفقار جان موږ به نور لاړشو ان شاءالله سر له سبا به امينه لورکې می دلته راځې او ته يا هم ددی دواړو ځوانانو څخه يو نفر به ورته د کار اصول و رزده کوی..
ذوالفقار هم لځايه پاسيدی او په تروش تندی پداسې حال کې چې سلطان خيل ته يې لاس ورکوی ويې ويل: و به ګورو هر څه چې د خدای رضا وه..
سلطان خيل- امين بس خدای دی خير کړی نور نو په اجازه مو موږ لاړشو.
ذوالفقار- يو پياله چای به مو راسره څکلې وايې.
سلطان خيل- ان شاءالله يو بل وخت..

سلطان خيل او هغه انجلی دواړه د دفتر څخه ووتل د هغوی په تلو ذوالفقار په غوسه زموږ دواړو خوا ته راوکتل او ويې ويل: تاسو دواړه کوم هديره کې واست؟ وليمو  دومر مو ناوخته کړل؟
زبير- هغه انجلې سوک وه؟ دا سلطان خيل څه ويل؟ د کار اصول او راتلل سر له سبا سوک راځی؟
ذوالفقار په بې حوصله توګه ځان په کوچ واچوی او ويې ويل: دا چې ما تاسو دواړه بغير لدی چې هغړی ته خبر ورکړم په کار کې ونيولې دا سلطان خيل ته يې زور ورکړی اوس تللی دا انجلی خدای خبر دده څه کيړی چې راوړی وايې دا هم کار کې ونيسه!

- تا ورته څه وويل؟
ذوالفقار- څه مې ويلې وايې؟ دا سلطان خيل په شريکانو کې د ټولو څخه زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

بودیجه لری نشم کولی ورته نه ووایم.
زبیر- یعنې هغه انجلی سبا راځی دفتر ته؟
ذوالفقار- هو.
زبیر- زه درته یو مشوره درکوم داسې چې نه غوښه وسوځی او نه هم سیخ!
ذوالفقار- مطلب؟؟؟
زبیر- زموږ کار هغه انجلی ته هم ورکړه ..!
- تا بیا اپلاتی وویل!

زبیر- عه ته چوپ کینه زه د ذوالفقار سره خبری کوم.. ګوره ذوالفقار داسې نکیږی چې هر نفر دی خپل پر خوښه خپل ورور، خور شرکت ته راوړی هسی د شرکت څخه بیا فامیلې رستورانت جوړ کیږی..

ذوالفقار- نو ستا په نظر څه وکړم؟ ورته ووایم ستا راوړی نفر ته زه کار نه ورکوم؟ هغه به ونه وایې چې تا نو بیا ولې خپل د خپلوانو دوه نفره په شرکت کې نیولې؟
- که مشکل زموږ په سر دی زه خو سر تر سبا نور نه راځم...
ذوالفقار په غوسه راوکتل او ویې ویل: غول مخوره ما ته یاد نکړی، دا سلطان خیل د اول څخه هم هسی د بهانی پسی وو اوس هم دغه بهانه یې لاس ته ورغلې اوس پعذاب کول کوی..

زبیر- زما خبری ته غوږ نیسې او کنه؟
- څه وایې؟
زبیر- ګوره ذوالفقار سلطان خیل ته ووایه چې انجلی راوستوی کله چې راغله ته هم ورته ووایه چې زموږ د کار اصول داسې دی چې یو هفته به سروی کوی ...
ما او ذوالفقار دواړو په حیرت وروکتل...
ذوالفقار- څه ورته ووایم؟
زبیر- ورته ووایه یو هفته سروی وکړه.. ستا په نظر یو انجلی کولې شی په موټرسایکل کینې او شل دواخانو ته دوا ویسې او ده زر سرپیانو سره خوله پر خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

شې...؟ نشې کولی کنه کله چې وګوري دا کار دهغې د وسی ندی خپله ځې ضرورت نشته ته کوم کار وکړی...

ما او ذوالفقار څو دقیقی په حیرت د زبیر خوا ته وکتل د څو دقیقو وروسته ذوالفقار په غوسه باندی د کوچ کوچنی بالښت د زبیر پسی ګزار کړو او ویې ویل: ستا په نظر زه بیغرت راځم؟ چې د خلکو خور او مور دواخانه په دواخانه د زر دانو بې ناموس او قران وهلو سرېانو مینځ کې د سروی پسی واستوم...! دا که خدای نکرده یو دانه یې ورته لاس واچوی یا کومه خبره ورته وکړی سبا ورځ یې بد نامې ما ته پاتې کیږی چې ذوالفقار یو پیغله انجلې د سروی پسی دواخانه په دواخانه د زر سرېانو مینځ کې استول..

زه د ذوالفقار د خبری سره یو دم موافق وم، زبیر هم لکه چې خپل د خبری دی ځای ته فکر نه وو کړی چې خاموش شو، تر غرمه مو هغه پاتی دواګانې ځای پر ځای کړل، د غرمې د آذان په آوریدو مو کار بند کړو او زه د تشناب خوا ته روان شوم تر څو اودس وکړم او لاړشم د شرکت څنګ جومات ته د لمانځه لپاره..

اودس مې خلاصه کړی و او غوښتل مې د تشناب څخه ووځم، چې پوزی مې په وینو شول! لکه چې ګرمې خپل تاثیر کړی وو هر سو نه چې اوبه مې اچول بیا هم وینه یې نه بندیدل، ځان سره مې وویل دباندی لاړشه او پوزه کې پخته کیږده داسې اوبو اچولو باندی وینه بنده نه راځی. خو د تشناب دروازه نه خلاصیده! داسی لکه یو چا چی د بهر څخه نیولی ویی تر سو زه یی خلاصه نکړم. اول فکر مې چې ذهن ته راغې دا وو چې شاید زبیر راسره ټوکی کوی! په همدی خاطر می ورته ناری کړل.

- زبیر دا خرکی ټوکی دی پریږده خلاصه کړه دروازه.
د زبیر غږ می د دروازه څخه ډیر لری واوریدی چې ویې ویل: څه اپلاتی لګیا یی؟ ما دروازه نده نیولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زبیر د خبری سر سم دا ځل غږ می ورنه نږدی د دروازی شاته واوریدی: سم وګوره تا خو له هغه خوا څخه بنده کړی نده؟
- نه ما نده بنده کړی.
زبیر- دا خرابی دروازی دی کله ناکله بندیږی، لږ صبر وکړه اوس یی خلاصه وم.
- ژر کوه.
زبیر- څه تلوار لری؟

- اخ پوزه می په وینو شوی او وینه یی هیس نه بندیږی.
زبیر یو څه ورختا شو او ویی ویل: ولی دی پوزه په وینو شوی؟ په یخو اوبو باندی یو سه خپل پوزه ووینځه شاید وینه یی بنده شی، نه پوهیږم دا لعنتی دروازه ولی دومر کلکه بنده شوی؟

د پوزی وینه می نه بندیده او له بلخوا ما احساس کوی شیبه په شیبه د حمام فضا درنه کیږی، داسی چی نفس می نشو اخیستی.
زبیر- دا څنګه لعنتی دروازه ده ولی نه خلاصیږی؟

پوی شوم چې سنګه چل دی؟په ویری او وحشت مې د تشناب شاوخوا وکتل خو ماته هیس کوم مشکوکه شئ تر سترګو نشو، اولې سورت مې چې ذهن ته راغې د هغه ویل مې شروع کړل، شاید یو یا هم دوه ایت د سورت مې ویلې وه که نه وه چې د تشناب دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار و زبیر دواړه په تلوار تشناب ته راننوتل خپل پوزی ته مې لاس ووهې وینه راتلل یې بند شوی و..

ذولفقار په مشکوکه انداز شاوخوا وکتل بیا یې ماته راوکتل او ویې ویل: ښه یې؟
د پوزی وینځلو حال کې می وویل: ښه یم... هې مجبور له سره اودس وکړم جماعت هم رانه قضا شوه...(خپل پدی لفظ مې ناساپه د ضیالحق صیب خبره یاد ته راغلل، په پنځم درس د کافر پیریانو پعذابه ولو کې هغه راته دغه خبره کړی وه! زه سومره بیعقل یم ولې مې لیاده وتې وه؟ هغه ویلې وه چې کله ناکله کافر پیریان ددی لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تا د مونځ او عبادت څخه منع کړی نو داسې کارونه او مضریت کوی! او نن هغوی زما سره همدغه چل وکړو، ولې مې اول ورته فکر نشو؟

زبیر- ښه یې طاهٔ؟
- هو ښه یم تاسو ځې زه اودس تازه کړم درځم..
دواړه د تشناب دروازی خوا ته روان شوه او ما تازه د ذوالفقار لاس کې د تشناب د دروازی لاستې ولید! د دروازی لاسته یې مات کړی و؟! دواړه د تشناب څخه ووتل د اودس تازه کولو وروسته مې ځان سره اراده وکړل چې نن به یو ځل خامخا د ضیالحق صیب دیدن ته ځم! ما د هغه ډیر خبری لیاده وتی وه، مجبور یو ځل بیا ورته ووایم چې راته تکرار یې کړی، او خپل د کور لپاره ورنه یو تعویذ هم واخلم، او د شمویل د خبرو په اړه هم ورنه پوښتنه وکړم چې څه معنا لری؟

مونځ مې په دفتر کې وکړو او همدلته په کوچ کیناستم زبیر ته یو چا زنګ ووهې او هغه هم د ذوالفقار څخه د یو مهم کار لرم په ویلو اجازه واخیسته او ولاړی، ما هم غوښتل ورنه اجازه واخلم او د ضیالحق صیب دیدن ته ورشم نو ځکه مې ذوالفقار خواته چې ماته مخامخ په چوکی تکیه وهلی وه، او خپل موبایل کی لګیا وو. وکتل هیځکله می دومره ورته پام نه وو شوی! یو تور تنګ کمیس او غټ ګیبی پرتوګ یی اغوستی وو په هغه کمیس کی باډی له ورایه ښکاره کیده، ویښتیان یی په ډیر ښایسته توګه پورته کړی وه. او یو ډیر ښکلی ساعت یی په لاس وو. همداسی په زبر او زیر می ورته کتل.

ذوالفقار- باور وکړه اغلی پیری که اوس دده بدبخته په بدن کی ناسته یې او ماته راګوری نو درته وایم، زه دده پشان نه یم زما خوا ته راشی هډوکی درمات کوم.
د ذوالفقار په خبره می خندا راغلل هغه فکر کړی وو پر ما پیری راغلی او هسی ورته ګورم  په خندا می وویل: ذوالفقار پیریان هډوکی نلری.
ذوالفقار- ته خو یی لری؟
- زما د هډوکو سره څه کار لری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- په تا باندی مئینه ده که تا ووهم شاید هغی ته هم درد ورسیږی؟
- تا بیخی د لیلی مجنون عشق او عاشقی ورڅخه جوړه نکړل؟ او هو هغه بیچاره
ګې ډیر وخت کیږی نور زما سره کوم کار نلری...

ذوالفقار- نو ولې دې داسې په زبر او زیر ماته راکتل؟
- هسې ستا باډی او سټیل ته مې کتل، ماشالله ډیر ښایسته معلومیږی که انجلې
وایې ستا سره مې واده کوی ذوالفقار..
زما په خبره ذوالفقار په لوړ غږ وخندل خپل موبایل یې جیب ته کړو او ماته په کتلو
یې وویل: هو هو ما هم ستا سره واده کوی...
- نه بغیر د ټوکو څخه باډی دی ډیره ښه جوړه کړی، زه هم باید لږ لږ ورزش شروع
کړم دا رقم بیخی معتاد معلومیږم، ربښتیا ته سو ساعت جیم کې ورزش کوی؟

ذوالفقار- امم زما پر خیال 3 ساعت..
- اووو دومره زیات دومره که زه ورزش وکړم مړ کیږم..
ذوالفقار- هیس مرګ هم درباندی نه کیږی، تیار شه یو ساعت وروسته ځو.
- ها! چیرته؟
ذوالفقار- د ذوالک... ستا د پلار یو ملګری میلمستیا کړی او ټولو ته یی بلنه ورکړی.
- د بابا ملګری زه دعوت کړی یم؟
- یواځی تاته یی میلمستیا نده کړی زموږ ټول کورنی ته یی کړی. څو ځله کیږی چی
میلمستیا کوی او ته نه یی، نن دی ادی ویل که په رضا نکیده په زوره دی راوړم.
- لیونی دی؟
ذوالفقار- څوک ستا ادی؟

- بیځایه خبری مه کوه، بابا او د هغه ملګری یادوم، موږ دوه ورځی مخکې لاړو هلته
مو یو جنګ جهانې وکړو او نن بیا بابا غواړی د هغه د ملګری کورته لاړشو؟ او هو
ولی ادی بیا غواړی چی ما ضرور هلته یوسی؟؟( زه و دی مشکوک کارونو ته هیس
ښه احساس نلرم او هغه کسانو ته خو بیخی ښه احساس نلرم چی زما د ملاقات په

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرمان ویی. څکه داسی کسان همیشه ماته غذب جوړه ویی. ذوالفقار زما د خبری مطلب باندی پوی شو چې په خندا یی وویل:

ذوالفقار- بیغمه واوسیږه ستا سره کوم کار نلری.
- بیا ولی غواړی ما ووینی؟ او ولی ادی تاته دومره ټینګار کړی چی ما حتما ویسی؟
ذوالفقار- تر کوم ځای ښخه چی زه خبر شوم او معلومات می واخیستل، ستا ورور طاهر ددی سرې په لور اهوم ..... شوی...!
په حیرانتیا می وویل: طاهر مئین شوی؟
ذوالفقار په ریشخند وویل: مئین نه ووایه لیونی شوی.

- نو ولی دا بیځایه میلمستیاوی کوی ډاریک ورشی مرکی ته؟
ذوالفقار- د انجلی کورنی غوښتل د دسمال ورکولو مخکی یو څو ځله د هلک د کورنی او خپلوانو سره ورشه درشه وکړی ترڅو وپیژنی او بیا دسمال ورکړی.
-واو دنیا څومره پیشرفت کړی!؟
ذوالفقار په خندا وویل: ته شاته پاته یی. زما په خیال د انجلی کورنی راضی شوی او نن موږ ځو چی دسمال راوړو.
- مبارک دی ویی.

خفه وم پدی چی زما د ورور دسمال راوړی او زه خبر نه وم! حتا یو چا زه انسان لا نه وم حساب کړی تر سو ماته خبر راکړی. اوس هم پوهیږم ادی ټولو ته زاری کړی او هغوی هم د خلکو د شرمه او د مجبوری ښخه ذوالفقار ته خبر ورکړی تر سو ما د ځان سره ویسی. د مثال په توګه د زوم یواځنی ورور یم ...! پدی خبری یو پوسخند می ووهی د زوم ورور....!

ذوالفقار- اوس راځی کنه؟
- هو راځم... په طعنه می وویل: زه د زوم ورور یم اخیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذوالفقار خبرو او د طاهر مئين کيدل دومره حيران کړی وم چې ضيالحق صيب ته تلل مې بيخی لياده ووتل، د ذوالفقار په موټر کی اول تلو د بابا د کور طرف ته ځکه بابا فرمايش کړی وو چې اول دی هلته ورشو بيا د هغوی سره يو ځای د طاهر د خسر د کور په طرف روان کيدو. ذوالفقار خوشحاله معلوميدی او دا چې د هغه جنګ وروسته په دومره آسانی او ورين تندی د بابا خبره منلې وه يو سه حيران وم!

- ذوالفقار..!

ذوالفقار- امم؟

- ته لدی چې بيا د فريد سره مخامخ شې د هغه جنګ وروسته خوشحاله يی؟؟

ذوالفقار د موټروانې حال کې يو نيم نظر را واچوی او ويې ويل: ما د هغه سره جنګ ندی کړی زه هغه د جنګ لايق نه حسابه وم، هغه اپلاتی وويل ما هم ادب کې بس ..او خوشحال پدی يم چې بابا دی زما خبره ومنل په همدی خاطر خو روان يم دی دسمال راوړو ته کنه قدم لا نه تلم..

- کومه خبره؟

ذوالفقار- بابا دی غوښتل حسنا طاهر ته موخې"بدل" کړی، خو زما دا خبره نه وه خوښه.

- ولی؟

ذوالفقار- ما يو دوه ځله هغه هلک وليدی کوم چې حسنا يې ورته غوښتی وه يو څه ليون حالې ماته ښکاره شو!

- يعنی بابا ورته فکر نه وو شوی چې هلک لږ بې رقم دی؟

ذوالفقار- الله اعلم نه پوهيږم سه ووايم بس شکر چی پلار دی زما خبره ومنل.

- اهومم شکر...

د ذوالفقار خبرو ته فکرمند شوم، يعنی ذوالفقار په يو دوه ملاقاتو پوی شو هغه هلک لږ بې رقم شانتی دی، هغه وخت بابا ولې پوی نشو؟ پداسی حال کې چی د ذوالفقار څخه يې زيات هغه هلک ليدلی؟ داسی نه چی بابا له قصده غوښت هغه ليونی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسنا ورکړی؟؟ پدی فکر باندی مې لعنت په شیطان وویل بابا چې هرسومره ظالم وی تر دی حده نو ندی ظالم...!

د نیم ساعت وروسته د بابا کورته ورسیدو ما هیس زړه نغوښتل چی کورته ننوځم او د بشریت په تاریخ کی لومړی ځل زما یو آرمان پوره شو او د موټر د ښکته کیدو مخکی ادی، بابا، طاهر او ټول کورنی د کور څخه راووتل ادی د موټر په طرف راغله او زه هم ښکته شوم ترخو سترې مشی ورسره وکړم ادی د تل پشان زما د سر ویښته ښکل کړل او سترګی د اوښکو ډکی شوی زما په خیال د خوشحالی ژړا وه؟ اخیر مشر زوی یې زوم کیږی!؟

ادی - د خدای غوارم تر هغه مرګ رانکړی چی ستا واده او بچیان وګورم.
په خندا می وویل: که داسی خبره ده نو بیا څه بیخی واده نکوم. تر سو تاسو تل له خدایه خپل د ژوند دعا وغواړی..
ادی په خندا شوه او ویې ویل: ډیر ځان ګرانه وه مه ترسو چی د طاهر واده شوی نه وی ستا د واده خبری نشته.
په خندا می وویل: مه کوه ادی زه سومره خوشحاله وم چی طاهر د مېی لری شو او اوس زما نمبر راځی.
ادی په خندا شوه خو د بابا تروش تندی نور د خبرو اجازه رانکړل.

ذوالقرنین کاکا- ښځی دی د فرید په موټر کی لاړشی او موږ نارینه به د ذوالفقار موټر کی..
ذوالفقار- دری موټرانو کی ستا په نظر دا دومره ښځی سرېیان ماشومان ځای کیږی؟
بابا- ما یو پلنکوچ راغوښتلی اوس به راشی. ښځی ماشومان به په هغه سپاره شی او هر سوک چی پاتی شو پدی دری موټرانو کیدی ځانونه ځای کړی.

زه ژر د ذوالفقار په موټر کی کیناستم چی هسی نه ما یو بل ځای تخته کړی. پدی خلکو باندی اعتبار نشته هسی د ښځو موټر کی به یی اچولی یم! د ذوالفقار په موټر کی زما د ګل ګلی بخته بابا،ذوالقرنین کاکا، فهیم، او د عمه کوچنی زوی مصطفی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاته سیټ کی کیناستل زه د ذوالفقارانډی کی مخکی سیټ کی کیناستم. د ماذدیگر د آذانو شاوخوا وه چی موټر حرکت وکړو..

ذوالقرنین کاکا- ذوالفقار جان ادرس خو دی زده دی؟
ذوالفقار- که کور یې بدل کړی نه ویې او همغه پخوانې آدرس وی نو هو بلد یم.
ذوالقرنین کاکا- هو همغه پخوانی ادرس دی.
بد احساس مې درلود لدی چې د بابا سره په یو موټر کې ناست یم او د هغه څخه هم بد دا چې د موټر هینداره د بابا پخوا باندی برابره وه او د بابا دوه سترگی ماته معلومیدی! دومره جرئت مې نه درلود چې د موټر هینداره د بابا د سترگو څخه لری کړم! د فرید موټر مې ولید چې زموږ څخه په یو بیحده سرعت باندی مخکې شو، داسې چې ذوالفقار لږ موټر انډی ته کړو او په غوسه یې وویل:

ذوالفقار- دا چهار پایه تراوسه ندی انسان شوی..؟
فهیم- څه یې کړی کاکا چې ورته داسې وایست؟
ذوالفقار- څه یې کړی؟( ذوالفقار د فرید موټر ته چې بې رقم روان وو اشاره وکړل او ویې ویل: نگوری څنگه لکه خر موټر چله وی، دغه پر پښو ترلی ته چا موټر ورکې؟

ذوالقرنین کاکا- ذوالفقار خوشې کوه یې ماشوم دی یو خبره کوی یو کار کوی، ته یې په زړه مه نیسه ته بیا مشر یې لږ حوصله کوه..
ذوالفقار- سبا بل سبا پلار کیږی او ته وایې ماشوم دی؟ کاش د فرید عقل د یو ماشوم اندازه وایې...

نور چا څه ونه ویل ما هم ځان سره وویل کاش فرید ماشوم وایې خو دا لوی خر دی، د ماذدیگر آذونونه یې وکړل او بابا د موټر دره ولو وویل! لکه چې د طاهر د خسر کور زیات لری وه چې بابا غوښتل لاره کې مونځ وکړی تر سو قضا نشی، ټول پر مانځه و دریدو، د لمونځ کولو وروسته زه د موټر شاته کیناستم تر سو موټر وچله وم، ذوالفقار یو سه سترې معلومیدی ذوالقرنین کاکا آدرس را کړو او ما هم موټر روان کړو. دا چې موټر کی یو دم خاموشی وه نو ښه احساس مې نه درلود په همدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطر لګیا شوم تر سو یو سندره یا کوم بل شی پلی کړم تر سو هغه نفس تنکه ماحول لږ سم شئ، خو یو دانه سندره لا ذوالفقار نه درلود..!

اخیر د مجبورۍ څخه مې راډیو چالانده کړه او اولې شئ چې راغلو همغه مې پریخود او ورته غوږ شوم یو ترانه وه خو زیات جالبه وه زما خوښ شوه..

مه ژاړه مه ژاړه ضرور دی خپله وم فلسطین
خلاصون ته دی درځم درځم..

شم دی قربان له اسرائیلو دی ګټم فلسطین
خلاصون ته دی درځم درځم..

مه ژاړه مه ژاړه ضرور دی خپله وم فلسطین
خلاصون ته دی درځم درځم..

د ایوبې بابا بچیم په ایوبې توره دی بیا آزاده وم فلسطین
خلاصون ته دی درځم درځم..

نه پوهیږم ولې خو ترانه مې خوښه شوی وه او ځان سره مې تکرار کول، چې ذوالفقار پداسې حال کې چې خپل سر یې په چوکې تکیه کړی وو او سترګی پټې ول وویل: څنګه چل دی؟ لکه چې ترانه دی خوښه شوی چې ځان سره زمزمه کوی؟
- دا ترانی بیحده انسان جذب کوی او یو دم د سړی وینه جوش کې راوړی داسې چې د انسان زړه غواړی ورشي ټول اسرائیل پر بل مخ کړی..

زما پر خبره ذوالفقار په خندا شو خو فهیم په طعنه لرونکی انداز وویل: دومره شئ به نه یې د کاکا زو..
د موټر د هینداری څخه مې وروکتل بابا مخامخ دوه سترګی ما ته نیولې وه او په تروش تندی راکتل د هغه څخه مې نظر واخیست او فهیم ته مې وویل: ولای که د ننګ او د جنګ میدان شو بیا به معلوم شئ چې سومره شئ یم او کنه...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیم ساعت وروسته ذوالفقار د رادیو غږ خاموش کړو او ماته یې د طاهر د خسر د کور آدرس راکړو، دی خبری ته حیران وم چې طاهر به دا انجلی چیرته لیدلی وی چې ورباندی مئین شوی؟ زموږ څخه مخکې ټول رسیدلی وه اخیری کسان موږ وو، یو ماشوم د کور مخکې ولاړ وو لکه چې موږ ته په تمه وو همدا چې زموږ موټر یې ولید د کلا دروازه یې خلاصه کړه،لوی حویلې درلود ټول موټران پکې ځای شول، ټول د موټر څخه ښکته شو.

یو غټ پټ پکتیاوال سړی چې سره ګیره او لوی ژیړه لونګې په سر وه، د یو کوټې څخه چې ما ته میلمه خانه ښکاریده راووت او زموږ خوا ته راغې، د دی څخه مخکې چې موږ ته راورسیږی ما ذوالفقار ته کرار وویل: د دی طاهر د خسر نوم څه دی؟
ذوالفقار- زما په نظر جمالدین وو..؟
مشر سړی وو او زما پر نظر په نوم ورته ناری کول بده خبره وه نو ځکه مې ذوالفقار ته وویل: ته ورته څه غږ کوی؟

ذوالفقار- زه ورته احمد خیل وایم.
- اها دا ښه ده احمد خیل صیب.

احمدی خیل د ټولو سره د غیږ پر ورکولو سترې مشې وکړل البته ما یواځې لاس ورکړو، هغه هم یواځې راوکتل خو کوم څه یې ونه ویل، ټول یې د مهمانخانې خوا ته دعوت کړو د مخامخ کوټې څخه د ښځو د دایری او چک چک وهلو غږونه راتلل، طاهر او فرید زموږ څخه مخکې راغلې وه، لومړی ځل وو چې طاهر مې دومره عاجز لیدی بیچاره د زیات شرم څخه تک سور شوی وو، خو فرید په قهرجن نظر زموږ خوا ته راکتل، په تندی باندی د شپږ اوه کوکونو نښی وه! د هغه کوکونو په لیدو مې په خوله مسکا راغله چې هغه راته بد بد وکتل ما هم ورته په مقابل کې په ریشخند وکتل او د ذوالفقار اندې ته کیناستم..

احمد خیل د بابا سره لګیا وو خبری کول، موږ هم ورته غوږ نیولې وو، ما د طاهر خوا ته وکتل زما په کتلو هغه هم راوکتل چې ما ورته وخندل، خوشحال وم ورته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پر کوم انجلۍ چې مئین دی هغه ته رسیږی سومره خوش قسمت وو پخدای.

احمد خیل- طاها جان ته سنګه یې؟( د احمد خیل پر غږ ما وروکتل چې هغه وویل: نوم دی طاها دی کنه؟

- هو... شکر ښه یم تاسو سنګه یاست.؟

احمد خیل- د خدای فضل دی... ښه وو چې راغلې دا څو ځله کیږی ستا پلار ته وایم هغه خپل وړوکی زوی هم راوړه خو ویل یې کار لری بیکاره ندی. زه شکر چې نن بیکاره شوی او زموږ فقیرانه جونګړې ته راغلې...

د احمد خیل په خبره مې د بابا خوا ته وکتل او ځان سره مې وویل هو زه خو رئیس جمهور یم تل کار لرم! په کرار غږ مې وویل: دا ستاسو مهربانی ده بس لږ مصروفیتونه زیات وه وخت نه برابر کیدی..

احمد خیل- څه کار کوی؟

- دا سو وخته کیږی پوهنتون مې خلاص کړی او خپل د کاکا" ذوالفقار ته مې اشاره وکړل" سره شرکت کې کار کوم..

احمد خیل- ښا ډیر ښه ماشالله....( بیا په خندا وویل: هسی ما ستا پلار ته ویل ددی څخه مخکې چې زوی ته واده وکړی ورور ته دی وکړه خو هغه زما خبره نه منې..

ذوالقرنین کاکا- ذوالفقار نغواړی واده وکړی کنه موږ هم زړه دی ورته ښځه وکړو چې کور او ژوند یې جوړ شې..

بابا- ذوالفقار دی همدا اوس یواځې اشاره وکړی د طاهر څخه مخکې ورته یوه ښه، ښایسته، او دینداره ښځه پیدا کوم.

ذوالفقار- مننه لدی چې دومره زما په فکر کې یاست خو زه اوس نغواړم واده وکړم.

احمد خیل- ولې واده نکوی ذوالفقار خان؟ ماشالله ښه سم ځوانې لری، کار لری، خپل کور لری، هیس کوم خاص مشکل نشته بیا ولې واده نکوی؟ نکاح د پیغمبر "ص" سنت دی نکاح وکړه چې خدای دی د زیات ګناهونو څخه وساتی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- ما هم ندی ویلې چې بیخی نکوم، واده کوم خو اوس نه..
ذوالقرنین کاکا- نو کله؟
ذوالفقار- هر کله چې طاها واده وکړو بیا زه هم کوم.
- ولای ما خو آوریدلی اول مشران بیا کشران! زه هم تر هغه وخت واده نکوم تر سو ته یې ونکړی..
ذوالقرنین- تاسو دواړه غواړی د عمر تر اخیره همداسې مجرد پاتی شې او یو بل ته ووایست اول ته بیا زه؟

ما او ذوالفقار ټوکې کول خو هغوی لکه چې زموږ خبری جدی نیولې وه! ما خو نور څه ونه ویل او خاموش شوم ذوالفقار هم جواب ورنکړو، د ماښام لمانځه وروسته مولا راغلو نکاح وتړل شوه او موږ دسمال راواخیست. ما فکر کوی دسمال اخلو او ځو کورته! خو هغوی لکه چې میلمستیا کړی وه! ځکه ماښام ډوډی ته یې پاتی کړلو، ما اول ځل داسې مرکه لیدل! د ماښام مونځ وروسته ټول د باندی حویلې ته ووتل ځکه برقونه تللې وه او د کوټې هوا بیحده ګرمه وه.

ما هم غوښتل بیرون لاړشم خو موبایل ته مې زنګ راغلو او مجبور همльته کوټه کې پاتې شوم تر سو موبایل ته جواب ورکړم..
- الو سلام علیکم..
هیس جواب رانغلو دوه دری خله مې الو الو وکړل خو هیس جواب مقابل کس نه راکوی، ما هم فکر وکړو ضرور کوم مزاحم دی زنګ مې قطع کړو او غوښتل مې د کوټې څخه ووځم چې فکر می د کړکی طرف ته شو، سر می چې پورته کړو ګورم لس دولس نفره د کړکی شاته ولاړ دی او ماته راګوری! ټولو تور اوږده کالی اغوستی وه او د مخ رنګونه یې دومره سپین وه چی د مړو پشان معلومیده او سترګی!...

سترګی عجیبه غوندی توری ویی غټې او بغیر له کوم سپین څخه پوره توری! همدا چی هغوی می ولیدل د ویری څخه می موبایل د لاس څخه وغورځیدی، سو دقیقی بی حرکت او ویریدلی ولاړوم او د کړکی خوا ته مې کتل چې د احمد خیل زوی کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ذوالفقار لږ لیون حالې معرفې کړې وو کوټې ته رانوت، زما پر لیدو یې وویل: بابا وایې راشه د باندی دلته ګرمي ده..

د هغه پر غږ هغه نفران یو دم غیب شول، ژوره ساه مې واخیسته او خپل موبایل مې راوخیست شکر پر نالې غورځیدلی وو او مات شوی نه وو، د ژبی لاندی د ځان سره مې د قران آیتونه وویل او د باندی حویلې ته ولاړم. د باندی په حویلی کی د انګور د طاق لاندی د سترخوان هوار کړی وو ډیر ښایسته فضا وه خو یواځنی بدی او ستونزه یی دا وه چی برقونه نه وه او د شمسی په برق یی یواځی دوه برق د طاق سر کی چالانده کړی وه چی یواځی ډوډی ځای معلومیدی او نور ټول حویلی تکه توره شپه وه.

د ذوالفقار څنګ ته کیناستلم چې هغه کرار وویل: دری ساعت دی کوټه کې څه کول؟
- هسی یو بیکاره انسان زنګ وهلې وو او خبری هم نکول..
ذوالفقار- عجب..
دوه دقیقې لا شاید زما د کیناستلو څخه نه وه تیر شوی چې یو کوچنی ډبره د حویلی د کونج څخه کوم خوا چی بیحده توره شپه وه زما پر شا ولګیده! البته بیحده په قراره او خوږ نشوم توجه می ونکړل چی بیا هغه کار تکرار شو چهار طرف می وکتل او یو بسم الله می ځان سره وویل خو دا کار څو ځله تکرار شو او ناساپه یو خبره می ذهن ته راغلل ماته شمویل ویلې وه چی ته یو سه د پیریانو نړی ته داخل شوی یې او ته هغوی لیدلی شې نو که زه هغوې وګورم هغوی هم پدی خبره پوهیږی؟

شاید په همدی خاطر اوس ما زوره ویی! خو ذهن کې مې ناساپه یو فکر راغلو هغه دا چې شاید راڅخه کوم مرسته غواړی؟ ځکه زه یې په ډبره کلک وه نه ویشتلم! د دسترخوان خوا ته مې وکتل د غوښی او وریجو بوی دومره زیات وو چی امکان درلود ددی ځای انډی پیریان یی ځانته راکش کړی وه او هغه سپی هم پدی غېل ځکه سپې پیریان لیدلی شې او هغه سپې پام شوی و چی دلته پیری دی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپې پر بېحده غپلو احمد خيل غوښتل پاسيږي او وګوري چې څه خبره ده؟ برق يې هغه خوا ونيو خو هيس شې نه ښکاره کيدی خو سپی بيا هم غپل خپل د کاسې د مخ څخه مې بيحده کم وريجی او غوښه په بل کاسه کی کيخود او د سپی طرف ته روان شوم د سپی څخه يو سه لری مې کاسه کيخودل او ژر بيرته خپل ځای ته راغلم.. زما د راتللو سره سم سپی خاموش شو، او زه پوی شوم چې سم فکر مې کړی وو هغوی ډوډی واخيسته او ولاړه.

احمد خيل په کراره او حيرت ناکه لهجه وويل: دا سپې ته ما دا اوس ډوډی ورکړل! او دا تعليم يافته سپې دی د لوږی له لاسه هيس کله نه غپيږی، او بل دا چې وريجی هم نخوری! نو څنګه بيا کرار شو؟ زه وګورم هسې نه کوم شئ مئ ليدلی نه وی چې داسی غپل؟
احمد خيل غوښتل هغه خوا ته لاړشی چې ما کرار وويل: احمد خيل صيب ضرورت نشته يو خبره وه حل شوه تاسو ډوډی وخوری..
احمد خيل- نه خوو بيا هم يو ځل وګورم زړه مې لږ شکې شو! تاسو خپل ډوډی وخوری مهربانی نوش جان..

ددی څخه مخکې چې هغه لځايه پاسيږی ومې ويل: ستاسو کور موقعيت د غرونو او دښتې خوا ته دی، او دلته بيحده پيريان( د پيريانو د لفظ ويلو سره ذوالفقار کرار وټوخل! مطلب نور خبرو ته دی داوم مه ورکوه خو ما خبره کړی وه اوس نيم کې مې نشو پريخودلې نو ځکه مې وويل: ژوند کوی دا د خوړو بوی هغوی ته ورسيدو نو ځکه راغلې وه اوس لاړه نو ضرورت نشته تاسو انديښنه وکړی..

دا خبره مې وکړل او ډوډی خوړل مې شروع کړی ذوالفقار د سترګو په اشاره راته وويل چې زه به وروسته ستا سره ګورم! بغير لدی چې د ذوالفقار ګواښ لرونکې نظر ته پام وکړم ډوډی خوړل مې شروع کړل، احمد خيل هم هغه خوا ته د تللو څخه منع شو او په حيرت ناکه انداز بيرته خپل ځای کې کيناست، د هغه د کيناستلو سره فريد په ريشخند پداسې حال کې چې زه يط مخاطب کولم ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرید- د کاکا زو پیری زموږ ږوږی نخوری بی ادب دی معاف وی هغوی غول خوریـ... د فرید خبره لا پوره شوی نه وه چی بی ادب دی معاف وی سره د هغه د مخ کاسه ناساپه راپورته شوه لکه یو چا چې په لاس کې نیولې وی؟ او په ناساپه حرکت کې د وریجو ډکه کاسه د فرید پر مخ شړک ولګیده. ټول ورختا پاسیدل او یو چوغ، پوغ جوړ شو چی مه وایست فرید هم پوزه په وینو شوی وه، خو په دی مینځ کی ما خپل خندا نشوه کنټرول کولی تر دی چی ذوالقزنین کاکا په قهر راوکتل او ویې ویل: مه خانده طاها دا ټول ستا له لاسه وشو.

خندا مې بنده کړه او ومې ویل: وبخښی کاکا خو ما کوم کار ندی کړی ده ته چا ویلې وه چې داسی خبره دی د پیریانو په اړه وکړی؟چا جواب رانکړو او ټول کورته ننوتل زه د باندی ولاړ وم او خندل می چې ذوالفقار بد بد راوکتل او ویی ویل: ښه یی..؟ ذوالفقار په قهر معلومیدی خو ما خپل خندا نشو کنټرول کولی هر ثانیه چې هغه منظره مې یاد ته راتلل زړه مې په فرید یخ کیدی نوش جان هر پیری چې داسې کار کړی د مور شیدی دی شې ورته.. د ذوالفقار په غوسه ناکه نظر مې ژر وویل:

- باور وکړه پخدای که زه ملامت وم...!
ذوالفقار- ما هم تاته ملامت ندی ویلې..
- اخ ډیر بد بد راګوری... رښتیا نه ځو کورته؟ ناوخته شوه..
ذوالفقار- راځه دلته خو دی ګلان وکرل.

ذوالفقار طاهر ته وویل چې موږ ځو که سوک کورته ځې و دی وایې تر سو ویې رسه وو، خو طاهر وویل چې ماښام ټول همدلته پاته کیږو؟ عجب خلک وه اول ځل وو داسې ګډه وډه مرکه مې لیدل، د ذوالفقار موټر کې د کور خواته روان وو هیچا خبری نکوی د سو دقیقو خاموشې وروسته ذوالفقار وویل: ما د راتلو څخه مخکی تاته ونه ویل چې د هیچا سره به نه خبری کوی او نه به هم کار لری، او کرار به زما څنګ کې کینې؟

- ویلی دی وه ما هم همداسې وکړل..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار په غوسه ناکه لهجه وویل: همداسې دی وکړل؟ نو دا د پیریانو بحث ما شروع کړو...؟
- ما هم د پیریانو بحث سره چندان علاقه نه وه هغوی زه پعذابه ولم مجبور شوم ووایم..
ذوالفقار په حیرت وویل: څه یې کول؟ ته یې پعذابه کولی؟
- هو هغوی زه په تیرو ویشتلم نو ځکه مجبور شوم هغه کار وکړم، کنه شاید راپسی کوم ښنته منښته را ګوزار کړی وایې..

ذوالفقار- یعنی هیس بل کوم لاره نه وه او تا باید ضرور د هغوی خبره منلې واې او بوډی دی ورکړی وایې؟
- امم رښتیا ووایم بل لاره هم وه مثال کولې مې شو پر ځان آیتونه او دعاګانې ووایم تر سو نور یې نه وایې پعذاب کړی، خو دغه اولې لاره و ما ته آسانه معلوم شوه اخ دوه ګولې وریجې نو دومره بخیلې نه درلود..
ذوالفقار په غوسه وویل: کولو کیدی خو خپل کار وکړو بیا څه ضرورت وو د پیریانو په اړه داسی تخصصی معلومات وړاندی کړی؟

- خو هغه احمد خیل روان وو هلته چی وګوری سوک دی!؟ نو ځکه مجبور شوم هغه خبری وکړم.
ذوالفقار په غوسه وویل: نو تللی دی وای پر تا څه؟
ذوالفقار چی زما په خبرو د غوسی اخری حد ته رسیدلی و خپل لاس یی داسی پورته کړو لکه چی غواړی ما ووهی بیایی وویل: ودی وهم..
ما هم ژر وویل: نه ..نه بد می وکړل ته وخدای.
د موټر ښښي خواته می ځان کش کړی وو چی د وهلو څخه پښیمانه شو او خپل لاس یي ښکته کړو.

ذوالفقار- شانس دی راوړی... شانس دی راوړی چی ته طاها یی او هغه چی ډب یي وخوړی فرید وو،که هغه طاها وایی! او ته فرید وایې! داسی می وهلی چی یو جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاښ دی په خوله کی نه وایې پاتی شوی..
- ذوالفقار ښه یی؟
ذوالفقار- هو ښه یم.. ته هم دومره مه ویریږه ندی وهم.
- کله ناکله بیحده خطرناک کیږی.
ذوالفقار- بنده کړه خوله دی طاها. نور ونه وینم د خلکو په مخ کی داسی خبری وکړی سبا درپسی زر خبری کوی پدی خبرو او کارو دی..

تر کوره نور ما یوه خبره هم ونکړل چې هسی نه دا ځل مې د ربښتیا ووهې! کور ته هم د تل پشان ذوالفقار خپل هغه مشهوره ډیالوګ چې دا دری میاشت تازه زده کړی و ووېل" اوس قیامت نه راځی یو شپه خپل کورته لاړنشی" او زه یې خپل کور ته ویوړم د ماسخوتن لمانځه وروسته ذوالفقار خپل حساب او کتاب را واخیستی او ما هم موبایل.! زبیر ته می مسج وکړو چی چیرته دی؟ او هم می خبر ورکړو چې زه بیرته راغلم شهر ته او د ذوالفقار کور کی یم. هغه هم د خدای بیکاره هغه دقیقه کی زما د پیام جواب راکړو.ډیر خبری مو سره وکړل اخیر کی می ورته ووېل چی زما موټرسایکل شرکت کې پاتی دی که سبا زموږ څخه وختی شرکت ته ولاړی نو موټرسایکل سایې خوا ته و دره ویې.

زبیر هم یوسه زما نازنین موټرسایکل ته کنځلی وکړل، او خدای پامانی مو وکړل. تقریبا د شپی یولس بجی وه چی د ویده کیدلو اراده مو وکړه. په دهلیز کی ویده کیدو ما هم د عادت مطابق یو کمپل راواخیست او د آشپزخانی د دیوال کونج کی پریوتم. ګوشکی می چی یو طرف جوړ او بل خراب وو غوږ ته واچول، او د زبیر د راستول شوی اډیو ګانو څخه می یو پلی کړه یو ریشخندی سندره وه! بنده مې کړه او غوښتل مې بل راستول شوی اډیو پلی کړم چې ذوالفقار یو بل کمپل هم زما د پښو سره کیخودو او ویی ویل:

ذوالفقار- سهار خواته هوا یخه کیږی بیا دا په ځان راکش کړه.
- صحیح دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار خپل ځای یوسه زما څخه لری د کړکی خواته واچوی. د پریوتو مخکې
وویل: برق خاموش کړم؟
موبایل می بند کړو او د سر لاندی می کیخود او ومی ویل: هو ناوخته ده ویده به
شو سبا هم زما د سروی ورځ ده باید وخت پاسیږم... رښتیا ذوالفقار!
ذوالفقار- ها
- سهار مانځه ته راویښ کیږی که زه زنګ په ټایم کړم..؟
ذوالفقار- خپله پوهیږی که زه د زنګ په آواز راویښ شم عصاب می خرابیږی. هسی
په مولا آذان ځان راباندی مه وه.
- سمه ده

ذوالفقار- زه عادت شوی یم د شپی هر سومره ناوخته که ویده هم شم، سهار لمونځ
ته حتما ولاړیږم.
-سومره ښه بیا پر ما هم غږ وکړه.
ذوالفقار- اهوم..

د سهار لمانځه وروسته ما ته خوب نه راتلو ذوالفقار لا بیرته پریوتی خو زه لا ویښ
ناست وم ځان سره مې وویل ددی څخه مخکې چې ذوالفقار راپاسیږی لاړشم
نانوایې ته او سو ګرمی ډوډی واخلم پدی نیت لڅایه پاسیدم، بوټونه مې پر پښو
کړل او د حویلي دروازی خوا ته روان شوم، د حویلي دروازه مې چې خلاصه ول نه
پوهیږم ولې خو یو بد احسای مې پیدا کړو! داسې چې زړه مې غوښت بیرته کور ته
داخل شم! خو اعوذبالله و بسم الله می وویل او د کور ووتم د کور څخه د وتلو سره
سم سترګې مې پر یو بوجۍ ولګیدی...!

کوڅه کې هیس سوک نه ښکاره کیدل! بیخې وختې وو او د ذوالفقار دا کوڅه نظره
دی نشې داسې بی نمازه خلک درلود چې یو نفر یې لا نه تلو جومات ته د سهار لخوا،
نو ځکه د ټولو کورونو دروازی کلکې تړل شوی وه، د هغه سپین رنګ بوجۍ په لیدلو
مې زړه کې یو شانتې وهم او ویره پیدا شوه، بوجۍ د جنرال د کور مخکې ایخودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وه! ځان سره مې وویل ضرور د هغوی د کور ګند او کثافت دی چې بیرون یې کیخودلې...! خو د بوجۍ د لاندی څخه یو نری سره کرښه چې زیات وینو ته ورته والې درلود زما فکر خپل خوا ته کړو...!

نه پوهیږم ولې خو د هغه بوجۍ خوا ته په حرکت شوم! د بوجۍ د پاسه بیحده مچانو بنګ، بنګ کو د بوجۍ سر کلک په یو تور ټوکر تړل شوی وو، نه پوهیږم خو ناشنا شانتې ویره مې پر بدن خپره شوه! خپل د خولې لاړې مې تیر کړل او په لړزانده لاسونو مې د بوجۍ د سر څخه هغه تور ټوکر لری کړو! د بوجۍ د خلاصیدو سره سم فکر مي وکړو چی فشار مې یو دم صفر شو په ویری او وحشت باندی دوه دری ګامه شاته لاړم او پر ځمکه وغورځیدم...

د ویری او وحشت څخه په خلاصو سترګو مې د بوجۍ خوا ته کتل د بوجۍ څخه تور اوږده ویښتیان چي پر وینو لړلی وه لاندی زړیدل، د ډیر وحشت څخه مې ژبه بنده شوی وه، او لکه بت پشان مي دوه سترګی د بوجۍ خوا ته نیولې وه! په بوجۍ کې د جنرال لور وه....! هغه هم پداسې حال کې چي سر،لاسونه، پښي،ټوټه،ټوټه پری شوی وه سترګی ویستل شوی وه او پوزه و غوږونه یې پری شوی وه! په ویری او وحشت لځایه پاسیدلم او د کور خوا ته مې منډه کړل.. نه پوهیږم په څه رقم مې ځان تر ذوالفقار را ورسه وی، د دهلیز دروازی په کلک ټک ذوالفقار له خوبه پاسیدی..

او زما پښې سستې شوی او هملته د دراوزی مخکې بیا پر ځمکه وغورځیدم د بې هوښه کیدو مخکې مې ذوالفقار ولیدی چې په تلوار لځایه پاسیدی او ناری کړل: خدای خیر طاها څه درباندی وشول؟؟

***

د بیحده شور ماشور او چیغو بوغ پر غږونو مې سترګې خلاصې کړی او غوښتل مې د ستونې ستخ(مخامخ پر ملا چې څملیدلی و اوسیږی هغه ته وایې ستونی ستخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه په انډۍ واورېم چې یو چا منع کړم او د زبیر غږ چې ویې ویل: ااا مه اوره کنول دی ختا کیږي، په ګنګس انداز مې شاوخوا وکتل د ذوالفقار د کور په دهلیز کې پداسې حال کې څملیدلې وم چې لاس کې می کنول وو او سیروم راته چالانده وو!
زبیر مې څنګ ته په نالې ناست وو بل سوک کوټه کې نه وو، خو د بیرون حویلې څخه بیحده چیغو او ساندو غږونه راتلل، غوښتل مې د زبیر څخه پوښتنه وکړم چې څه خبره ده؟

چې تازه مې هغه سپین بوجۍ نری د وینو کرښی چې د بوجۍ څخه روان وه، بیا هغه د سر ویښته او اخیر کې د جنرال د لور پری شوی لاس او پښي ټول مې یاد ته راغلل او په وحشت باندی پر ځای کې کیناستم، زبیر په تلوار رانږدی شو او پداسې حال کې چې زما د کرار کولو کوښښ یې کوی ویې ویل: آرام اوسیږه طاها هیس نشته خیرو خیرت دی..

غوښتل مې خبری وکړم او زبیر ته ووایم چې څه مې لیدلی، غوښتل مې زبیر ته ووایم چې د جنرال لور مې په بوجۍ کې ټوټه، ټوټه شوی لیدلی، خو خبری مې نشو کولی...! زما ددی حال په لیدو زبیر په ویری راوکتل او ویې ویل: طاها یو خبره وکړه.
هر سومره چې کوښښ مې وکړو چې خبری وکړم خو یو لفظ مې لا ونشو ویلې! دا ځل نو خپل دی حالت ته ویریدلی وم، ژبه مې خوله کې نشو چرخه ولې! داسې احساس مې کوی چې ژبه مې درنه شانتی ده او نشم ښوره ولې زبیر زما د حال په لیدو په تلوار د حویلی خوا ته روان شو او یو دقیقه وروسته د ذوالفقار سره بیرته راغی.

ذوالفقار ما ته مخامخ کیناست سترګی د غوسې څخه تکې سری معلومیدی په کراره یې ما ته غږ کړو: طاها..
د هغه په غږ مې هم ونشو کړی ورته جواب ورکړم او په وحشت مې ورته کتل، ما ولی خبری نشو کولی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- و دی لیدو درته ومې ویل خبری نشی کولی..!
ذوالفقار زما لاس خپل لاس کې ونیوی همغه چې کنول پکې وه، سیروم خلاص شوی وو لږ پاتی وه د اوښکو په ډکو سترګو مې ذوالفقار او زبیر ته کتل چې ذوالفقار په یو ناساپه حرکت کې زما د لاس کنول کش کړو داسې چې د درد له لاسه مې اخ له خولی ووت!

ذوالفقار خپل ګوته د کنول په ځای کلکه ونیول تر سو وینه رانشی..
زبیر- لیونی شوی یی دا نو سه رقم کنول باسل دی؟
ذوالفقار بغیر لدی چې د زبیر جواب ورکړی په غوسه ناکه لهجه ما ته وویل: تا سهار هغه وخت بیرون سه مرګ غوښتل؟
د ذوالفقار د غوسه ناکې لهجې په آوریدو په وحشت او ویری مې وویل: ما ... ما ډوډی اخیسته..

ذوالفقار په نری مسکا زما لاس خوشی کړو او ما تازه فکر شو چې ذوالفقار له قصده زه ویرولم تر سو د هغه عصبی شوک څخه مې وباسی او دا کار یې فایده هم وکړو، زبیر په خوشحالی وویل: ای ماشالله و دې فکر او ذقاوت ته که خبر وایی په وهلو باندی په خبرو راځی ما خپله ورته دوه دری لغتې ورکول..

موږ لا خبری کول چې د دهلیز دروازه یو چا وټکول ذوالفقار پاسیدی زه چې کوم ځای کې پروت وم د هغه ځای څخه لږ هغه نفر ما ته ښکاریدی چې دروازه یې ټکول، ما ته پولیس ښکاره شو! ذوالفقار سو دقیقی په تروش تندی ورسره خبری وکړل البته ما ته خبری نه بلکې جنجال ښکاره کیدی، زبیر هم د هغوی خوا ته ولاړی غږونه یې ما ته راتلل..

ذوالفقار- زه درته لګیا یم وایم زما د وراره حالت اوس ښه ندی نشی کولی اظهارت ورکړی په خبره پوهیږی او کنه..
د مقابل لوری د هغه پولیس غږ مې هم وآوریدی چې ویې ویل: ګوره محترم دا کوم عام خبره نده چې زه هسی خوشی کړم تاسو سو میاشتی مخکې په همدی انجلی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار باندی د خپل د وراره د وهلو او خپل د کور د خراب کولو شکایت کړی وو او اوس سو میاشتی وروسته هغه انجلی مړه شوی، او اولی کس چې مړی لیدلی هغه هم ستاسو وراره دی! زموږ سل فیصده شک پر هغه دی او تراوسه مو هم زیات مراعات کړی چې لاس تړلی مو ندی وړی، نو ددی څخه مخکې چې خبره زور ته ورسیږی په کراره باندی د لاری څخه لری شی موږ د هغه هلک سره لږ کار دی..

د ذوالفقار قهرجنه لهجه مې وآوریدل: ستا پلار لا ورته لاس نشې وهلې لاس تړلی وړل خو لری خبره...
د هغوی د کش مکش آواونه زیات شوه او زه وویریدم چې هسی نه ذوالفقار په هغه پولیس وار ونکړی او ځان ته مصیبت جوړ نکړی، په همدی خاطر لځایه پاسیدم سر مې اوس هم لږ ګنګس وو سم په لاره نشوم تللی به سل مشکل او جبر د دهلیز دروازه مې خلاصه کړه، زبیر ذوالفقار نیولی وو او هغه پولیس هم لګیا وو بیځایه اپلاتی ویل سو نور پولیسان هم حویلی او بیرون کوڅه کې ګرځیدل د جنرال د کور څخه د ښځو او ماشومانو د چیغو او ژړا غږونه راتلل..

- ذوالفقار.
زما پر غږ د ټول ما ته فکر شو او زه د زیات ناتوانې څخه هملته برنډه کې کیناستم او د دهلیز دیوال ته مې تکیه ورکړل، زما پر لیدو ذوالفقار او زبیر په ورختای زما خوا ته راغلل.
ذوالفقار- ولې لځایه پاسیدی..؟
- جنګ مه کوه.
ذوالفقار زما اوږه ونیول او غوښتل یې چې ما بیرته کورته ننباسی خو هغه پولیس وویل: اوس چې دومره راغلې نو پریږدی موږ ورڅخه یو څو پوښتنی وکړو او خبره نوره غټه نکړو، دا چی تاسو د اظهارت د اخیستلو څخه انکار کوی هغومره زموږ شک ستاسو په وراره زیات کیږی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- ړوند خو نه یې حالت یې لیدلی شی ښه ندی. ته څه غواړې انکیر منکیر پوښتنی ورڅخه وکړې اوس چې د هغه انجلی قاتل پیدا کولی نشی غواړې پر بل چا یې ناحق تور ولګوی..

- دوالفقار پریږده پوښتنی وکړی مشکل نشته زه اظهارت ورکوم.

زبیر- خو حال دی ښه ندی طاها..

- زه ښه یم..

دروغ مې ویل هیس هم ښه نه وم خو نه مې غوښتل زما د لاسه دی ذوالفقار د یو پولیس افسر سره لاس و ګریوان شی، ذوالفقار چې ولید چاره نشته نو دهلیز ته یی دعوت کړل ټول ترڅو هلته اظهارات واخلې زما څخه...

بیرته خپل ځای کې پریوتم پولیس افسر زما مخامخ کیناست او د یو بل پولیس څخه یې یو قلم و کاغذ او یو د غږ ریکاټ کولو هغه دستګاه او ماشین و غوښت بیا پداسې حال کې چې خپل ستونې صاف کوی ذوالفقار ته وویل: هیس سوک حق نلری د اظهارات اخیستلو وخت کې حاضر اوسیږی خو د بعضی دلایلو له وجهی تاسو ته سه نه وایو خو خواهش کوم چی د اظهاراتو اخیستو وقت کی نظم مراعات کړی او زما د پوښتنو او خبرو مینځ کې لاس ځان وانچوی..!

ذوالفقار په تروش تندی او قهر د هغه خوا ته وکتل او په همغه غوسه یې سر د سمده پشان و خوځه وی، زبیر او ذوالفقار زما څخه یو څه لری د دهلیز چپ طرف ته په نالې ناست وه او دواړه ناراض بریښیدل، پولیس قومندان ما ته په کتلو وویل: اول به زه ځان معرفی کړم زما نوم عبدالجبار دی او د لسمی حوزی د جنایې پیښو څیړونکې او شنونکی یم، موږ ته نن سهار یو چا د یو انجلی بی رحمانه قتل په اړه ریپوټ او خبر راکړو نو ځکه موږ هم ډیر ژر ځانونه راورسه ول،

خو کله چې دلته راغلم نو پوی شوم چې هغه مقتوله د جنرال صیب لور ده او مړی هم لومړی ځل هغه هلک لیدلی کوم چې سو میاشت مخکې په همدی مقتولې او پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندی خپل د وهلو ډبولو او کور ته د بې اجازه ننوتلو شکایت کړی وو، دا زما فکر او ګمان دی اوس تاسو راته د یو عینی شاهید په توګه ووایست سنګه چل وو

- مورږ سو میاشت مخکې شکایت کړی وو ددی څخه منکر نه یو خو وروسته پوه شو چې هغه کار د جنرال صیب نه وو نو ځکه مو د همغه ورځ په سبا خپل شکایت بیرته واخیست..
عبدالجبار- تا سهار وختی د کوم کار لپاره له کور ووتی؟
- غوښتل مې د نانوایی څخه ګرمه ډوډی واخلم.
عبدالجبار- د سهار په شپږو بجو زیاتر نانوایې ګانې بندی وی بیا ته سنګه د ډوډی پس تللې وی؟

ددی څخه مخکې چی زه کوم جواب ورکړم زما د سنګ څخه یو شناخته غږ ووېل: غوارړی ستا په خبرو کې تا بند کړی پام کوه چل ونخوری او خبره بدل نکړی..
په ویری او وحشت مې خپل سنګ ته وکتل او تازه مې شمویل ته فکر شو چې زما څنګ کې ناست وو....

د شمویل د ناساپه راتلو څخه و ډار شوم او په ویری می یو اخ له خولی ووت او خپل په زړه مې لاس کیخود ذوالفقار په ورختای رامخکی شو خو د پوښتنې کولو څخه هغه پولیس قومندان منع کړو.
شمویل- وبخښه نه پوهیدم دومره ویریږی.
په حیرت مې اول د شمویل خوا ته وکتل بیا په دهلیز کې ناست خلکو طرف ته ټولو ما ته کتل داسې لکه چې شمویل یې نه لیدی!
شمویل- هغوی ما نشی لیدلی ما خپل ځان یواځی تاته ښکاره کړی..

غوښتل مې ورنه پوښتنه وکړم چې سنګه داسې کار کولی شی؟ خو د ناست کسانو مینځ کې داسې پوښتنه کول یعنی خپل ځان د لیونی په توګه معرفی کول ..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمویل- دا زمونږ لپاره یو عام کار دی چې یو نفر ته ځان ښکاره کړو او د نور ځخه ځان پټ کړو، خو ستا لپاره یې توضیح درکول یو سه سخت دی. او هو ضرورت نشته خبری وکړی زمونږ یو بل خصوصیت دا دی چې کولی شو د انسان ذهن ووایو، نو ستا مغزو کې چی کومه خبره ګرځی زه په هغه پوهیږم..

عبدالجبار- ښه یې؟ خیرت خو دی؟
د قومندان په خبره نظر مې د شمویل څخه واخیست او تازه مې فکر شو چې د هلیز کې ناست کسانو ټولو په حیرت او شک ما ته راکتل، خپل ستونی می صاف کړو او ومې ویل: هو ښه یم هغه ناساپه لږ زړه مې په درد شو..
عبدالجبار- اوس ښه یاست؟ کولی شې اظهارات ورکولو ته دوام ورکړی؟
- هو کوم خاص ستونزه نشته..
عبدالجبار- ډیر ښه ... تا وویل چې د سهار په شپږو بجو غوښتل دی د نانوایې څخه ډوډی واخلې او هغه وخت کېدی مقتوله هغه حالت کې ولیده؟ زما پوښتنه دا ده چې د سهار په شپږو بجو زیاتر نانوایې ګانې بندی وی بیا ته سنګه د ډوډی پس تللې وی؟

شمویل- ورته ووایه دا د لسمې حوزی خوا نده چې د سپې له ډار خلک په اته بجو له کوره ووځې هغه هم یو لرګی په لاس. ورته ووایه دلته په پنځه بجو نانوایې خلاصه ده.(د شمویل خبری مې ټک په ټک هغه پولیس قومندان ته وویل، چې هغه هم په تروش تندی راوکتل او ویې ویل: تاسو ولې سو میاشت مخکې په جنرال صیب او د هغه په لور شکایت کړی وو؟

شمویل- ورته ووایه اوس موضوع هغه نده بلکی دا ده چې یو نفر وژلی شوی او ته باید قاتل پیدا کړی، که ګمان دی پر ما دی نو ثابت کړه، په یو شکایت او پدی چې ما اول هغه مقتوله لیدلی ته ماته قاتل نشی ویلی...!
عبدالجبار- دا چې تراوسه دلته خپل کور کې ناست یې او ما لاس ترلی حوزی ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې کش کړی دا د جنرال صیب او د هغه د کورنۍ شکایت نه کول دی که شکایت یې وکړو هغه وخت زه تا په کش کولو لدی ځایه وړم.

د شمویل خوا ته مې نیم نظر واچوی تر سو جواب راکړی چې هغه په بیغمه انداز وویل: د جنرال کورنی هیسکله پر تا شکایت نکوی طاها.. ځکه هغوی ته قاتل معلوم دی او غواړی خپل بدله شخصي واخلې، دا پولیس هم ځکه ته رانیولې یی ځکه چې غواړی مثال د یو قتل موضوع په حل کولو هغه هم په همغه ورځ چې مقتول پیدا شوی ځان مشهور کړی ... ورته ووایه په کافې اندازه مې معلومات درکړل نور نو ستاسو کار دی که دلیل او ثبوت مو پیدا کړو راشی ما لاس تړلی ویسی او کنه په مخه مو ښه..

د پولیسانو د تلو وروسته ذوالفقار او زبیر زما خوا ته راغلل او ذوالفقار په تلوار وویل: ښه یی طاها؟
- ښه یم.
زبیر- باور مې نکیږی چې تا دی هغه کلک او دندان شکن جوابونه قومندان ته ورکړی وی؟ زه ډاریدم چې هسی نه خبرو کې بند شی او هغه قومندان چالاکی وکړی او تا قاتل ښکاره کړی..

شمویل- زه هم نور ځم په ځان پام کوه.
شمویل دا خبره وکړل او ناساپه غیب شو، ما غوښتل ورنه پوښتنه وکړم چې ده ته د جنرال د لور قاتل معلوم دی کنه؟ د خبرو څخه ما ته همداسې ښکاره شوه چې شمویل ته قاتل معلوم دی؟ یو ژوره ساه مې واخیسته په هر حال بیا هم منندوی وم لدی چې زما مرستی ته راغی کنه د زبیر خبره، هغه قومندان خپل په چالاکی زه په زوره قاتل معرفی کولم.

د پولیسانو او شمویل د تلو وروسته تر ماذدیگر ماښام همغسې شور ماشور وو، هسی خبره خو نه وه د جنرال لور یو چا دومره ظالمانه او وحشیانه وژلی وه، باور مې نکیدی هغه شوخه او چالاکه انجلی دی یو چا داسې وژلی وی! یعنی ژوندی به وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې لاس او پښې ورنه پرې کول؟ یعنې د سترګو باسلو وخت کې به ژوندی وه؟ یا د پوزې او غوږونو پرې کولو وخت کې؟ چغې به یې وهل؟ مرسته به یې غوښتلې وې؟ هر چا چې دا کار کړی هغه یو حیوان وو نه انسان! ځکه یو انسان تر دې حده ظالم نشي کیدلی...

د ماذدیګر لمانځه لپاره مې غوښتل جومات ته لاړشم خو ذوالفقار اجازه رانکړل ویل یې د جنرال زامن او زیات خلک د کور مخکې دي د اوس لپاره ستا د باندې تلل ښه ندي. زه هم مجبور شوم کور کې مونځ وکړم، د اودس لپاره تشناب ته لاړم اودس مې خلاص کړی وو او غوښتې مې چې د تشناب څخه ووځم، چې د تشناب کونج کې پر یو بوجۍ مې سترګې ولګیدې...!

همغه سپین بوجۍ وه! د بوجۍ سر خلاص وو او تور اوږده په وینو لړلې ویښتیان ورنه زړیدل د بوجۍ د لاندې څخه وینو لاره نیولې وه او د یو مستقیم کرښې پشان زما تر پښو را رسیدل د هغه په لیدو نه پوهیږم په کوم وحشت او ویرې مې ځان شاته کړو تر سو وینه زما پر پښو ونه لګیږي، د زیات ویرې او ډار څخه مې بیا ژبه بنده راغلې وه نه مې چغه وهلې شو او نه مې هم پښو کې دومره توان وو چې د تشناب څخه دې ووځم...

د تشناب دروازې په ټک ټک یو دم هغه بوجۍ، وینه او هر شئ چې وه غیب شول!
زبیر- طاها...! دا درې ساعت کیږي تشناب کې یې! ښه یې؟
د زبیر جواب مې د زیات ویرې څخه نشو ورکولې د زیات وحشت څخه لړزیدم زبیر یو سو ځله نور هم غږ کړل او کله چې زما جواب یې وا نه وریدو نو دروازه یې خلاصه کړه، خپله پوهیدم چې د مخ رنګ مې د زیات ډار څخه پریدی اوس مې هم دوه سترګې همغه د تشناب کونج ته نیولې وه...

زبیر په تلوار زما خوا ته راغې او ویې ویل: ښه یې؟څه درباندې وشول ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر لدی چی د زبیر د پوښتنی جواب ورکړم د حمام چهار طرف ته می کتل هغه بوجۍ څه شوه؟ اصلا هغه بوجۍ دلته چا راوړل؟ یعنی د پیریانو کار وو که زما خپل وهم او خیال وو؟ زما وهم وو که د پیریانو کار هر شئ چې وو زه یې سخت و ویرولم. زبیر ځان سره دهلیز ته ویوړم، بدن مي بی حرکته غوندی وو د ډیر ویری څخه په بدن کی می لرزه وه او خبری می نشو کولی، یو خبره می ذهن ته تلل راتلل"بوجۍ" زبیر راباندی کمپل واچوی ترسو لرزه می کمه شی. او بیا ژر ولاړی ترڅو یو پیاله اوبه ماته راوړی.

زبیر-واخله دا اوبه وڅکه.
د زبیر څخه می د اوبو پیاله واخیسته او یو نفس می په سر پورته کړل تراوسه می احساس کوی چې لاس او پښې مې بی سستې دی او حرکت مې نشو کولې.زبیر چی هر څونه پوښتنې راڅخه کول زما آواز تر خولی نه وتی یواځی چهار طرف می کتل.. نه پوهیدم چې د پیریانو کار دی چې آیتونه ووایم یا که زما وهم. وو؟! زبیر چې ولیدل چې خبری کول کوم فایده نکوی نو په اندیښنی زما انډی ته کیناستی. نه پوهیږم څه لګیا وو ځان سره یی ویل بیایی خپل موبایل راواخیستی خو زه نور پرځان پوی نشوم او ټول شیان می د سترګو لاندی توره شپه شول.

ذوالفقار- طاها.. طاها ولاړشه تاته وایم ماته وګوره.
د ذوالفقار په غږ مې سترګی خلاصی کړی دواړه په ورختا نظر ماته راکتل د هغوی په لیدو زړه می یوسه ډاډمن شو، ښه و خوب فایده وکړل او ویره می له مینځله تللی وه.
ذوالفقار په اندیښنی وویل: ښه یی؟
- هو
زبیر- د خدای شکر یو خبره دی وکړل ما فکر وکورو بیا د سهار پشان ګونګې شوی.
ذوالفقار- کیناستی شی؟
- هو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار یو څه مرسته وکړل چی خپل په ځای کی کینم او زبیر هم راته دوه بالښته شاته کیخودل. کله چی ډاډمن شوم قراره،قراری ده په ویره می ټول قیصه هغوی دواړو ته وکړل زما په خبرو د دواړو سترګی د حیرت څخه خلاصې پاتی شوی د څو دقیقو لپاره ټول خاموشه ناست وو او یو بل ته مو کتل.

زبیر- یعنې کوم پیری دسی کار ستا د ویره ولو لپاره کړی؟
- نه یم خبر زه باید نن یو ځل لاړشم د استاذ(ضیالحق صیب) لیدو ته ما د هغه زیات درسونه لیاده وتلې باید یو ځل بیا له سره ورنه د ځیني خبرو په اړه پوښتنه وکړم..
ذوالفقار- اوس غواړی لاړشې؟
- هو زه باید همدا اوس لاړشم باید پوی شم چط دا زما وهم وو که د پیریانو مضریت؟
زبیر- ګوره طاها زه خو وایم شاید ستا ویره او وهم اوسیږی ځکه دومره لویه حادثه او وحشتناک کار دی خپل په سترګو ولید...

- هر شئ چې وی زه باید همدا نن د استاذ سره یو ملاقات وکړم..
ذوالفقار- سمده مشکل نشته راځه زه دی وړم..
- نه زه باید یواځی لاړشم..
ذوالفقار- امکان نلری تا یواځې پریږدم پدی حالت دی هغه دنیا سر ته لاړشی..
- زه ځم ذوالفقار....

د دی څخه مخکې چې ذوالفقار کوم جواب راکړی د کور دروازه وټکیدل او ذوالفقار په تروش تندی ولاړی تر سو وګوری سوک دی؟
زبیر زما خوا ته نږدی شو او ویې ویل: ګوره طاها د یو څو ورځو لپاره یواځی کوم ځای مه زه ته اوس وخت د یو سخت روانی او روحې حالت سره مخ یې خدای نکرده کوم بلا ملا پر ځان ونکړی...
- زه باید استاذ سره یوځل ملاقات وکړم هغه تل زما د پوښتنو او مشکلاتو حل لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايې ولې ياد دی ندی سو مياشت مخکې زه سنګه بچ کړم! او ما ته چل وښودی چې څنګه د پيريانو مقابله وکړم؟! زه ډاډمن يم هغه بيا زما سره مرسته کوی..

زبير نور څه ونه ويل او خاموش شو خو زما کلک اراده وه چې نن ماښام بايد يو ځل د استاذ ملاقات ته لاړشم، سو دقيقی وروسته ذوالفقار د بابا سره دهليز تهرانوت...يو همدغه مصيبت کم وو.. د بابا د راتلو سره زه په تلوار د کوټې خوا ته روان شوم بغير لدی چې کوم سلام يا ستړی مشی وکړم، زبير لا د شرم کيناست او ستړی مشی وکړل د کوټې دروازه مې کلک بنده کړل، نه پوهيږم ولی غوسه راغلې وه هغه هم بيحده..

د سو دقيقو وروسته ذوالفقار په کراره کوټې ته راننوتی د کوټې دروازه يې بنده کړه او زما خواته راغې: اممم بابا دی وايې چې نن شپه دلته پاتی نشو او بهتره به وي د هغوی کور ته لاړشو..
د ذوالفقار پدی خبره غوسه مې نور هم زيات شوه او په لوړ غږ مې وويل: زه د هيچا سره هيس ځای نه ځم ذوالفقاااار ورته ووايه ددی ځای څخه دی لاړشی کنه زه ځم.....

ذوالفقار په تلوار سو قدم رانږدی شو او ويې ويل: سيس آواز دی ښکته کړه، بيرون ځې..
د غوسې څخه مې خپل لاسونه د تسليم پشان پورته کړل او ومې ويل: سمده ... سمده زه روان يم خپل کور ته.. ته چې هر ځای د هر چا سره ځی ورځه پخير..
ذوالفقار- بيخايه خبری مه کوه يو نن شپه راځه هلته لاړشو پلار دی دوره راغلې هم بده خبره ده چې لاړنشو او هم دا چې دلته شپه تيره ول ښه ندی..
- سمده ومې ويل کنه ته ورځه د ورور سره دی هر ځای چې زړه دی غواړی خو زه ځم خپل کور ته..

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبره مې وکړل او غوښتل مې د کوټې دروازې خوا ته روان شم چې ذوالفقار په الماری ټیله کړم او د کمیس ګریوان یې رانه کلک ونیوی..
ذوالفقار- که مرګ ته دومره تلوار لرې نو زه به دی کار در آسانه کړم..!

همدغه دقه کې بابا د کوټې دروازه خلاصه کړه او موږ دواړو ته په کتو شو، ذوالفقار ژر زما ګریوان خوشې کړو، نه پوهیږم هغه حالت کې مې ولې خندا راغلې وه؟ ددی لپاره چې د هغه موقعیت او حالت څخه خلاص شم په تلوار د کوټې څخه ووتلم، بغیر لدی چې د ذوالفقار یا هم د بابا خبرو ته غوږ شم د کور ووتلم، او خپل د کور خوا ته روان شوم، د جنرال د کور د مخ څخه په بیحده سرعت تیر شوم خو بیا هم هغه ویره او وحشت مې زړه کې پورته ښکته شو.

یو ټیکسی مې ونیول خپل تر کوره، لاره لرې وه او زما حالت هم ښه نه وو چې پیاده لاړشم، موټر د مسجد مخکې ښکته کړم کرایه مې ورکړل او کور ته روان شوم، هلته چې ورسیدم تازه مې دی خبری ته فکر شو چې موبایل، او د کور کیلې مې د ذوالفقار کور کې پاتی شوی! یواځې یو سل ګون مې جیب کې وو چې ۵۰ افغانی می د هغه څخه موټروان ته ورکړې وه نور هیس راسره نه وه ..!

نیم ساعت خو خپل د کور شاوخوا وګرځیدم چې شاید کوم لاره پیدا کړم خو نه هیس لاره نه وه، د زیات غوسه او ناچاری څخه ژړا ته نږدی شوی وم، ولی نن زما په سر بلا پسی بلا نازلیږی..؟ نه تللی شوم د ذوالفقار کور ته او نه هم د زبیر کور ته ځکه نیمه شپه وه، رښتیا زبیر چیرته لاړو؟ لکه چې د بابا د راتلو سره الفرار ..په همدی فکرونو کې وم چې د کوڅې سر کې راته د ذوالفقار موټر ښکاره شو، ما ته به رارسیدو ذوالفقار په تروش تندی د موټر څخه راښکته شو او زما خواته راغي...

ذوالفقار- ډیر بیعقل انسان یې..
- مننه..
ذوالفقار- دومره ډیر دی د کور ته ځم کور ته ځم چیغې کړل اوس ولې دباندی ناست یې؟ خو کور ته ننوځه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کور کیلي مې ستا کور کې لیاده وتلې ده...
ذوالفقار- یعنی اوس کیلې نلری دروازه خلاصه کړی؟
- هو..
ذوالفقار- نو ولې بیرته رانغلی زما کور ته؟
- حاضر یم شپه هلته( د لاس په اشاره د هدیرو خوا ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: تیره کړم خو د بابا کور ته لاړ نشم...

ذوالفقار په غوسه او بې حوصله انداز سو ثانې راوکتل او پداسې حال کې چې خپل ویښتیانو کې لاس کش کوی ویې ویل: سمده هلته مه زه راځه زما کور ته پلار دی ولاړی..
- ستا کور ته هم نور نه درځم...
ذوالفقار- غول مخوره طاها ...پاسه راځه چی ځو کورته نیمه شپه ده خلک به سه وایې..؟ نیمه شپه کوڅه کې ولاړ یو؟ اله شابه راځه..
- و مې ویل کنه چې نه ځم...

ذوالفقار چې هر سومره وویل ما خبره ونه منل تر دی حده چې ذوالفقار سو ځله د وهلو ګواښ وکړو او ما هم ورته یواځې وکتل، حاضر وم د ذوالفقار له لاسه یو سم صحیح فرش او کتک وخورم خو نور د هغه کور ته لاړ نشم.. ذوالفقار چې کله زما ضد ولیدو او پوی شو چې خپل د خبری څخه نه اوړم نو راغې زما څنګ ته او ویي ویل: بله لاره نشته؟
په ګنګس انداز مې وروکتل چې ذوالفقار په غوسه وویل: ستا و دی نمونه کور ته د داخلیدلو بله لاره نشته؟
- نه ما وکتل نشته...

ذوالفقار پاسیدی د کور دیوال ته یې وکتل او ویې ویل: زه موتر ستا د کور مخې ته راوړم بیا په موټر پورته کیږم او ستا د کور دروازه خلاصه وم سنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که فکر دی کړې وی نو ما د کور دروازه د بیرون لخوا قفل کړې نه دننه لخوا چی ته یی راته خلاصه وی!

ذوالفقار- نو دسی کار به وکړو اول زه د د دیوال څخه پورته کیږم ځکه چی قد می جگ دی جمپ نه اچوم بلکی په دیوال زرېږم او ځان ځمکی ته رسه وم بیا ته راشه زه دی نیسم. نن شپه به په همدی ذلت تیر کړو سهار وخت به زبیر ته زنگ ووهم چې ستا د کور کیلې راوړی او دروازه بیا خلاصه کړی موږ ته.
- یواځی یو خبره؟
ذوالفقار- څه؟
- دومره چی ته فکر کوی ډنگر هم نه یم! نیولی می شی؟
ذوالفقار-  د هغه تشویش مه کوه.

ذوالفقار ډیر ژر خپل موټر زما د کور مخکې پارک کړو او د دیوال څخه پورته شو او کورته واوړیدی، بیا زما نمبر شو زه هم ډیر په احتیاط د ذوالفقار په موتر وختلم او دیوال ته مې ځان ورسه وی، ذوالفقار مرسته وکړل تر سو د دیوال څخه ښکته شم. ډیر په آسانی باندی ذوالفقار زه ونیولم .. داسی چی خپله می باور نکیدی پداسی حال کی چی ډیر عصاب مې خراب او غوسه وم بیا می هم خندا راغله...

کله چې د حویلې څخه د دهلیز دروازی ته ورسیدو او هغه مې هم قفل کړې ولیده نو ذوالفقار په قاتلانه نظر راوکتل او ویې ویل: دا ستا کور کې کوم، د طلاو کان دی؟ یا کوم د الماسو خزانه ده؟ چي دومره قفلونه دی وراچولی؟
کرار مې وویل: هیس یو هم نه د پیریانو ځاله ده....

ذوالفقار- څه دی وویل؟
- هیس... گوره ذوالفقار که د کوټی کړکی خلاصه ویی کولی شو داخل شو.
ذوالفقار- ښه؟
- وه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- ښه ورځه وګوره کړکی خلاصه ده او کنه؟
- اها سمده.

ولاړم او د کور دواړه کړکی می وکتل دواړه بندی وه..! بیرته ذوالفقار خواته راغلم.
- ګوره ذوالفقار د دوه لارو څخه ډیر نه لرو، اول دا چې ته په لغتي باندی د دروازی قفل مات کړی، او دویم دا چی زه د کړکی ښیښه ماته کړم..! او په دواړه حالاتو کی امکان لری زما همسایه ګان راویښ شی؟ ته څه فکر کوی؟

ذوالفقار څو ځله خپل سر د فکر کولو په انداز و ښوره وی، او زما وړاندیزونو ته یی فکر وکړو او بیا په یو ناساپه عملکرد او حرکت کې په لغتی باندی د دهلیز دروازه ماته کړه او خلاصه يي کړه...! په پوره طبیعی توګه متوجه شوم چی ذوالفقار ته زما اولی خبره ډیره په زړه پوره لګیدلی وه!

کوټي ته داخل شو برقونه مې روښانه کړل، ذوالفقار په تروش تندی د کوټې په نالې کیناست، ډاډمن یم نن زما لځایه هر بل سوک وایې ذوالفقار ښه سم فرش ورکوی، خو نن ذوالفقار زما د خراب حال په لیدو خاص مراعات راسره وکړو.

- چاې څکې درته دم کړم؟
ذوالفقار- نه..
- ډوډی خوری؟
ذوالفقار- ومې ویل نه...
نور مې څه ونه ویل او یو کمپل مې ذوالفقار ته راوړی او خپل ځای مې هم د کوټې په کونج کې واچوی او دومره ژر ویده شوی وم چې حد نه درلود..

نه پوهیږم د ویده کیدلو مې سومره وخت تیر شوی وو چې د یو غږ په آوریدو راویښ شوم،خپل په ځای کي کیناستلم او شاوخوا می وکتل، خاموشه خاموشې وه ذوالفقار د کړکې خوا ته کرار ویده وو، هیس کوم عجیب شئ نه وو، یا شاید ماته نه معلومیدو.څو ثاني کیناستم خو هیس شکمن شئ می ونه لیدو او نه مي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وآوریدو. غوښتل می بیرته خپل په ځای کی پریوځم سر می بالښت ته رسیدلی نه وو چی بیا مې غږ وآوریدی..!

د غږ په آوریدو ژر خپل لځایه پاسیدم، شک می نه درلود چی هغه آواز د جنرال د لور آواز وو. بیحده واضح او صاف راتلی. آواز د حویلې څخه راتلی..! د زیات ویری څخه بدن کې می لړزه وولیدل، د ذوالفقار خوا ته مې وکتل آرام ویده وو، د قرآن آیتونه ویل مې شروع کړل او همدغه وقت بیا د هغې غږ راغې: هې دیخوا و ګوره....
د هغه غږ په آوریدو د ویری څخه ژړا ته نږدی شوی وم، سترګې مې پټې کړل او هر آیت او سورت مې چې زده مې و ویل مې شروع کړل، خو هیس فایده نکول او هغه غږ اوس د حویلې لځایه ما په کوټه کې آوریدی!

سترګې مې چې خلاصې کړی د کوټې په کونج کې په سپین بوجۍ مې سترګو ولګیدی، د بوجۍ خوا ته مې په وحشت کتل چې زما غیږ کې یو چا وویل: هې دیخوا زه دلته یم...
لاندی مې چې وکتل خپل غیږ کې می د جنرال د لور پری شوی سر چې سترګی، پوزه او غوږونه یې نه وه او په وینو لړلی ویښتیان یې پر مخ زړیدل ولید، او بې اختیاره مې لخولې چیغه ووت، زما د چیغ پر غږ ذوالفقار په تلوار لخوبه پاسیدی ګروپ یې روښانه کړو او زما خوا ته راغې...

ذوالفقار- څه شوی طاها..؟ ښه یې؟
د زیات ویری له لاسه مې ساه، ساه وهل خپل کمپل خوا ته مې وکتل هیس هم نه وو! د کوټې کونج ته مې وکتل هلته کوم شئ نه وو.. ذوالفقار په تلوار له کوټې ووت او د یو پیاله اوبو سره راغې اوبه مې د ذوالفقار څخه واخیستل خو یو غوړپ مې ورڅخه نشو کولې زړه مې په نا کراری په سینه کې مې تپیدی..

ذوالفقار- هیس شئ نشته طاها یو غوړپ اوبه وڅکه آرام اوسیږه ...
د سو دقو وروسته لږ حالت مې ښه شو اوبه مې وڅکل خو اوس هم بیحده ډاریدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم په همغه ویری او وحشت مې ذوالفقار ته قیصه وکړل ..
ذوالفقار په غوسه وویل: دا لا تا غوښتل یوازې ځان دی کورته راشې؟ نن په یو ورځ کې ته دوه دری ځله ویره ولې یئ، د جنرال لور خو لاړه خدای دی وبخښی مړه شوه، دا کار د پیریانو دی او تا خو سو میاشتی د دوی څخه خپل د ځان د ساتلو درس ویلې..! ته د څه لپاره تلې هغه استاذ ته څه نومیدی هغه ضیالحق ته؟

- خبره همدلته ده ذوالفقار زه آیتونه او سورته وایم خو کار نکوی..!
- کار کوی خو اول دا چې ته ایتونه غلط وایې او دویم دا چې ته د قرآن په ایت باور نلری..( د شمویل بیا پداسې ناساپه راتلو بې اختیاره د ویری څخه لځایه وپریدم او د هغه خواته مې وکتل...
ذوالفقار- څه وشو ښه یې؟
شمویل- وبخښه لکه چې بیا مې و ډاره ولې ماشوم

د شمویل پدی ناساپه راتلو غوسه مې راغلې وه خو څه مې ورته ونه ویل..
- هو ښه یم ..
ذوالفقار- ولې ناساپه داسې لځایه دی وپریدی؟
ذوالفقار په مشکوک انداز شاوخوا کتل، ځان سره مې وویل یعنی ذوالفقار که شمویل وګوری څه کار به وکړی؟ یعنی و به ویریږی؟
شمویل- ما اول اراده کړی وه چې ځان به ستا کاکا ته ښکاره کوم، ځکه زما په نظر ستا څخه هغه زیات زړه ور دی او زما په لیدو به و نه ویریږی، البته زما ګمان صحیح وو خو ستا کاکا بیحده بد خلق دی..

د شمویل خوا ته مې وکتل چې هغه په تروش تندی د ذوالفقار خوا ته وکتل او ویې ویل: کوټه کې یواځې وو ما د کوټې دروازه وټکول البته ځان مې ورته ښکاره نکړو غوښتې مې کرار کرار ورته معرفې وکړم چې زه پیری یم او غوارم ستا سره خبری وکړم، چې کاکا دی خوله خلاصه کړه او....
د شمویل په خبره په خندا شوم پوی شوم ذوالفقار ضرور کنخل او ګواښونه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي... زما په خندا ذوالفقار په حیرت خپل لاس زما به تندی کیخودو او ویې ویل: تبه خو هم نلری نو بیا ولې لکه لیونیانو پشان یو ځل خاندی بیا ژاړی؟

تازه مې ذوالفقار ته فکر شو.
- زه ښه یم ذوالفقار ورځه ویده شه، وبخښه داسې مې راویښ کړی..
ذوالفقار- که غواړی ته ویده شه زه ویښ کینم چې بیا ونه ویریږی..
د شمویل په شتون که نه ډاریدم نو ځکه مې وویل: نه کوم مشکل نشته ته ورځه کرار ویده شه زه ښه یم..

شمویل- کاکا دی فکر کوی د نن ورځی پیښې ستا عصاب بیځایه کړی او اپلاتی لګیا یې! ویده شه اوس خبری نکیږی سبا یو ځل ورشه د ضیالحق خوا ته هغه درته وایې چی مشکل څه دی او ولې ستا دعا په پیریانو اثر نکوی، زه همدلته ستا د کور شاوخوا ګرځم چی سوک درته تکلف و نه رسوی..

شمویل ددی خبرو وروسته بیا د نن غرمې پشان غیب شو، ذوالفقار یو څو دقیقی په شک او تردید راوکتل خو سه یې ونه ویل او خپل ځای ته ولاړی، زه هم خپل ځای کې پریوتم او د سل رقم فکرونو وروسته ویده شوی وم.. سهار د لمانځه وروسته ذوالفقار زبیر ته زنګ ووهې تر سو زما د کور کیلې راوړی او د حق څخه تیر نشو زبیر ډیر ژر ځان را ورسه وی هغه هم د مهم خبرو سره.... او هغه دا چې د جنرال د لور قاتل پیدا شوی وو!

د جنرال لور د هغه میړه وژلې وه! هیس مې باور نکیدی هغه بوډا دی دسی ظالمانه کار کړی وی خو لکه چې د جنرال لور خپل دا بوډا خاوند نه خوښیدی او یو ځوان هلک ته یې ګپ ورکړی وو چې ورسره وتختې، خو میړه یې خبر شوی وو او دا یې په دومره ظالمانه توګه مړه کړی وه..
- پولیس څنګه پوی شول چې دا کار د هغې خاوند کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- امںم لکه چې پولیسانو غوښتل د مړی شوی انجلۍ د خاوند اظهارت واخلې چې کور کې دغه سړی لاس تړلی ګیر کړی وو چې غوښتل یې د جنرال د لور سترګی چې ورنه غلطی کې له یاده وتې وه بوجۍ کې واچوی دفن کول خپل کور کی...

- سومره ظالم.... نو هغه هلک سنګه شو کوم چې د جنرال لور غوښتل ورسره وتختې؟

د دې څخه مخکې چې زبیر کوم جواب راکړی ذوالفقار په بې حوصله لهجه وویل: بس دی.... دا خبری چې آورم مغزه مې خط خطی کیږی...

نور مو څه ونه ویل او اراده مو وکړل د استاذ کور ته لاړشو البته ما غوښتل یواځې لاړشم خو ذوالفقار او زبیر و نه منل او اخیر کې مجبور دهغوی سره یوځای د ذوالفقار په موټر کی د استاذ کور خوا ته روان شو.. د نیم ساعت وروسته ورسیدو، د استاذ د کور موقعیت ډیر ښه و،د کوڅې سر کې یو منظم پاک او ښایسته جومات وو، چې اول ځل په لیدو زما خوش شو د همغه جومات امام خپله استاد وو، کله ناکله د جمعې په ورځ دغه جومات ته راتلم یواځې د استاد د نصیحت او خطبی د آوریدلو لپاره..

ماشالله خدای ورته په ژبه کې اثر پریخودلې وو هر خبره یې زما په زړه ښه لګیده، د کور دروازه مې وټکول او څو دقیقی وروسته خپله استاد دروازه خلاصه کړه، او زما پر لیدو یې وار له واره تندی خلاص شو، په نهایت خوش اخلاقی او مینه باندی مو یو دبل سره ستړی مشې وکړل او هغه موږ د میلمه خانې خوا ته دعوت کړو، د استاد د کور فضا ما ته تل آرمتیا راکول، یو متوسطه برابره کوټه چې په نالې او غالې پوښل شوی وه.. او یو کوچنې الماری چې د استاد د کتابونو څخه ډکه وه..

زموږ د کیناستلو سره سم استاذ د کوټې څخه د باندی ووت، پوهیدم غواړی د چای راوړلو فرمایش ورکړی.. دا سو میاشتو کې مې پیژندلی وو بغیر له چای څکلو څخه یې هیسکله نه پریخودم چې لاړشم، حتا کله ناکله د غرمې ډوډی مې هم همدلته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذ سره یوځای خوړل، د سو دقیقو وروسته استاد راغې او زما څنګ کې کیناست، په ورین تندی وویل: هی بې وفا شاګرده خپل دا بوډا استاذ دی له هیره ووتې وو؟

- خدای دی نکوی ولای اراده مې یو هفته مخکې کړې وه د راتلو بس یو سه ستونزی او مشکلات را پیښ شول او ونشو چې راشم بخښنه کوی..
استاذ زما پر اوږه لاس کیخودو او په یو نرمه مسکا او لهجه یې وویل: خدای دی وبخښه.. په راتګ دی خوشحاله کړم( بیا پداسې حال کې چې ذوالفقار او زبیر ته چې دوارو په یو مشکوک او حیرت انداز ما او د استاذ دومره صمیمت ته راکتل استاد د هغوی خوا ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا ځوانان سوک دی نه رامعرفې کوی؟

ذوالفقار خوا ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: دا زما کاکا دی ذوالفقار..
استاد- ای ماشالله سومره ځوان کاکا لری.. څهره یې زیات د مشر ورور پشان ښکاری نه د کاکاګانو پشان..
ذوالفقار په تروش تندی وویل: دا ستاسو شه نظر دی خو طاها زما وراره دی..
استاذ- خدای دی وساتې ښه هلک دی.. او هغه بل سوک دی..!
استاذ د زبیر خواته اشاره وکړل: هغه زما ملګری زبیر دی..
استاذ په خندا زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: همغه زبیر خان چې کله ناکله دی خپل خبرو کې یاده وی..؟
- هو همغه دی..

استاذ د زبیر سره په خبرو کولو لګیا و چې د کوټې دروازه کراره وټکیده او زه ژر خپل لځایه پاسیدم پوهیدم سوک ده او څه یې راوړی؟ د دروازی خوا ته ورغلم خو د خلاصیدو مخکې مې خپل ستونې صاف کړو، زما د ستونې صاف کولو آواز سره سم د یو چا د پښو غږ مې وآوریدی چې د کوټې دروازی څخه لری شوه..

یو سو ثانې صبر شوم او بیا مې کرار دروزاه خلاصه کړه او لاندی پر ځمکه ایښودل شوی پتونس چې پکې چای وه را واخیست... استاذ پینځه دانې لورګانې درلود خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو زوی یې هم نه درلود، نو ځکه لورګانو به یې چای راوړو او دروازه به یې ټکول تر سو مور لاړ شو او چای راواخلو ترموز مې راوخیست او خپل لګیا شوم او د چای پیالې مې ټولو ته ډکې کړل او بیرته خپل ځای کې کیناستم..

استاذ- ښه نو محمد طاها و دی نه ویل سه خبره وه چې ستا د راتلو مخه یې نیولی وه؟

استاد تل ماته محمد طاها ویل زما کامل نوم یې راته اخیست، په کراره لهجه استاد ته لګیا شوم او ټول قیصه مې ورته وکړل د بوجۍ د قیصې آوریدو وروسته استاد په تروش تندی وویل: خدای دی دا ظالم انسان تباه کړی، داسې ظالمانه او حیوانیت کار سوک کوی! بس د غیرت او ناموس په نوم اسلام او د هغه احکامو ته نګوری او داسی کارونه کوی.. ستا د دی خبرو څخه ما ته همداسې یو خبره یاد ته راغله..
حوصله لری تعریف کړم درته؟

- هو هو مهربانی مور غور یو استاذ..
استاذ په نرمه مسکا او طنز مزاج لهجه باندی وویل: صبر ددی نور راغلو میلمنو څخه هم پوښتنه وکړم هسی نه ووایې استاذ او شاګرد لګیا دی او مور ته توجه لا نکوی..
ذوالفقار خپل پیاله چای راوخیست او ویې ویل: نه مهربانی کوم مشکل نشته..
زبیر- مور هم غور یو مولوی صیب مهربانی...

ذوالفقار خپل پیاله چای راوخیست او ویې ویل: نه مهربانی کوم مشکل نشته..
زبیر- مور هم غور یو مولوی صیب مهربانی...

استاذ- خبره داسی وه چې زه مسجد کې ناست وم او د ماذدیګر آذانو وخت وو، او تا خو محمد طاها هغه د قران کریم د ترجمې د حلقې هلکان لیدلی..؟
- هو ...
استاذ- هغوی ته مې ترجمه ورکول چې یو بد حال شو ناساپه جومات کې خلک وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې منډې وهل او چیغې چې مولوی صیب ته و خدای ځان راورسه وه، ما هم ویل څه شوی؟ څه خبره ده؟ خو ټولو یواځې چیغی وهل نور څه نه ویل اخیر کار یو څو نفرو لاس نیولې د سړک هغه خوا یو کورته له ځانو سره روان کړم، هغه کور ته چې داخل شوم داسې حال وو لکه قیامت ... سم دم میدان حشر وو... یو سړی خپل ګریوان شکوی او چیغی وهل او د مړه کوم دی ولاکه دی پریږدم ناری وهل...

ورننږدی شوم او پوښتنه مې وکړل چې خبره څه ده؟ ولی دا حال دی؟ زما د زیات پوښتنو وروسته یو څو مشرانو راته قیصه وکړل او ما د قیصی آوریدو وروسته فکر وکړو چې دا زموږ جامعه او ټولنه کوم خوا ته روانه ده؟ ولې موږ د پرمختګ لځایه شاته روان یو؟ دغه سړی لس کاله کیدل چې واده کړی وو، او د واده په دویمه ورځ تللی وو خارج ته..! د مزدوری او کار پسی او خپل ښځه یې خپل د پلار کور کې پریخودلې وه، لس کاله دا سړی یو ځل را نه وو راغلې خپل د ښځې دیدن لپاره وطن ته...

لس کاله ددغه سړی ښځې خپل د خسر او خواښی سره تیر کړل لس کاله دی ښځې خپل د لیور او لیور ښځو مینځ کی تیر کړل پدی موده کې ددغه سړی کشر ورور خپل پدی وریندار مین کیږی..
- وای...
استاذ- اول لکه چې دا ښځه انکار و جنګ و دعوا کوی.. خو ښځې د مینی تږی وی هغه هم داسې ښځه چې لس کاله کیدل د یو نر مینه یې نه وه لیدلې.. خلاصه چې شیطان پر دی ښځې هم غالب شوی او خپل ددغه مجرد لیور سره جوړه شوی وه، هیس سوک نه وو خبر تر دی چی دا انجنی خپل د همدی مجرد لیور څخه ماشوم په نس کیږی..

ذوالفقار- استغفرالله..
استاذ- او دا ښځه نه پوهیږی چې زه ماشوم لرم ..! تر دی چې ماشوم د دری څلور میاشتو شوی او دا تازه پوه شوی. او ددی د پوهیدو سره سم ددی خاوند هم د لس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالو وروسته د خارج رارسیدلې او موضوع باندی خبر شوی.. او خپل ښځی ته نه دریدی ویل یې وژنم دی... هلک خو تختیدلی وو، خو انجلی ماشوم په نس پاتی وه دا خلکو زه غوښتی وم چې د مثلی حل ووایم د اسلام له لحاظ...!

زبیر- ښا نو سنگه شو اخیر؟
استاذ خپل پیاله چای څخه یو غړوپ وکړو او ماته یې وویل: حکم خو واضح وو کنه محمد طاها ..؟
د استاذ په خبره مې وروکتل او ومې ویل: زما په نظر داسې وقت کې اسلام حکم کوی چې ښځه باید تر هغه وقت وربانده د زنا حد جاری نشې ترسو ماشوم نړی ته راځې بیا دغه ماشوم ته د ټاکل شوی وقت یعنی دوه کاله شیدی ورکوی بیا د هغه وروسته باید پر ښځې حد د زنا جاری شې او د متاهل ښځې د زنا حکم دی سنگسار.. خو...

استاذ- افرین همدغه حکم دی خو زما خبره هم ستا پشان همدغه خو کی بنده ده... ولی باید یو انجلی واده کړی او لس کاله یې خپل د مور و پلار غلامه کړی؟ اسلام کی د نر لپاره د څلور میاشتو څخه زیات د سفر او خپل د ښځی څخه د لری کیدو اجازه نده ورکړل شوی.. او هغه وخت دوی په کلونو، کلونو خپل ښځې خوشی کوی او ځی خارج ته او هلته سل رقم بد عملونه او کارونه کوی خو زړونه یې غوړای هغه خوا څخه چې راشی ښځه یی همغسی پاک پاکیزه و اوسیږی پداسی حال کی چی خپل یی خارج کی کوم گلان به نه ویی کرلی...!

- اخیر فیصله سنگه شوه؟
استاذ- ما خو ورته د اسلام حکم او فرمان بیان کړو، خو زما د خبرو وروسته خلکو یو بد حال جوړ کړو چې مه وایه... هغه سړی ویل امکان نلری زه دی دا ښځه دومره پریږدم تر سو هغه هرمونی ماشوم نړی ته راوړی... او غوښتل یې همغه دقه کې ښځه مړه کړی ترسو دا د بی ناموسی تور خپل د ځان څخه لری کړی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مره يې کړه؟

استاذ ترموز را واخیست او په تروش تندی پداسې حال کې چې ځانته پیاله ډکول ویې ویل: دا فارسیبانان کله ناکله یو خبره کوی خو زموږ پر پوزه بده لګیږی هغوی وایې" پشتون ها سر نیم قران ایمان آوردن" او پخدای چې زه وایم دا خبره سل فیصده ربښتیا ده موږ په نیم قرآن لا کامل ایمان ندی راوړی او نه یې منو، یواځې هغه موضوع منو کوم چې زموږ پر خوښه وی.. کنه وګوره جنګ به بل چا کړی وی مرګ به بل چا کړی وی بدل کې خور او لور ځې.. میراث خو ولاکه ورکړی انجونو ته.. حتا نکاح چې اسلام وایې د انجلی او هلک پر خوښه هغه کې لا حق نه ورکوی... هی هی محمد طاها دا چې وایې پښتانه د بنې اسرائیلو د نسل څخه دی کله ناکله مې باور کیږی...

ذوالفقار- خدای دی ټولو ته هدایت نصیب کړی، خو داسې موضوعاتو کې پښتانه دین و ایمان ته نګوری...

استاذ- اممم دا خو ده ... بخښنه کوی ستاسو فکر مې هم خراب کړو...ښا محمد طاها ستا مشکل اوس سه دی؟

- خدای مو وبخښه.. هغه چل داسې دی استاذ چې هر سومره چې ایتونه او سورتونه وایم بیا هم کار نکوی..! او پیریان مې ډاره وی.. یو نفر راته ویل ته غلط آیتونه وایې او عقیده نلری ورباندی... دا څه معنا لری؟ زه خو پوی نشوم..!

استاذ- چا تاته دا خبری وکړل؟

- امم .. یو .. یو چا وویل..

استاذ په خندا وویل: مطلب نغواړی هغه کس معرفی کړی ...! مشکل نسته... دا چې درته ویلې چې آیتونه چپه وایې شاید مطلب يئ دا وو چې، انسان چې کله ورختا شې یا و ویریږی بیا داسې کیږی چې آیتونه غلط ووایې! مطلب د ویری له لاسه الفاظ ورنه ګډوډ شې.. خو د هغه ایتونو په زیات تکرار کولو او ویلو دا مشکل حل کیږی او نور درنه نه غلط کیږی.. او پاتی شوه خبره د عقیدی....!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا زیات غټ بحث دی.. زه به درته یو لنډ مثال درکړم... په پخوا وخت کې یو استاذ وو چې کم او زیات 40/45 شاګردان یئ درلود او ده به هغوی ته د قران کریم تفسیر زده کو، دده یو شاګرد وو چې تل به ناوخته راتلې تولګې ته یو ورځ دا استاذ خپل د شاګرد څخه پوښتنه وکړل چې وه هلک ته ولې تل ناوخته راځې؟ داسې وخت باندی راځې چی درس په خلاصیدو دی! شاګرد ورته وویل چې استاذ زما کور د نهر دریاچه( دریاب) هغه بلخوا دی او د نهر په سر چې کوم پل وو هغه مات شوی نو ځکه در راتلو وقت کې ناوخته کیږی ځکه زه مجبور کیږم نیم ساعت لامبو ووهم ترسو مدرسی ته راشم...

استاذ چې دا خبره وآوریده نو ورته په ټوکو کې وویل: بچیه که د درس شوق ولری نو دا بهاني دی مخه نشې نیولې، او بسم الله کړه د اوبو په سر راروان شه...! شاګرد چې وو زیات په عقیده کلک هلک وو هغه فکر وکړو چې د رښتیا هم که زه بسم الله ووایم نو د اوبو په سر تللې شم؟ خو وخت تیر شو سو وخته وروسته دغه شاګرد خپل استاذ ته میلمستیا وکړل، کله چې استاذ د هغه د کور پخوا روان شو نو مخکې همغه دریاچه راغله..! هلک بسم الله کړل او د اوبو په سر روان شو...! کله چې د اوبو هغه خوا ته ورسیدی نو خپل استاذ یې هک حیران ولید ..! شاګرد غږ کړل چې استاذ ولې ولاړ یاست؟

استاذ ورته وویل ته سنګه د اوبو په سر تیر شوی؟ شاګرد ورته وویل چې استاذ صیب خو تاسو راته ویلې وه چې بسم الله کړه او د اوبو په سر روان شه...!

استاذ دا خبره وکړل او په خندا شو د هغه په خبری ما هم وخندل چې استاذ ما ته په راکتلو په شوخ لهجه وویل: نو محمد طاها بسم الله کړه او پدی پیریانو ورشه... په خندا مې وویل: هغه متل دی وایې بسم الله خو یو بسم الله ده خو خوله د مولا عثمان غواړی.

زما په خبره استاذ په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: خوله نه عقیده د مولا عثمان غواړی.. اوس پوی شوی عقیده سه ته وایې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کم او زیات لړ خو پوی شوم خو ددی چاره سه ده؟ زه په قران عقیده لرم داسی نده چې نلرم خو هغه وخت چې و ویریږم فکر کوم د قران کریم آیتونه په پیریانو کار نکوی...!

استاذ- توبه استغفار .. دا نو سنګه خبره ده چې ته کوی؟ کار کوی زه درته ضمانت درکوم ته یو اعوذبالله او بسم الله د زړه د خلاصه ووایه هغه وخت بیا وګوره چې د پیری پلار لا درته تکلیف نشې رسه ولې...

د غرمې تر آذان د استاذ کور کې وو د تلو مخکې د خبری فیصله پدی وشوه چې زه به یو سو میاشتې نور هم استاذ ته راځم تر سو دا ځل راته د عقیدی درس راکړی..! مونځ مو د استاذ په جومات کې د هغه پسی ادا کړو، او روان شو البته استاذ زیات وویل چې غرمه دوډی زما سره یوځای وخوری خو موږ ونه منل او روان شو..

زبیر- اوس چیرته روان یاست؟
ذوالفقار- زه تاسو دواړه شرکت ته رسه وم او خپله زم یو بل ځای کار لرم.
- چیرته ځې؟
ذوالفقار د موټر له هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: نور هغه کور کې اوسیدلې نشم غواړم د کور سامان ټول کړم او هغه کور خرڅ کړم..
زبیر- اول یو بل کور واخله بیا دا خرڅ کړه، هغه دومره د کور شیان چیرته وړی کله چې بل کور ونلری؟
ذوالفقار- سو وخته مخکې مې اراده کړی وه چې د هغه ځای څخه کډه وکړم... خو اوس لکه چې قسمت وو... او هو زما یو ملګری تللې خارج ته او هغه خپل کور د خرڅلاو لپاره ایخودلې پرون شپه مې ورسره خبره وکړل، او په بیه جوړ راغلو زه نن خپل د کور سامان هغه کور ته وړم او خپل کور خرڅ کوم.. البته هر کله چې خرڅ شو ...

- نو موږ ولې شرکت ته وړی؟ موږ هم راځو ستا مرستې ته ...
ذوالفقار په تروش تندی وویل: ضرورت نشته.. فهیم او طاهر مې راغوښتې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته کوی ته بیخی نور د جنرال د کور خواته رانشی...
زبیر- سمده موږ هلته نه درځو خو موږ خپل نوی کورته ویسه کله چې تاسو د کور سامان راوړل نو ما او طاها به یې په نوی کور کې ځای پر ځای کړو...

د ذوالفقار نوی کور چې اخیستې وه زیات لوکس او قیمتې منطقې کی وو، د زبیر خبره دلته خو ټول رئیسان ژوند کوی، زیات ښکلې او آرام فضا وه. یو دوه منزل کور د یو ښایسته حویلې سره چې کامل په شین چمن پوښل شوی وه، کور دننه هم په عصری شیانو تزئین شوی وه... کور زیات قیمتې معلومیدی هغه رنګ او روغن څخه یئ...

- ذوالفقار..
ذوالفقار- اممم.
- دا کور دی سو واخیستې؟
ذوالفقار- اممم سو ارزی ستا په نظر؟
- نه پوهیږم خو زیات ارزی ځکه زیات ښایسته دی.. مبارک دی شه ...
ذوالفقار- مننه... تاسو همدلته اوسیږی موږ یو دوه ساعت وروسته د کور شیان راوړ..

د ذوالفقار د تلو وروسته ما او زبیر لکه نادیده مخلوق ټول کور مو کونج پر کونج وکتې اول منزل او دویم منزل دواړه یو ډیزاین وه دری کوټې یو آشپزخانه او یو حمام پورته او دری کوټې یو آشپزخانه و حمام لاندی وو، کله چې د کور دننه مو ښه په زبر او زیر وکتې نو حویلې ته لاړو.. زما یې د اول څخه حویلې خوښه شوی وه زیات غټه او مکمل په چمن پوښل شوی وه..! د حویلې کتو وروسته زبیر ټینګار وکړو چې باید بیرون هم لاړشو او یو ځل بیا له سره کوڅه او د شاوخوا همسایه ګانو کورنو هم وګورو..

- ته لیونې یې زبیر؟ اخ کوڅه کې ته څه مرګ غواړې وګورې؟
زبیر- راځه کور مو وکتو بس دی لاړشو وګورو بیرون څه خبره ده؟ او هو همدلته منتظر پاتی کیږو چې ذوالفقار دوی هم راشې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهیږم ولې خو بیا مې هم زړه د هغه سهار پشان شوی وو کوم سهار چې د جنرال لور مې مړه شوه په بوجۍ کی ولیده! همغسې بد احساس مې درلود همدا چې د کور ښځه ووتلو ما غوښتل زبیر ته دا خبره وکړم چې زه بد احساس لرم خو د زبیر متعجب او حیرانه غږ د خبرو کولو څخه منع کړم...!

زبیر- وا..... طاها هلته وګوره....
د زبیر د لاس اشاره مې تعقیب کړل او د مخامخ نفر په لیدو مې د حیرت څخه سترګې خلاصې پاتې شوی...! میشا...!
زبیر د سو ثانیو وروسته په خوشحالی او خندا زما خواته وکتل او ویې ویل: وای وای ته سومره خوش شانسه یې طاها...
- مرګ مرګ بلا بلا...
زبیر- هههههه هر چیرته ستا کاکا کېده وړی همغه کوڅه کې ستا یو معشوقه لیلا پیدا کیږی دومره مینوال... هی هی دا په کوم مولا دی ځانته داسې تعویذ کړی ماته هم آدرس راکړه...!

- مرګ خوله دی بنده کړه ... شاید دلته یې کرر نه ویې..!؟
زبیر- اممم ما ته خو داسې نه ښکار سم وګوره( د میشا خوا ته مې وکتل د هغې تراوسه موږ ته پام شوی نه وو د ذوالفقار د کور مخامخ همسایه د کور د بام په سر ولاړه وه او کالې په تار اچول..! خدای دا دومره بد شانس ددی له لاسه ما په پوهنتون کې ښه ورځ نه وه لیدلی او واس..!) داسې ښکاری لکه چې ددي خپل کور دی!؟ وګوره په تار کالې اچوی...!

هیس مې ونه ویل او خپل نظر مې د هغې څخه واخیست، بده انجلې نه وه خو بس زما په زړه ښه ونه لګیده، البته هغه وخت مې ورنه بد راغلل چې ما او زبیر یې رستورانت ته دعوت کړو..! د یو انجلې لپاره شرم او حیا مهمترینه شئ دی چې ددی وجود کې ماته د غنم اندازه هم نه ښکاره کیده..! او اوس هم داسی په بی حجابی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بام سر ته پورته شوی وه چې هم د کوځې هلکانو د اندام هر برخه ورځخه شمیرل شول او هم د همسایه هلکانو..

زما سر ښکته وو او زبیر ته لګیا وم چې کور ته راځه خو هغه اراده وه چې میشا ته ځان ښکاره کړی او اخیر هم خپل کار وکړو...
زبیر- اغلې میشا دیخوا...!
د زبیر په غږ میشا زموږ خوا ته راوکتل زموږ په لیدو یې ناساپه کوم جوړه کالې چې لاس کې وه ترسو په تار واچوی د لاس لاندی زموږ خوا ته ختا شوه ... د هغې پدی کار زبیر په شیطنت کرار زما د غوږ انډی ته وویل: اخ د هغه هندی فلمو پشان خپل د یارررر په لیدو یې ټکری ختا شو...
- ای مرګ زه لاړم..

دا خبره مې وکړل او په غوسه کور ته داخل شوم، وای یو همدا مصیبت کم وو! مجبور زه د ذوالفقار کور ته د راتلو څخه نور انصراف ورکړم... خدای دی وبخښی هغه د جنرال لور لا دومره بې شرمه نه وه سومره چې دا میشا ماته بیحیا ښکاری..! د نیم ساعت وروسته زبیر یو چګ او دوه پیالې په لاس کور ته راداخل شو زه د حویلې چمن کې ناست وم.. زما په لیدو زبیر په خندا چګ زما څنګ ته کیخودو او ویې ویل: وګوره لیلا خانوم دی درته څه راوستول د لیمو جوس.... پدی ګرمې کی وایې سخت خوند کوی...

- زبیر پخدای قسم پر عصابو مې لاړشې وهم دی..
زبیر- وا .... ما نو څه ویلې؟ خو هغې ویل( زبیر د میشا د غږ تقلید وکړو او همغه نری لهجه باندی وویل: دا جوس واخلې تاسو او ښاغلې طاها یې وڅکې زیات ګرمي ده... او هوو غرمه بیا ډوډی مه پخه وی تاسو تازه همسایه ګان یاست زه تاسو ته ډوډی راوړم...

- تا هغې ته وویل چې دی کور ته موږ کډه راوړی؟ یعنی نیم ساعت کیدی ټول معلومات ورکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- عه نه خیرن هغې پوښتنه وکړل تاسو دلته ځنګه؟ ما هم ورته وویل چې د طاها کاکا دا کور اخیستې.. طاها نه ویې چې وګوری د انجلې سترګې د خوشحالې له لاسه داسې پړقیدی چې مه وایه...

- مرګ..

زبیر- بلا یو همدا مرګ مرګ دی زده کړی، ګوره درته د یو ملګری پشان نصیحت کوم د جنرال بیچاره لور خو لاړه ډی ته شوه همدا اغلې میشا خانوم سره لین او دین جوړ کړه د مجردی ځخه به خلاص شی بدبخت...

د ذوالفقار تر راتلو زما او د زبیر جنګ وو په همدی خبره کې، د زبیر لاس ته بیا یو نوی موضوع ورغلې وه، او زه یې په هغه پعذاب کولم ..د ذوالفقار په راتلو مو دا خبری نور بندی کړی... یو غټ موټر چې د ذوالفقار د کور د سامان الاتو ځخه ډک وو کوځه کې ولاړ وو او د هغه موټر شاته د ذوالفقار موټر وو، طاهر، فهیم، د عمه مشر زوی انور او فرید هم لکه چې مرستې ته راغلې وه ...! د فرید په لیدو مې د ټولو ځخه زیات حیرت وکړو، یعنی د هغه دومره وهلو ډبولو او بې احترامی او بیاب کولو وروسته اوس بیا راغلې؟

د ټولو سره مو سترې مشی وکړل او د کور د شیانو په وړلو لګیا شو، ذوالفقار هم هر یو دقیقه وروسته زموږ خوا ته راتلې او ګواښ یې کوی که هر چا کوم شې مات کړو د هغه لاس او پښې ورمات کوی! خلاصه چې ټولو په احتیاط او نهایت توجه سره شیان کور ته ننویستل شاید نیم ساعت لا نه وو تیر شوی چې ذوالفقار په تروش تندی زما او د زبیر خوا ته چې دواړه لګیا وو او یخچال مو کورته ننویستې راغې...

ذوالفقار- هغه انجلې تاسو دواړه پیژنی؟

د ذوالفقار د سترګو اشاره مو تعقیب کړل او هوووو اغلې میشا...! خپل د بام سر ته پورته شوی وه او دوه سترګې زموږ خوا ته نیولې وه!

زبیر په خندا وویل: نه ولې څه یې کړی؟

ذوالفقار- اپلاتی مه وایه د هغی نظر په تاسو دواړو دی نو مطلب تاسو پیژنی..؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبير-
هغه ...! هو مطلب لږ سره پيژنو د پوهنتون ټولګې واله ملګری مو وه.. بس هی نو د قسمت خبری دی نن مو د سومره وخت وروسته وليده..
ذوالفقار په غوسه وويل: هر سوک چې ده که تاسو پيژنی او که نه ښه نده داسې د شل هلکانو بلخصوص فريد او فهيم پشان هلکانو مخکې داسې په بې حجاب توګه ځان ښکاره کړی..

زبير- ذوالفقار هغه زموږ مسئوليت ندی، خپل پوهيږی خپل ژوند يې پر موږ يې څه؟ تر سبا سهار دی همدلته و دريږی د بام په سر زه خو په ليدو يې خوشحاليږم نه خفه ..! ته سنګه طاها..؟
- بنده کړه خوله دی زبير...( بيا مې مخ د ذوالفقار خوا ته کړو او ومې ويل: ما خو د همدا اوس څخه اراده ده چې ستا د کور شيان سم کړم او الفرار.. نور هيسکله ستا کور ته نه راځم..
ذوالفقار- غول مخوره زه څه لګيا يم او ته څه وايې؟
- ته چې هر څه وايې زه کوم خبره وربانډی نلرم، ما يواځې خپل خبره درته وکړل..

دا خبره مې وکړل او د زبير سره لګيا شو ترسو يخچال ننباسو کورته .. زما په نظر بغير د زبير دوالفقار او بابا څخه بل کوم سوک خبر نه وه چې د جنرال د لور د قتل الزام پر ما لګيدلې وو؟ ځکه که سوک خبر وايې بلخصوص فريد خامخا يې يو خبره او يو مضريت کوی. د ماښام آذنو وقت کې مو تول شيان کورته ننويستل، او بيا ټول د زيات ستړيا څخه يو کونج کې بې هوښ څملاستو، چې د حويلې دروازه يو چا وټکول...

ذوالفقار- فهيم پاسه دروازه خلاصه کړه..
فهيم په ناراضه توګه پاسيدی ترسو دروازه خلاصه کړی تندی داسې تروش نيولې وو لکه چې ذوالفقار کوم جهاد ته استوی؟ د څو دقيقو وروسته فهيم په خلاص خوله د خندا او خوشحالې پداسې حال کې چې لاس کې يو ديګ وو دهليز ته رانوتې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرید- دا لاس کیدی دیگ د څه دی؟
فهیم په خوشحالۍ وویل: دا راته مخامخ د همسایه لور راکړل ویل تاسو نوی راغلې یاست او شاید دیگ مو نه یې پخ کړی ..!
ذوالفقار- مننه به دی ورڅخه کړی وایې خو ویلې به دی وایې چې مونږ د بیرون څخه ځانته بوډی راغوښتې دومره زحمت ته ضرورت نه وو....
فهیم- اووو کاکا تاسو هم زیات حوصله لری چې دومره خبرو پسی ګرځې مفته بوډی ده مزی داره خوره یې نور څه کوی..؟

چا سه ونه ویل او هغوې لګیا شوه د بوډی په خوړلو ما، زبیر او ذوالفقار مونږ دری وارو هغه راغلې بوډی ته لاس لا و نه وهې.
ذوالفقار لاړی او د بیرون څخه یې دری خوراک قابلې راوړل مونږ همغه وخوړل، شپه ناوخته وو نو ځکه کوم سوک کور ته ولانړی او ټول د ذوالفقار په کور کې دیره واچول، ما مونځ کوی د دهلیز کونج کې ولاړ وم او دا نور هلکان ناست وه مجلس یې کوی، چې ناساپه فرید په طعنې وویل:

فرید- ولای دا ځینی کسانو ریا کاری ته چې ګورم بیخی مې زړه د اسلام څخه ونیول شې..
پوی شوم چې د فرید مطلب زه وم، چې مثال د مجلس مخکې ولاړ وم او مونځ مې کوی.. یا هم دده په خبره ریا کاری می کول...
ذوالفقار- ته نر شه همداسې ریاکاری وکړه شابه... تا خو دغه ریاکاری لا نزده..
فرید- زه نغوارم چـ....
ذوالفقار د فرید خبره ورپری کړل او ویې ویل: ګوره د اوس څخه وایم خبرو ته دی پام کوه هسی نه سم جوړ کتک به دی خوړلې وی..

لکه چې د ذوالفقار ګواښ کار وکړو چې فرید نور خاموش شو، ژر مې مونځ ادا کړو تر سو د فرید نظر زما څخه واوړی او نور بیځایه خبری ونکړی راپسی.. د مونځ خلاصیدو وروسته راغلم خپل ځای ته، د ذوالفقار څنګ کې کیناستم چې انور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیجان وویل: راځې هلکانو یو لوبه وکړو..
زبیر- څه لوبه مثال؟
انور- د لاس زور معلوم کړو..
- څه فایده کله چې معلوم دی اخیر ګټونکې ذوالفقار دی..؟
زبیر- طاها رښتیا وایې ددی لوبې ګټونکې د وخت معلوم دی نو خوند نکوی..

زما او د زبیر په خبرو ذوالفقار چې بالښت ته تکیه ورکړې وه او سترګې پټې وه، سر راپورته کړو او په خندا یې وویل: اول تاسو یو د بل سره د لاس زور معلوم کړی بیا اخیر کې چې هر سوک پاتی شو ستاسو مینځ کې او چا ونشو کړی هغه ته ماته ورکړی زه د هغه سره د لاس زور لګوم...

د ذوالفقار خبره ټولو تایید کړل او لګیا شول اول طاهر او انور د لاس زور معلوم کړو او په نهایت حیرت کې انوار چې په عمر کې د طاهر او حتا زما څخه لا یو کال ماشوم وو طاهر په اول دقه کې مات کړو..! بیا فهیم ورمخکې شو یو څه وخت یط ونیو خو اخیر کې انوار فهیم ته هم ماته ورکړل...!
زبیر- دا څنګه چل دی؟ دا هلک کوم تخنیک کاره ویې که سنګه؟
- ولاکه نه یم خبر...
د زبیر په خبره نه وم خبر چې آیا کوم تخنیک دی که سنګه؟ خو انوار یو پر بل پسی ټولو ته ماته ورکړل...!

فرید- دا زه نه منم دا انوار یو چل کوی...
انوار- وا... څه چل مې وهلې لاس په لاس درسره لوبه کوم..
فهیم- همدغه لاس کې یو چل وهې...
زبیر- چل نه باید ووایو تخنیک..!

د زبیر د ماتې وروسته نمبر زما راورسیدی، د لوبی لپاره لاندی مو یو بالښت ایخودلی وو او د بالښت په سر مو د لاس زور معلوم کوی، ما او انوار لاس په لاس شو دومره قوی نه معلومیدی؟ یعنی سنګه چې ده طاهر، زبیر، فهیم او فرید ته ماته ورکړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویل ضرور شاید لږ قوی اوسیږی..! خو په بیحده آرمتیا کې د انوار لاس مې لاندی خواته ویوړو داسې چې هغه د زیات فشار څخه تک سور شوی وو او غوښتې خپل لاس بیرته راپورته کړی خو ما همغسی کرار کرار ښکته وړو لاس یې...

لږ پاتی وو چې د انوار لاس په بالښت ولګیږی او زه یې ورنه وګټم، چې ناساپه مې د سترګو د کونج مخامخ کوټې ته فکر شو د هغه دروازه خلاصه وه خو ناساپه خپل بنده شوه؟ او د بند کیدو سره سم مې یو تور دود ولید...! د هغه صحنې په لیدو مې فکر خراب شو انوار هم د فرصت څخه ګټه واخیسته او زه یې مات کړم...!

ذوالفقار په تروش تندی او مشکوک انداز زما خواته راوکتل او ویې ویل: ښه یې طاها؟

- ه... هو.. زه ښه یم...

زبیر- عه طاها ګټلې لوبه دی وبایلل...

زبیر خبری کول فرید او فهیم هم بیځایه پروفیسرانه مشوری ورکول خو زما ټول فکر د هغه کوټې خوا ته وو! سل فیصده ډاډمن وم چې یو شې کوټه کې وو؟ د کوټې څخه مې نظر راوخیست او د ذوالفقار و انوار لوبی ته په کتو شوم همغه اول دقه کې ذوالفقار انوار ته ماته ورکړل.. خو انوار و نه منل او په سل بهانو چې زما فکر نه و او فلان و بستان وو یو ځل بیا یئ د ذوالفقار سره د لاس زور ولګوی..

دا ځل ذوالفقار ورسره ټوکې کول ځکه د راسته لاس لځایه په چپه لاس ورسره زور معلوم کوی او خندل یې ورباندی.. د ذوالفقار خندا انوار د قهر او غوسی اخیری حد ته رسه ولې وو، ما او زبیر هم په خندا د انوار هغه حالت ته کتل چې کوښښ یې کوی ذوالفقار ته ماته ورکړی.. خو ذوالفقار په بیحد آرامتیا لاس نیولې وو او انوار زره اندازه لا د ذوالفقار لاس ته شور نشو ورکولې.. د سو دقیقو کش مکش وروسته انوار اخیر تسلیم شو او خپل ماته یې ومنل...

ذوالفقار په خندا بالښت ته تکیه ورکړل او ویې ویل: همدومره وو زور دی؟
انوار- ولای ماما تکړه یاست ماشالله ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- عادت دی...د سړی بدن چی هرسومره سخت ورباندی تیر کړی هغومره قوی کیږی...

یوولس بجو خوا وه چې د ویده کیدو اراده مو وکړل ټول دهلیز کې پریوتو ځکه یواځې د دهلیز پکه مو وصل کړی وه نور کوټو کې پکه نه وه .. ما خپل ځای د دیوال خوا ته واچوی سو دقو وروسته ټول د زیات ستړیا څخه ویده شول ذوالفقار زما او د زبیر مینځ کی ویده شو. د ګروپو د خاموش کیدو دوه دقیقې لا نه وه تیر شوی چی ویده شوی وم.د ویده کیدو څخه می ډیر وخت نه و تیر شوی چی یو آواز می تر غوږ شو، او ددی سبب شو چی په خوب کی مي وقفه راشی، آواز د خش خش پشان وو!

داسی لکه چی یو څوک خپل پښی په ځمکه کشه ویی او په کوټه کی روان دی. هغه آواز دومره ډیر وو چی زه یی له خوبه را جیګ کړم، تراوسه می سترګی پټی وه ځان سره می وویل شاید کوم هلک راپاسیدلی ویی؟ ددی لپاره چی زړه می ډاډمن شی سترګی می خلاصی کړی. د د هلیز هوا تیاره وه خو کوم رڼا چې د آشپزخاني څخه راتلل  کوټه یی یوسه رڼا کړی وه. د هلکانو طرف ته می مخ وګرځه وی بغیر لدی چی خپل په ځای کی کینم خپل سر می دبالښت څخه پورته کړو. ناساپه می ولیدو چې یو نفر ماته مخامخ د طاهر و سر ته ناست دی...!

په هغه توره شپه کې مې هم د هغه نفر د سترګو بیحده پرقیدل او خبیث خندا لیدلی شوه! ما ته یې په کتلو د طاهر په مخ ژبه تیره کړل...! خو طاهر هیس کوم خاص حرکت ونکړو او همغسې پروت وو! شاید سو ثانې د طاهر و سر ته ناست وو خو همدا چې ما کلمې ویل شروع کړل یو دم هغه غیب شو لکه دود پشان ...! په تلوار د ذوالفقار څخه وآوریدم او ځان می د طاهر سر ته ورسه ویې. د ذوالفقار څخه د آوریدو په وخت پښه می دهغه په ملا ولګیده، چی د هغه اواز په قهر باندی پورته شو: هوشش حیوان پام ملا دی را سوری کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بغیر لدی چی د ذوالفقار خبری ته کوم توجه وکړم ځان مې د طاهر څنګ ته ورسه ویې نفس اخیستل مې ورنه چک کړل سینه یې منظم پورته ښکته کیدل شکر ژوند وو..! د هغه لیدلې صحنی په حیرت کی وم! په دقت باندی می د کوټی کونج کونج وکتو خو کوم عجیب شئ می ونه لیدی حالت نرمال وو، دروازه او کړکی بندی وه او کوم عجیه غږ هم نه راتلو. کوم عجیبه سایه مایه هم نه لیدل کیده. زړه می یوسه راحته شو.

د طاهر د څنګ څخه پاسیدم د تلو مخکې یو ځل بیا مې وروکتل کرار ویده وو..

د طاهر د څنګ څخه خپل ځای خواته روان شوم او بیا د ذوالفقار څخه وآورېدم ترسو خپل په ځای پریوځم، چی غلطی کی مي پښه د ذوالفقار په سر ولګیده...! پوهیدم چی همدا اوس دی چی ذوالفقار یو وحشیانه کار وکړی! او همغسې هم وشو ذوالفقار په قهر او غوسی باندی زما نوم واخیستی او خپل لځایه پاسیدی ددی څخه مخکی چی ورنه بخښنه وغوارم ذوالفقار زه د اوږو څخه ونیولم او په نالې باندی وویشتم، د کمپل او بالښت با وجود کوم ځای می خوږ نشو او درد یی ونکړو، خو دومره په کلکه باندی په نالی باندی وهلی وم چی دری منه په نالې کې ننوتلم. کله چی ذوالفقار خپل په ځای پریوتی کرار مې ویل: وبخښه.

ذوالفقار- بنده کړه خوله دی، پخدای قسم که یو بل ځل زما څخه وآورېدی، لین درته نیسم او تور و شین کوم دی.
- سمه ده بیا هم وبخښه
ذوالفقار- دومره هم مه وایه وبخښنه.

اصلا نه می درک کوی چی ذوالفقار پدی وخت کی کوم خبر غوښتل زما څخه وآوری؟ نور خبری می ونکړل او خاموش شوم ترسو ذوالفقار ویده شي. خپله هم ډیر ستړی وم او بیحده خوب می راتلی خو فکر می ګډو وډ وو او خوب ته یي نه پریخودم. همدا چی سترګی مي پټی کول د هغه پیری څهره می ذهن ته راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهیدم چی ددی کار څخه یي څه مطلب وو؟ ولی پداسی وخت کی ځان راښکاره کړو؟ او ولې د طاهر سره یې هغه کار وکړو؟ بی دلیله خو ځان نه ښکاره کوی، او سم پیریان خو پداسی انداز هیڅکله نه راځی ترسو مقابل کسی زاهره ور وچوی، فکر مې کو چې یو شانتې ګواښ دی..!

ذوالفقار- څه درباندی شوی؟
- ها؟
ذوالفقار- وایم ولې نه ویدیږی؟
ذوالفقار خوا ته مې مخ کړو او ومې ویل: یو دقه مې دسی احساس وکړو چې زموږ څخه بغیر یو بل سوک هم شته کوټه کي..
ذوالفقار- هسې احساس دی کړی هیس شئ نشته.. ما خو کوم عجیبه شې ندی لیدلی ..!

غوښتل مې ورته ووایم چې ما ولیدی یو سوک د طاهر و سر ته، خو ځان سره مې وویل ولې هسی د هغه خوب هم حرام کوی! نو ځکه خاموش شوم، ذوالفقار لکه چې خوی راتلې چی خاموش شو او نور څه یې ونه ویل، زه هم ستونې ستخ پریوتم او بیا سل فکرونو په مخه کړم... چې ذوالفقار خپل لاس زما په سترګو کیخودو او سو دقیقو لپاره یې خپل لاس زما په سترګې نیولې وه.... نور نو د رښتیا هم د خوب وخت وو.. همغسې خوب وړی وم.... سهار د آذان په غږ راویښ شوم.. د ټولو څخه اول زه راویښ شوی وم ...! نور ټول ویده وه کرار لځایه پاسیدیم او بیحده کوښښ مې وکړو چې هسی نه بیا د ذوالفقار په سر، لاس، او پښو لغت نکړم چې دا ځل مې خامخا مړ کوی..

د دهلیز څخه ووتلم هوا تراواسه پوره روښانه شوی نه وه، د لری ځایونو څخه د آذانو غږونه راتلل..! اودس مې حویلې کې وکړو او غوښتل مې دهلیز ته ننوځم چې دوه دانې پیشو ګانې مې په جنګ ولیدی؟! یو میو میو ویل او دا بل بیا هو هو ویل..! یو بام په سر ولاړه وه او دا بل بیا د کور په دیوال ولاړه وه، یو دانه خړه پیشو وه او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ژیړه! دا خړه پیشو راته مظلوم ښکاره شوه...!هسی د ژیړ پیشو زیات بی شرمه وی..

نو ځکه د هغه خړی پیشو چی زما په نظر مظلوم ښکاره شوه د هغه طرفداری می وکړل... اممم د ذوالفقار بوټ خو نشم ګوزار کولی.. دا خو هم د طاهر دی اها.... د فرید....! په یو شیطانی خندا باندی می د فرید بوټ راوخیستی او په هغه ژیړ پیشو مې ګزار کړو.. بوټ د حویلې په کونج کې وغورځیدی په بپشو ونه لګیدی خو دواړه و ډار شول او وتښتیدل...

د هغوی د تلو وروسته په بیغمه خیال دهلیز ته ننوتلم، په مانځه ولاړ وم چې ذوالفقار هم پاسیدی او بیرون ووتې.. مونځ مې خلاص کړو په هغه ویده مخلوقاتو مې هم یو غږ وکړو او خپل ځای ته لاړم او ډیر ژر بیرته ویده شوی وم.. سهار د زبیر په چغو له خوبه پاسیدم نور سوک نه وه لکه چې ټول تللې وه..!

زبیر- ډیر نمک حرام انسان یې...!
- ولې؟
زبیر- ته پدی کارونو دی اخیر انسان مجبوره کوی چې یو خبره درته وکړی...
- سم خبره کوه څه مې کړی؟
زبیر- منم چې د کاکا شرکت ددی خو دا معنا نلری چې ته پکې بی ایمانی او ټنبلې شروع کړی هغه بیچاره به د شرم څخه څه نه وایې چې ته خفه نشې.. او ته...! کال کې یو ورځ زی شرکت ته کار دی معلوم ندی خو د معاش وخت کې پیسی دوه چنده اخلې.. اصلا ته دا راته ووایه چې دا یو میاشت کې ته سو ورځی تللې یئ شرکت ته؟

د زبیر خبرو د رښتیا هم خجالت زده کړم، رښتیا یې ویل پدی یو میاشت کې ما یو هفته لا سم کار نه وکړی، خو ذوالفقار راته کامل د یو میاشت تنخوا راکړل..! ذوالفقار زیات موږ دواړو ته بلخصوص ما ته مراعات کوو...
- ښا نو اوس څه وکړم؟ خپله خو پوهیږی چې ولې شرکت ته دا سو ورځی رانغلم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- منم چې دا سو ورځی دی طبعیت ښه نه وو، خو دا معنا نلری چې ته دی کار پریږدی او مفته پیسی د ذوالفقار څخه وغواړی...! ستا وجدان دا منې؟

- زبیر..!
زبیر- ها..!
- د کار پسی وګرځه یو بل ځای دواړو ته کار پیدا کړه نور د ذوالفقار شرکت ته نه ځو ستا خبره یو دم صحیح ده هغه بیچاره به د شرم او لیاظ څه نشی ویلې او موږ داسې نخری شروع کړی.. یو ورځ ځو بیا لس ورځې نه ځو...!
زبیر- افرین زه هم همدغه درته وایم... زه سر له نن د یوبل کار پسی ګرځم...
- اهوم ... خو دا راته ووایه چې ته څنګه یوځل داسې صوفې شوی او د ذوالفقار په غم کې شوی؟

زبیر- زه تل د حق خبره کوم...
- رښتیا ووایه زه تا پیژنم ضرور کوم خبره خو شوی..! ذوالفقار درته کوم څه ویلې؟
زبیر- هغه انجلې چې د ذوالفقار شریک د کار لپاره معرفې کړی وه ..!
- ښا؟
زبیر- هغه سره مې جنګ وشو..!
په حیرت مې وویل: په اول ورځ دی ورسره جنګ وکړو په څه خبره؟
زبیر په غوسه وویل: یو توره بدرنګه شئ ده چې خدای دی درباندی و نه وینې طاها، ما ورته یواځې وویل چې خاله هغه د سروی لیست راکړه داسې خبری راته وکړل چې مه وایه...

په خندا مې ورته وویل:دا نو خبره وه چې تا ورته کړی خاله! هغه خو د عمر څخه هم ماشومه معلومیده او هم زما په نظر مجرده...!

زبیر- اووو تا سم لیدلی نده د کوم خوا ماشومه؟ هغه زما د انا په عمر ده او هو هر څه چی ده ما خو ورته کنځل ونکړل، یواځی می ورته وویل خاله.. بس...
په خندا لځایه پاسیدم ذوالففار نه راته ښکاره کیدی نو ځکه پوښتنه مې وکړل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار چیرته تللې؟
زبیر- تللی ډوډۍ راوړی..
- اهوم... خو ما ستا خبره خوښه شوه..
زبیر په خوشحالۍ وویل: ما درته وویل چې ښه خبره مې ورته کړی وه خاله ده کنه..

په خندا مې وویل: بلا هغه نه یادوم د کار په اړه و ګرځه یو بل ځای د کار پسی..
ددی څخه مخکې چې زبیر کوم جواب راکړی ذوالفقار ګرم ډوډی په لاس کورته رانوتې.. د هغه په لیدو موږ خپل خبری بندی کړی.. د ډوډی خوړولو وروسته شرکت خواته روان شو د تلو مخکې مې میشا د پرون پشان د بام په سر ولاړه ولیده، کوم څه مې ونه ویل او موټر ته پورته شوم... شرکت ته چې ورسیدم نو د زبیر خبره یو دم راته صحیح ښکاره شوه ...! دا خو خاله ده...

هغه ورځ ما ته د عمر څخه کمه معلوم شوه خو نن د سل من آرایش سره سم اتیا کلن بوډی معلومیده..! زبیر خو د هغې سلام لا علیک نکړو، ذوالفقار هم په ترش تندی یو کرار علیک وویل او خپل د دفتر خواته روان شو ما هم غوښتل همغه کار وکړم او الفرار چې هغې کرار وویل: وبخښې...
- بله مهربانی...
هغې په یو ناز او نخرو خپل ویښتیانو کې لاس کش کړو، او خپل سترګې داسې خمار خمار پورته ښکته کړل چې زه ورته هک حیران شوم..! په همغه ناز یې وویل: تاسو خو پوهیږی چې زه دلته تازه راغلې یم او ښاغلې ذوالفقار ویل چې تاسو دواړو کې یو نفر به ماته د کار اصول ښای..!

په ناچاری مې شاوخوا وکتل خو ذوالفقار او زبیر ځانونه ویستلې وه، ناځوانانو...! د مجبور څخه لګیا شوم کوم دواګانو نومونه مې چې دا سو وخته زده کړی وه، د زبیر خبره و دی خاله ته وښودل، نیم ساعت لګیا وم د دواګا'نو نومونه او بیه مې خودل خو هغې ددی لځایه چې کار ته فکر وکړی خپل ویښتیانو کې لاس وهې او هر ځای کتل بغیر د دواګانو خوا ته...! کله چې مې ولیده خاله زما خبرو ته فکر ندی نو کرار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې وویل: د نن لپاره تاسو همدومره دواګانو نومونه او بیه زده کړې بسنه کوی...
لخیره نور به سبا که ژوند وو درته زده کړم..!

زما پدی خبری تازه هغې زما خوا ته پام شو او ویې ویل: وای... یو نرۍ مننه طاها جان په زحمت مې کړې ان شاءالله زه تر سبا دا زده کوم بیا تاسو نور راته وښایست..
- لخیره..
نور مې څه ونه ویل او د ذوالفقار دفتر ته ننوتلم، د زبیر او ذوالفقار په لیدو چې کرار ناست وه په غوسه مې وویل: زیات نمک حرام خلک یاست زه مو د هغه خاله سره یواځې پریخودم..
زما په خبره زبیر په خندا وویل: هسی لګیا وی کم عمره مجرد انجلې ده... نو ځکه مو یواځې پریخودی تر سو ددی کم عمره مجردی انجلې څخه خوند واخلې...!
- بلا خیرن انسان..

تر غرمه هلته شرکت کې لګیا وم د غرمې لمونځ کولو وروسته مې د ذوالفقار څخه رخصت واخیست او د استاذ د کور خوا ته روان شوم، البته ذوالفقار راته زیات وویل چې د هغه موټر سره لاړشم خو ما ونه منل او پیاده روان شوم، د استاذ د کور دروازه مې وټکول او د سو دقیقو وروسته یو نرم او نری زنانه آواز مې تر غوږ شو چې ویې ویل: سوک یاست څه غواړې؟
- زه یم طاها د استاذ سره مې کار دی کور کې شته؟

د سو دقیقو لپاره خاموشی شوه او بیا استاذ دروازه راته خلاصه کړه..
استاذ- پخیر محمد طاها ښه یې..؟
- سلام علیکم استاذ شکر خپله ښه یاست؟
استاذ- علیکم سلام شکر ښه یم ستا په راتلو بیخې نو خوشحال او ښه شوم، راځه دننه.

استاذ دا وویل او ماته یې لاره پریخوده د استاذ سره یوځای میلمه خانې ته ننوتلو، شاید زما د راتګ لس دقیقی لا نه وه تیر شوی چې د تل پشان د کوټې دروازه وټکیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لځایه پاسیدم بیا زما ستونې صاف کول او د یو انجلۍ د پښو غږ چې د دروازی د مخکې څخه لری کیدل..!؟ دروازه مې خلاص کړه او د چای پتنوس مې راواخیست، خو نه پوهیږم ولې ناساپه مې مخامخ کوټې خواته وکتل! زما پر کتلو فکر مې شو چې د کړکی پرده وخوځیده! په تلوار کوټې ته ننوتلم او دروازه مې بنده کړه، اه خدایه دا پر ما څه کار روان دی؟

تر ماذدیگر آذانو د استاذ کور کې وم مونځ مې د استاذ سره یوځای جومات کې ادا کړو او بیا خپل د کور خوا ته روان شوم، کور ته په رسیدو هوا کامل تیاره شوی وه، ذوالفقار راته یو دوه مسج کړی وه چې چیرته یې؟ راغلې؟ د ذوالفقار د مسجونو جوابونه مې ورکړل.. دومره ستړی وم چی زړه می غوښت ویده شم او بیا ولاړ نشم. ژر می خپل د لاس ساعت او ګوتمې یو طرف ته ګوزار کړل او پریوتم فکر کوم په ټول عمر کی می ددی ورځ پشان دومره ستړی نه وم. سترګی می پټی کړی ترسو ویده شم خو په هر ثانی کی د سترګو شاته می څل دانی عجیب غریب عکسونه او صحنی تیریدل رسماً لیونتوب ته رسیدلی وم.

لږ لږ می شک وکو چی شاید د ستړیا د لاسه نه ویی؟! احساس می کوی چی د بدن تودوخه می پورته شوی او لکه چی پر بدن می اور بل ویی! پداسی حال کی چی بیحده ستړی وم خو د ځایه پاسیدم ترڅو خپل په لاس او مخ اوبه واچوم. شاید دا فکرونه انځورنه او صحنی می د مغزو څخه ووځی.؟ حمام طرف ته ولاړم او په یو انتحاری حرکت کی می خپل سر د اوبو لاندی کړو. د اوبو د یخوالی له سببه د څو ثانیو لپاره نفس می په سینه کی بند شو،ژر می خپل سر د اوبو څخه لری کړو د حمام څخه د وتلو پرحال وم چی د کور دروازه وټکیده، هیس زړه می نغوښتل دروازه خلاص کړم خو د مجبوری څخه د حویلې دروازی خواته روانشوم.

دروازه مې چې خلاصه کړه زبیر مې ولید چې په خندا یې یو پاکټ شیرنی زما لاس کې کیخودل او ویې ویل: مبارکې نه راکوی..؟
- د څه مبارکی؟ کوژده دی وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- ای بلا... یو سم خبره ته نشې کولې؟ زه خو خدای نه یم وهلې چې خپل خوشحالې په غم واړوم او لاړ شم واده وکړم؟؟

- نو ده څه شیرنې ده؟
زبیر- عه تخو لږ لاره راکړه کور تخو داخل شم!
- راځه..
زبیر په خوشحالې کور ته داخل شو او ویې ویل: دواړو ته مې کار پیدا کړو..!
- رښتیا..؟ دومره ژر؟
زبیر- هسی خو مې درته نه ویل ملګری ساته او خلکو سره ورشه درشه کوه..! ګوره داسی ورځ پکار راځي شناخت..!

- امم بی شک دی اوس څه کار دی چیرته دی؟ تنخوا یې سومره ده؟
زبیر د ماښام ډوډی زما سره وخوړل او تر ماسخوتن راسره وو، زبیر دواړو ته خپل د یو ملګری چې ما نه پیژندی د هغه په دفتر کې کار پیدا کړی وو! تنخوا یې هم ګوزاره کول..
- ښه کار دی او هم تنخوا یې ښه ده کله لاړشو؟
زبیر- که خوښ شوی ددی سر له سبا به لاړ شو...
- نه دومره ژر نه..
زبیر- ولې؟
- سر له سبا خو نکیږی باید ذوالفقار ته خبر ورکړو، تر سو هغه یو نوی کارمند ونیسې تر یو هفتې خو نشو تللی زما سروی ده! دا سروی زه پوره کوم ځکه دواګانې موږ وړی حساب کتاب زموږ سره دی.. که موږ همداسی لاړ شو ذوالفقار ته ستونزه جوړیږی.

زبیر- امم رښتیا وایې دی خبری ته زما فکر نه وو، نو ته ذوالفقار ته خبر ورکړه لخیره یو هفته وروسته به نوی کار ته لاړشو..
- سمده..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زبیر د تلو وروسته مې ذوالفقار ته سو ځله زنګ ووهې خو جواب یې رانکړو! ځان سره مې وویل شاید ضرور کوم ځای به تللې وی؟ یا هم کار به لری چې جواب نه راکوی؟ شپه تر ناوخته ویښ وم یوولس بجو خوا ته مې بیا ذوالفقار ته زنګ ووهې خو بیا هم موبایل یې خاموش راتلې...!

لږ ورته په تشویش شوم خو غرمه د تلو مخکې راته ویلې وه چې د یو ملګری کور کې میلمه دی ..! نو شاید هلته تللې وی! پدی فکر یو سه زړه مې جمع شو .. د کوټې هوا راته بیحده نفس تنګه معلومیده پاسیدم کړکی مې خلاصه کړه د کړکې خلاصیدو وروسته لاړم او خپل پر ځای پریوتم. یخ شمال می په مخ لږیدی او طبیعت یی را سم کوی. څو دقی وروسته باران هم شروع شو. البته ډېر تیز نه وو. ډیر قرار وریده د شپی دولس بجی وه په ټول کور کی درنه خاموشی خپره وه. هوا ښه وه او زه هم ستړی نو ځکه ډیر ژر ویده شوی وم..

سهار وخت د ذوالفقار شرکت خوا ته روان شوم، زما د بد شانس خاله زما څخه لا وخت راغلې وه! ذوالفقار خپل دفتر کې ناست و. د ذوالفقار د فتر په کامل توګه ښیښې څخه جوړ و نو ځکه کامل توګه دفتر یې ښکاره کیدی.. ذوالفقار خپل د مدیریت په چوکې ناست وو، زما راتلو ته یې فکر شو غوښتل مې په تلوار خپل ځان د هغه کوټې ته ورسه وم، خو خاله راباندی غږ کړو.. په عاجزانه نظر مې ذوالفقار خوا ته وکتل ترسو ددی خاله له لاسه مې وژغوری خو هغه راته یواځې وخندل...

په سل جبر او زحمت د خاله خوا ته راوګرځیدم چې هغه په تلوار زما خوا ته راغله او ویې ویل: سلام پخیر راغلې ښاغلې طاها..
- علیک سلام مننه تاسو ښه یاست..؟
خاله- د خدای فضل ده.. اوس بیکاره یاست چې زه تاسو ته د پرون درس ووایم که نه وروسته؟
- زړه مو هر وخت ستاسو خوښه وی زه مو په خدمت کې یم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاله- مننه هغه که کیږی نو اوس به یې درته ووایم...
- سمده مهربانی...

خاله لګیا شوه او د دواګانو نومونه او بیه ویل یې شروع کړل او د حق څخه تیر نشم فکر مې نکوی چې دومره دی هوښیار اوسیږی! خو ماشالله پنځه دقیقو کې زما د پرون ورځې زده کړی ټول شیان را په ګوته کړل...
- ماشالله ډیر ښه مو زده کړی وه..
خاله- تکړه استاذ مې درلود...

و مې خندل خو کوم جواب مې ورنکړو، یو څه د نوی دواګانې نومونه او بیه مې وښودل او د ذوالفقار دفتر خواته روان شوم، زبیر هم راغلې وو او کوټه کې ناست وو، زما په نظر ښه انجلې راغله خاله...! یو سه زیات تیزه، چالاکه او شوخ وه خو نور ښه انجلې وه ما ته خو بده ښکاره نشوه.. همدا چې دفتر ته ننوتلم زبیر د سترګو په اشاره پوی کړم چې ذوالفقار ته دتلو او نوی کار په اړه ووایم..! خپل هم پاسیدی او د کوټې څخه ووت..

- ذوالفقار..!
ذوالفقار پداسی حال کې چې سر یی ښکته وو او د حساب کتاب حال کی و وویل: هوم..!
- هغه ماغوښتل یو خبره درته وکړم..!
ذوالفقار خپل سر را پورته کړو او ماته په کتو شو.. نه پوهیدم څنګه ورته ووایم چې غوسه نشې؟
ذوالفقار- آورم؟ کوم مشکل لری؟
- هغه ... که ستا یاد وی دلته د کار کولو څخه مخکې ما ویلې وه که کوم بل کار زما په زړه او زما د ویل شوی درس او رشتی مطابق پیدا شو نو زه ستا شرکتـ....
ذوالفقار په تروش تندی وویل: که خبره د تنخوا وینو  زه درته ده هغه پیدا شوی کار څخه زیات تنخوا درکوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه خبره د تنخوا او پیسو نده، هلته ستا څخه لا سو زره کم تنخوا راکوی..
ذوالفقار- نو بیا د څه لپاره غواړې لاړ شی..
- هغه زما د ویل شوی درس مطابق...( ذوالفقار خبری ته پرینخودم او په غوسه یې زما خبره پرې کړل او ویې ویل: طاها زما پر عصابو مه زه.. اوس وقت خلک د رشتی  او درس مطابق کار ته نګوری یواځی پیسو ته ګوری.. او ما هم درته وویل چې تنخوا دی دوه چنده کوم نو خوله دی بنده ساته...
- خو زه نغواړم نور دلته کار وکړم..
ذوالفقار- ته غول خوری...

ذوالفقار دومره په غوسه دا خبره وکړل چې زه یو دم چوپ شوم، او نور مې څه ونه ویل تر غرمه اذانه شرکت کی وم او ذوالفقار تر هغه وخت یو خبره لا زموږ دواړو سره ونکړل...
زبیر- یعنی د رښتیا یې وویل چې ستاسو تنخوا دوه چنده کوم خو د شرکت څخه مه ځې...؟
- هو همدغه یې وویل البته د کنخلو په ژبه...
زبیر په خندا وویل: پخدای چې ذوالفقار لیونی دی، که زه د هغه لځایه وایې داسې مفت خوره او بیکاره کارمندان مې د هغوی د ویلو مخکې د شرکت څخه شړل...

- په هر حال اوس لپاره دا موضوع پریږده.. صبر لږ کرار شې بیا زه ورسره خبری کوم راضی کوم یی...

زبیر- خدای خبر که راضی شی خو بیا هم خپل کوشش وکړه..
- اهوم..
د غرمه لمونځ وروسته د استاذ د کور خواته روان شوم، د استاذ د کور دروازه مې چې وټکول همغه پرونی نری زنانه آواز مې تر غوږ شو چې ویې ویل: سوک؟
- طاها یم..
منتظر وم د پرون پشان استاذ راته دروازه خلاصه کړی خو ددی سو میاشتو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاف چې استاذ به تل راته دروازه خلاصه ول نن راته د استاذ لور دروازه خلاصه کړه..!

حیران شوم لدی چې د استاذ لور راته دروازه خلاصه کړه! بغیر لدی چې د هغې خوا ته وګورم سترګې مې ځمکې ته ونیول او ومې ویل: استاذ چیرته دی؟
زما په خبره هغې خپل غټ ټیکری یو څه نور هم خپل پر ځان را تاو کړو او په نیولې غږ یې وویل: بابا د پرون شپې راهیسې مریض دی..
- خدای دی خیر کړی د څه مریض؟ پرون لا ښه وو.. ناساپه څه وشول؟ اوس چیرته دی؟
د هغې په جواب نه راکولو مې سر پورته کړو او ور ومې کتل، مخ یې کامل توګه ټیکری کې پیچلې وو خو هغه دوه توری سترګې... د اول ځل لپاره زه دیته اړ ایستم چې د یو انجلې سترګو ته په ځیر ځیر وګورم ...! او بی اختیار مې له خولې ورته ووتل: ماشالله سومره ښایسته سترګې...

پدی خبره مې هغه خو لری زه خپل د حیرت څخه هک حیران شوم..! دا نو څنګه خبره وه چې ما وکړل!؟ د موضوع د بدله ولو لپاره مې ژر وویل: استاذ اوس چیرته دی؟
د استاذ لور- بابا اوس کور کیدی.
- که اجازه مو ویې زه غوارم یو ځل وګور..
د استاذ لور راته لاره پریخودل او ویې ویل: مهربانی..

یو یالله مې وویل او د هغې پسی شوم، د میلمه خانې سره ښنه نیولې و دریدم چې هغه مخکې شوه او کوم کوټه کې چې استاذ وو هغه کوټه څخه یې خپل خویندی وباسل بیا پر ما یې غږ وکړو زه هم کوټې ته د یو کراره سلام پر ویلو ننوتلم، چې استاذ مې پر نالې څملاستلې ولیدی! یو ورځ کې رنګ دومره تغیر خوړلې وو چې حد نه درلود! بیحده حال یې ما ته خراب معلوم شو.. مخکې ورغلم خو د استاذ سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغسې پېټې وه، کرار مې وربانده غږ وکړو خو هیس جواب یې رانکړو..! خپل لاس مې د هغه په تندی کیخودو بیحده سره تبه یې وه...!

د استاذ لور ته چې د کوټې دروازې مخکې ولاړه وه او زموږ خوا ته یې راکتل و مې ویل: ډاکټر ته مو وړی؟

استاذ لور- پرون ستاسو د تلو وروسته کله چې کور ته راغې حالت یې ښه نه وه، موږ چې هر سومره ورته وویل ډاکټر ته لاړشې ویې نه منل.. نن غرمه خوا ته یې حالت بیحده خراب شو.. ادی تازه سو دقیقی مخکې ولاړه ترسو موټر راوړی او شفخانی ته یې ویسو..

- ولې مو ماته همه شپه زنګ ونه وهې؟ زما نمبر د استاذ سره وو؟

استاذ لور- فکر مو نشو..

د استاذ په تندی مې بیا لاس کیخودو تبه یې د نرمال حالت څخه اوښتی وه، او د زیات تبې څخه بې حال شوی وو..

- سومره وخت کیږی چې مور مو د موټر پسی تللې؟

استاذ لور- پنځه شپږ دقیقیـ..( هغې خپل خبره پوره کړی نه وه چې کوڅه کې د موتر غږ شو... او څو دقیقی وروسته د استاذ میرمن کوټې ت  راداخل شوه، په ښکته نظر مې ورسره ستړی مشی وکړل او بغیر لدی چې نور اضافه خبره وکړم، استاذ مې راپورته کړو کله چې راپورته کوی مې، لږ په خود شو او سترګی خلاصی کړی خو دومره ګنګس وو چې زه یې ونه پیژندلم..

استاذ مې موټر کې کینوی د استاذ میرمن هم د استاذ څنګ ته کیناستل، لور یې هم غوښتل چې زموږ سره شفخانی ته راشې خو مور یې اجازه ورنکړل...

استاذ لور- ادی زه به هم راشم کوم شئ به پکار شی...

استاذ ښځه- ضرورت نشته لورجانی ته کور کې خپل د خویندو سره پاتی شه دا ځوان راسره دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې سیټ کې د موټروان سره کیناستم او موټر حرکت وکړو، د تلو مخکې مې بی اختیاره د استاذ د لور خوا ته چې د کوټې مینځ کی ولاړه او سترګې د اوښکو ډکی وه وکتل... او بیا مې ناساپه د خولې ورته ووتل: کورته ننوځه خلک تیریږی راتیریږی...

زما په خبری هغې راوکتل خو د جواب راکولو مخکې موټر حرکت وکړو، خپل په کړی خبری پشیمان شوم! پر ما څه چې د کوټی مینځ کی ولاړه ده او خلک یي ګوری؟ زه ولې نن داسې بی اختیاره غوندی یم؟ شفخانی ته تر رسیدو نور هیس خبره مې ونکړل، هلته چې ورسیدو ډیر ژر ډاکتران را ټول شول او زر رقم معاینات او دواګانې ولیکل دا هم د خدای فضل وو جیب کې می پیسی وه! دری ساعت دیخوا هخوا مې منډی کړل، استاذ ته یې همغه دقیقه سیروم او پیچکاریاني ووهل او د خدای شکر تبه یې راښکته شوه..

ډاکتر د استاذ د کوټې څخه راووت او غږ یې کړل: ددی مریض پیواز سوک دی..
زه ژر ورمخکې شوم او ومې ویل: زه یم ډاکتره صیب اوس سنګه دی زموږ د مریض حالت؟
ډاکتر یو کوچنې ورقه زما لاس ته راکړل او ویې ویل: ورشه دا بیل اول تاویل کړه بیا وینه 500 سې سې وینه خپل مریض ته پیدا کړه... رښتیا ګروپ خونې څه ده؟
- نه یم خبر..!
ډاکتر- دا نو څنګه حال دی..؟ ته خپل د پلار د وینې ګروپ څخه نه یئ خبر..؟
- اول خو زما استاذ دی نه پلار.. او دویم دا چې تبه د وینې سره څه کار لری؟(شکمن وم ځکه ما زیات آوریدلی وه چې شفخانه کې ډاکتران وینه غواړی او بیا ستا مریض ته یې نه تیره وی ځکه هغه ورته احتیاج نلری، بیا ستا وینه پر بل مریض په پیسو خرڅه وی..!)

ډاکتر- وینه یې کمه ده نه پوهیږم ولې..؟ خو باید ورته وینه تیره شې ارتیا ورته لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نو تاسو د څه لپاره ډاکتر یاست خو دلیل پیدا کړی ولې وینه کمه ده؟
ډاکټر په غوسه ناکه لهجه وویل: ګوره هلک ځان به راته تیز تیز نکوی.. وایم وینه کمه ده یعنی وینه راوړه کنه زه خو کوم مشکل نلرم همدا اوس دی مریض ددی ځایه ورلې شی...

هیس مې دا ډاکټر خوښ نشو که کوم بل نفر راسره وایې ضرور مې ددی منحوس شفخانی څخه باسې او یو سم شفخانې ته مې وړی! خو افسوس چې مریض استاذ وو او د شفخانې څخه مې انتقال کولې نشو، لاړم وینه مې ورنه چک کړل د هغوی د وینې ګروپ A+ وو! هر سومره چې د وینو پسی وګرځیدم پیدا مې نکړل اخیر راته ډاکټر وویل چې خپل 500 سی سی وینه راوباسه بیا مورږ درته وینه بدل کو یعنی ستا وینه B+ اخلو او بدل کې تاته A+ وینه درکو تر سو ته خپل مریض ته تیر کړی.!

سم صحیح پوهیدم چې هسی وینه رانه اخلې او خدای خبر که استاذ ته یې ورکړی خو بله چاره نه وه، د استاذ میرمن راپسی وه او که لږ شانتې انکار مې کړی وایې نو فکر یې کوی چې ډارن انسان یم او وینه نه ورکوم..! که رښتیا ووایم غیرت کې راویستم او 500سی سی وینه یې رانه وباسل ..! کله چې وینه مې ورکړل غوږونو کې مې د بنګهار آوازونه شروع شول..! ما خپل دومره وینه نه درلود او دا چې دومره مې وباسل نو فشار مې ښکته شوی وو، تر دوه ساعت شفخانه کې استاذ لپاره انتظار وم داسې دوه ساعت چې زه هیس په ځان پوی نشوم چې څه روان دی او څه خبره ده؟

د دوه ساعتو وروسته استاذ لږ پر خود راغې خو ډاکټر شپی ته د بستر کولو وویل، ملاقات ته یې ورغلم شکر وو سترګې خلاصې کړی وه، زما پر لیدو یې د تل پشان خپل په ذاتې خوش اخلاقې راسره خبری وکړل، غوښتل مې شپه هملته شفخانه کې پاتی شم خو نه پوهیږم ولې استاذ ویل ضرورت نشته او لاړشه کور ته..! شاید ځکه چې زما خراب حال یې لیدلې وی! استاذ چې کله خبر شو چی ما وینه ورکړی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت خفه شو او ښه سم خبرې راته وکړل، خو کار تر کار تير وو زما د وينو څخه يې شايد 100 سی سی لا پوره استاذ ته نه وکړې ټول وينه يې رانه غلا کړې وه..!

کله چې د استاذ طبعيت مې ښه وليدی نو خپل شماره مې يو ځل بيا د استاذ موبايل کې ډايل کړل او بيا مې د هغوی سره خدای پاماني وکړل او د شفخانې څخه ووتلم، يو موټر مې خپل تر کوره کرايه ونيوی، او نيمه بيهوش حال کې خپل کور ته لاړم، همدا چې ورسيدم بغير لدی چې خپل بوټونه وباسم همغسې پوړمخې کوټې مينځ کې پريوتم.. د ماښام مونځ قضا شوی وو چې لږ لږ پر خود شوم.

همدا چې خپل ځای کې کيناستم د ذوالفقار زنګ راغې.. په سل جبر او زحمت مې جواب ورکړو.

ذوالفقار- چيرته يې..؟

- کور کې..

ذوالفقار- فهيم ستا سره دی؟

حيرت مې وکړو لدی چې ذوالفقار زما څخه د فهيم پوښتنه کول! زه چې د فهيم د نوم څخه لا کرکه لرم هغه وخت ذوالفقا توقع درلود هغه دی زما سره اوسيږی؟

- نه زما سره څه مرګ غواړی؟ نه چې يو د بل څخه مو زيات ښه راځې چې ته د هغه پوښتنه زما څخه کوی؟

ذوالفقار- نو دا به چيرته تللې وی؟

- خيرت خو دی؟ کوم خبره شوی؟

ذوالفقار- خدای دی خير را پيښ کړی زه هم نه يم خبر تيار اوسيږی څو دقې وروسته راځم درپسی..

- چيرته؟

ذوالفقار بغير لدی چې جواب راکړې موبايل يې بند کړو..! لږ ورختا شوم منم چې د فهيم څخه مې چندا ښه نه راتلل خو دا معنا نه وه چې خدای نکرده د مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

درخواست ورته وکړم.. همغسې بیحال پروت وم، چې سو دقیقې وروسته ذوالفقار یو دوه مسجه زما موبایل ته راکړل او زه پوی شوم چی زما کور ته را نږدی شوی..

په همدی خاطر په سل جبر او زحمت لځایه پاسیدم لږ اوبه مې خپل پر لاس او مخ واچول او له کوره ووتم. څو ثاني وروسته ذوالفقار راورسیدی ژر موټر کي کیناستم. ذوالفقار بغیر لدی چې زما خوا ته وګوری ویې ویل: زه دی خبری ته حیران یم چی زامن د دوی دی، ګټه فایده یي د دوی ده، بیا ولی ستونزی او مشکلات یی زما پر غاړی دی؟ زه اوس مثلا د دوی مشر یم؟ کوم جنایی پولیس یم؟ که څنګه چل دی؟ چی هر بلا چی پر دوی نازل شی ما غواړی.

پوره حق می ذوالفقار ته ورکوی چي داسی په غوسه اوسیږی، رښتیا وایی زموږ ستونزی تل ولې باید ذوالفقار حل کړی؟ پوهیدم د ذوالفقار مطلب ماته نه وو خو هغه دقه مي فکر وکړو چی زه یي پر غوږ ووهلم، همدا چی موټر کی کیناستم احساس می کوو چی د بدن تودوخه می مخ پر پورته کیدو ده، د سر ګنګس کیدلو، او کانګې کولو سره تبه مې هم بدن ته راغلل..

ذوالفقار- په تا څه شوی؟

نه مې غوښتل د ذوالفقار عصاب نور هم خراب شې نو ځکه مې دروغ وویل: د غرمه  راهیسی لږ لږ تبه می درلود، خو اوس بیخي لیونی کړم.
ذولفقار یو نظر زما خوا ته راوکتل او ویې ویل:- رنګ دی هم پریدلی د موټر ښیښه ښکته کړه، د بیرون هوا یخه ده شاید ښه شی. که ډیر تبه لری ډاکټر ته به لاړشو.
- نه ضرورت نشته..

ډیر ژر د ذوالقرنین کاکا کورته ورسیدو ذوالفقار څو ځله په کلکه باندی د کور دروازه ووهل، او په تمه شو څو ثاني وروسته فرید دروازه خلاصه کړه، زموږ پر لیدو خصوصً زما پر لیدو یی تندی تروش شو، فرید په نه زړه باندی ذوالفقار ته یو سلام وکړو چی ذوالفقار جواب هم ورنکړو او کورته ننوتو د برنډی مخکی څو جوړه بوټونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باسل شوی وه، چی معلومیده بابا هم موجود دی، پدی حالت کی یو بابا کم وو. کله چی دهلیز ته داخلیدو نو د ښځو ژړا هم راتله د کاکا ښځه په کوټه کی د ځینی نور ښځو سره ناسته وه او ژړل یی بابا ذوالقرنین کاکا او یو دوه نور کسان چی ماته د فرید ماماګان معلوم شول په دهلیز کی ناست وه. ټول پریشانه معلومیده، ذوالفقار ذوالقرنین کاکا ته په تُنده لهجه وویل:

- څه شوی ذوالقرنین؟ کوم خبر د فهیم څخه ونشو؟
ذوالقرنین کاکا په یو غمژنه لهجه وویل: څه ووایم پخدای... هر سوک مو چی پیژندی ورځخه مو پوښتنه وکړل، خو هیچا ته پته نشته، نور نو نه پوهیږم چی څه وکړم؟

ذوالفقار- ولاحول ولاقوة دا نو څنګه کار شو؟ باید یو خبر دی شاوخوا شفاخانو ته هم ورکړو، شاید هلته یی پیدا کوو.

د ذوالفقار پدی خبره د ښځو چغې نور هم پورته شوی..احساس می کوو چی په پښو نشم دریدلی، او ځمکه می د پښو لاندی څرخی، نه می غوښتل څوک زما د خراب حالت متوجه شی په همدی خاطر ژر د دروازی انډی ته پر یو نالې کیناستم، فکر مي کوی چی فشار می ښکته شوی وو ځکه د هغه وینه ورکول لکه چی خپل کار کړی وو کله چی کیناستم یوسه حال می ښه شو.

همغه دوه نفرانو کې چې دواړه ماته د فرید ماماګان ښکاره کیدل یو نفر چې نوم یې نعیم و وویل: باید اعلان هم وکړو.
ذوالفقار- کوچنی خو ندی چی ورک شوی، او ته ځی مسجد کې ورپسی اعلان کوی.

نه پوهیږم ولې خو ناساپه مې یو خبره ذهن ته راغلل او همغه مې وویل: زه فکر کوم چی تښتیدلی؟؟
زما په خبری ټولو زما خوا ته راوکتل، او د ټولو تندی تروش سو! د فرید مشر ماما وویل: څنګه تښتیدلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ه... هغه اوس وخت ډير ځوانان خارج ته قاچاقبري تښتي بغير لدی چې کورنی خبر اوسيږي.. شايد فهيم هم.....
فريد په غوسه او طعنه وويل: په هر چا باندی خپل ګمان مه کوه ته به خپل د کورني ښځه تښتيدلې اوسيږی او شايد د خارج تلو پلان دی هم درلود..؟ خو فهيم ستا پشان بيغرت ندی..

ذوالفقار- زما پر عصابو مه ځه فريد کنه وهم دی..
د فريد لځايه ناساپه د هغه ماما نعيم يو دم ذوالفقار باندی خوله خلاصه کړه او ويې ويل: د خولی خبری ته دی پام کوه.(او خپل د اشاری ګوته يی د ګواښ په شان د ذوالفقار مخکی ونيول چی ذوالفقارم په کلکه باندی د هغه پر لاس ووهی او شاته يي ټيله کړو. ذوالقرنين کاکا ژر مداخلت وکړو ترسو جنګ ونشی خو د فريد ماما بيخی د کنټرول نه وو او خوله يي خلاصه کړی وه او کنځل يی کول، ذوالفقارم د کنځلو جواب ورکوو، د فريد ماما نږدی نه راتلی شايد پوهيدی چی نشی کولی ذوالفقار ووهی...!

خو ما داسی احساس کوی چی د ذوالفقار زړه غواړی چی هغه رامخکی شی او دی ښه جوړ وډبه ويی. په همدی خاطر ذوالفقار خواته نږدی شوم او د هغه لاس می ځان طرف ته راکش کړو او ومی ويل: بس کړه ته وخدای، رښتيا وايی زما خبره غلطه وه.
ذوالفقار زه په آرامه باندی شاته ټيله کړم او په همغه غوسه يی وويل: نه ستا خبره غلطه نه وه، دا فکر زما ذهن ته هم راغلی وو خو ډاډمن نه وم، خو اوس چی هيس خبر يی نشته مطمئن شوم چې تللی هسی هغه ورځ يې چغې وهل پيسی ګتم او فلان کوم بستان کوم...

نعيم- ويلې پيسی ګټم ويلې ندی چې د کور تختم په هر چا باندی خپل ددی وراره ګمان مه که( نعيم زما خوا ته اشاره وکړل... يو خو حالت مې ښه نه وو بل خوا ددوی داسې بيځايه خبرو بيخی طبعيت راخراب کړو، ذوالفقار بيا د جنګ خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدې کیدی خو دا ځل بابا مداخلت وکړو، او زه یو دم د بابا د خبرو څخه هک حیران شوم ... باور مې نکیدی چې دا خبری دی بابا کړی اوسیږی؟

بابا- نعیم خپل د خولې خبری ته پام کوه..! په یو سپیړی سل مخونه خوریږی ... ته چې هر خبره محمد طاها ته کوی مطلب ما ته یې کوی...
نعیم- نه زه تاسو ته دا خبری نکوم تاسو خپل هم پوهیږی چې طاها....
بابا- طاها څه...؟ تا کوم انجلې سره لاس تړلی ګیری کړی؟ یا کوم بل غلط کار باندی ددی ګیر کړی..؟ که فرض مثال تا پدی کارونو ګیر کړی هم اوسیږی بیا هم ته حق نلری زما زوی ته داسی بیځایه خبری وکړی...

حیران حیران مې د بابا خوا ته کتل، یعنی اوس هغه زما څخه دفاع وکړل؟ عجیب وه بیحده... بابا زما خوا ته په تروش تندی راوکتل او ویې ویل: ورځه شابه کاکا دی هم ددی ځایه بوځه...

د بابا په خبره په سل زاری باندی مې ذوالفقار دهغه ځای بهر کړو، هیس رقمه نه راضی کیدو زړه یی غوښتو د فرید ماما ښه وډبوی. موټر کی کیناستو او ذوالفقار موټر چالانده کړو په لاره کی یوه خبره لا ونکړه، بیحده په غوسه وو ما هم خبری ونکړل چی هسی نه نور هم په غوسه شی او د فرید د ماما بدله زما پر وهلو واخلی. او بلخوا څخه تراوسه د بابا په خبرو حیران وم! او فکرمند وم..! په تاریخ کې لومړی ځل بابا په یو مجلس او جنګ کې زما پلوی کړی وه..!

د شپی لس بجو خوا وه چې د ذوالفقار کور ته ورسیدو، البته ما غوښتل خپل کور ته لاړشم خو دومره ګنګس و چې د تلو توان نه وو، د موټر څخه چې ښکته شوم میشا مې د بام په سر ولیده! ذوالفقار هم د موټر څخه راښکته شو او بغیر لدی چې د هغې خوا ته وګور په تروش تندی وویل: هره ورځ زما د موټر په غږ راځې د بام سر ته او ګوری چې شاید ته راغلې اوسیږی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ذوالفقار خوا ته مې وکتل چې هغه په مشکوکه انداز وویل: ما ته رښتيا ووايه طاها تا خو دی انجلۍ ته کوم د دروغ امید او ګپ خو ندی ورکړی..؟
- نه پخدای که ما ورسره خبره لا کړې اوسیړی ګپ ورکول خو لری..
ذوالفقار د بام سر د میشا خوا ته وکتل او بیا په تروش تندی ما ته راوکتل او ویې ویل: ګوره طاها که یو ورځ خبر شوم تا داسې یو رزیل کار کړی خپل پر لاسونو دی مړ کوم... اوس هم ننوځه کور ته...

بغیر لدی چې کوم څه ووایم کور ته ننوتلم، یو همدا پاتی د یو انجلۍ په سر ذوالفقار زما سره جنګ وکړی! همدا چې دهلیز ته ننوتلم په نالې پریوتم، اه که زه خبر وایې 500 سی سی وینو ورکولو باندی زه داسې بیخود کیږم استاذ ته مې وینه په پیسو اخیسته... فکر مې کوی سر مې راباندی دروند دی، داسې چې کیناستلې نشوم او څملاستم ذوالفقار چې د هلیز ته رانوت اول فکر وکړو چې زه هسی پروت یم خو وروسته چې زما تک ژیړ رنګ ته یې فکر شو نو په ورختای زما خوا ته راغې، پداسې حال کې چې زما پر تندی لاس کیخودی ناری کړل خو ما بیخې د هغه غږ وا نه وریدی...

دومره ضعیفه وم او دومره لرزه او تبه می وه چی بیچاره ذوالفقار راباندی دوه دری کمپل واچول د تبې ګولۍ راکړل خو بیا هم زه د یخ له لاسه لړزیدم! احساس مې کوی چې د ژمی تور سیله ده او زه یخ وآورو کې بغیر د کوم کالو ناست یم ..! د زیات یخ له لاسه مې شونډی تک شین شوی وه! تر دی حده چې ذوالفقار زبیر ته زنګ ووهې ترسو د تبې لپاره یو سیروم او سو پیچکاری راوړی او خپل هم پاسیدی او برقې بخاری راته روښانه کړل، زه د بخاری انډی ته بیخی نږدی ناست وم تر دی حده چی ذوالفقار یو دوه ځل راباندی غږ وکړو چی ویښتیان دی ونسوزی...

خو ما بغیر ددی چی د ذوالفقار خبری ته کوم توجه وکړم بخاری خوا ته نږدی کیدلم زبیر ډیر ژر دوا په لاس راورسیدی، ذوالفقار غوښتل چې بخاری خاموش کړې او ماته د تبی سیروم تیر کړی خو زه یو ثانیه لا حاضر نه وم چې بخاری خاموش کړی ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس مې کو که بخاری خاموش کړی زه د یخ له لاسه مړ کیږم نو ځکه مې د ذوالفقار خبره ونه منل او بخاری مې خاموش نکړل د زبیر خبره لږ نور پاتی وو چې بخاری غیږ کې ونیسم.. دومره ورته نږدی ناست وم ...

دری ساعته بخاری روښانه وه او اخیر کې لکه آتشفشان پشان کوټه یئ ګرمه کړل تر دی حده چې ذوالفقار مجبور شو د کوټې کړکی خلاصه کړی خو زما یخ تراوسه نه وو کم شوی او د یخ له لاسه لړزیدم..

زبیر- زموږ یو شپونکې" چوپان" کلیوال و هره ورځ به یې خپل میږی، اوزی د چره ولو لپاره بهر دښتې ته راباسل یو ورځ سخت ژمی و وآوره وریدل چې زه ولاړم د هغه خواته په یو ټیم."قوطی ډوبی" همدا د غوږو اوسپنه والا قوطی یی د لرګیو، کاغذونو، او پلاستیکونو څخه ډک کړی وو. او په هغه تش میدان یی ورته اور اچولی وو او کرار بیغمه په مزه مزه د هغه اور لمبو ته ناست وو زه ورغلم ورته می وویل: څه خبره ده شپونکې؟ سړی چې زه ولیدم نو خپل ځان یی یوسه نور هم د اور لمبو خوا ته نږدی کړو ستا پشان بیا یی ماته وویل: یاره زبیر خدای مو هغه دنیا مه بې اوره کوه...

حالت می بیحده خراب وو خو بیا هم د زبیر په خبره خندا راغله ذوالفقار هم په خندا شو چې زبیر وویل: څنګه طاها تخو داسی کوم امید نلری؟
په نیولې غږ مې وویل: زه که وغواړم او کنه..! بیا هم هغه دنیا پریمانه اور مې نصیب کیږی.

د شپی تر دولس بجو خو د یخ دلاسه کمپل کی ننوتی وم خو یوه بجی خواته ګرمی می وشوه... داسې چی په بدن می اور بل شو کمپل مې د ځان څخه لری کړو فایده ونکړل هر کار مې چی کوی بیا هم د بدن تاودوخه می پورته وه اخیر مجبور شوم په هغه وخت د شپی بغیر لدی چی سوک راویخ کړم په آرامه ګامو حویلی ته ووتلم د دهلیز دروازی څنګ ته په برنډه کی د یو کمیس سره هغه یخ ته کینستم نیم ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته ناست وم او تازه احساس می کوی چی بدن می یوسه یخ شو چی د دهلیز دروازه خلاصه شوه. او..

شمویل- سلام..
د شمویل په غږ له ویری مې اوږی وپریدل..
شمویل- و می ډاره ولې ماشومه؟
- اهوم یوسه..کوم خبره ده چې داسې راغلې؟
شمویل- هو.
-څه؟
شمویل- ته ولې ډوډی نخوری؟

په حیرت مې وروکتل فکر مې کوی چې هسی ټوکې کوی خو هغه په تروش تندی کتل تر سو زه جواب ورکړم! په کرار مې وویل: ډوډی خورم خو اوس مې زړه نغواړی..
شمویل- په تا باندی چې د ډوډی بوی ولګیږی نو ته فکر کوی چې موړ شوی یې؟!
په حیرت مې وروکتل او ومې ویل: ته له کوم خوا خبر شوی؟ ( دا سو وخته داسې شوی وم د ډوډی بوی به چې راباندی ولګیدی نو فکر مې کوی چې موړ شوی یم! نن ماښام لږ پاتی وو پدی کار ذوالققار وهلې وایې چې ته ولې ډوډی نخوری؟ خو ځکه چې مریض وم څه یې راته ونه ویل)

شمویل په خفه انداز زما خوا ته رانږدی شو او ویې ویل: دا ټول زما د لاسه..!
-څه مطلب دا ټول ستا د لاسه؟؟

شمویل- دا چې ته پیریانو ګوری او خبری ورسره کوی دا ددی سبب کیږی چې ستا د بدن مقاومت او توان ضعیف شی او ته لږ لږ زمو خاصیتونه ځانته واخلې..! ته فکر کوی د ډوډی په بوی موړ کیږی خو داسی نده، ته یواځې دا دروغجن احساس لری.. ته انسان یې او ستا بدن ډوډی ته اړتیا لری..
- زه ښه یم شمویل لږ تبه مې وه نو ځکه اشتها مې ډوډی ته نه راتلل..

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمويل- ته نه يې ښه طاها ته فکر کوی هغه 500 سی سی وينو ته داسې بيحال او مريض کړی یی خو داسې نده اصل کې ستا ارتباط د پيريانو او د هغوی د نړی سره ددي صبب کيږی چی ته کمزوری شی...

- نو زه اوس څه وکړم..؟
شمويل- دا واخله( شمويل زما خواته دوه کوچنې کاغذونه ونيول او ویې ويل: دا شويست دی دا په پاکو اوبو کې حل کړه يو پياله اوبه يې وڅکه او په پاتې اوبو يې ولامبه انشاءالله د بدن څخه به دی زموږ د لمس اثرات لاړشی... البته تر يو څه وخت.

غوښتل مې ورڅخه پوښتنه وکړم چې څه مطلب تر يو وخته؟؟
ذوالفقار- طاها دلته څه کوی؟ ښه يی؟
د ذوالفقار په غږ شمويل يو دم غيب شو! ددی څخه مخکې چې کوم جواب ورکړم ذوالفقار زما طرف ته چی په يو تياره برخه د برنډی ناست وم راغی لاس يی زما په تندی کيخودو او په قهر يی وويل: تبه لری بدن دی لکه اور دی. راځه کوټی ته..
- زه ښه يم ذوالفقار غواړم يو سو دقيقی دلته کينم.
ذوالفقار- بدن دی اوس ګرم دی نه پوهيږی وروسته مريض کيږی ولاړشه شابه.

ذوالفقار زه ځان پسی دهليز ته ننباسلم، د شمويل لخوا راکړل شوی هغه دوه دانې کاغذونه مې تراوسه لاس کې وه ددی څخه مخکې چې ذوالفقار يې وګوری لاس کې مې پټ کړل، او ذوالفقار ته مې وويل: اممم زه غواړم يو حمام وکړم فکر کوم لږ به تبه مې کمه شې..!
ذوالفقار- ښه خبره ده حمام کولې شی؟
- هو ولې نکولې شم؟
ذوالفقار- لږ حالت دی ماته نرمال نښکاری.... په هر حال ته حمام وکړه زه درته بووږی تياره کوم يو ګوله وخوره..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی څخه مخکې چې د ډوډۍ خوړلو څخه انکار وکړم ذوالفقار په ګواښ لرونکې لهجه وویل: ګوره زه اوس یو دم ښه یم خوشحال یم... نو خپل په خبرو زما پر عصابو مه ځه چې وهم دی.. شابه ته حمام وکړه او زه به تر هغه وخت درته ډوډۍ تیار کړم..

نور څه مې ونه ویل او حمام خواته روان شوم د شمویل ویل شوی کار مې عملې کړو او هغه کاغذونه مې اوبو کې حل کړل لږ مې ورڅخه وڅکل او په نورو مې حمام وکړو، او باور مې نکیدی کله چې د حمام څخه بهر شوم نو فکر مې کوی بدن مې سپک شوی! نه مې تبه درلود او نه هم بدن مې درد کوی او د هغه څخه عجیبه دا چې فکر مي کو د کلونو کلونو وږی یم او بیحد مې اشتها خلاصه شوی وه. ذوالفقار چې وریجې او لوبیا مخکې راته کیخودل لکه د سومالیا وږو پشان مېورباندی حمله واچول او ټول مې وخوړل، ذوالفقار خالې کاسې ته په ځیر ځیر او حیرت کتل..

ذوالفقار- که موړ شوی نه یې وریجی نور هم شته..!
د وږی احساس مې درلود خو شرم وو ووایم نور هم راته راوړه نو ځکه مې کرار وویل: نه مننه موړ شوم، بیحده خوندور دی پاخه کړی وه..
ذوالفقار- ما نه وه پاخه کړی زبیر راوړل لکه چې د هغه مور پاخه کړی وه..
- اها هر چا چې پاخه کړی وه خو بیحد خوندور وه..

ذوالفقار قابونه ټول کړل ما هم جای نماز هوار کړو او په لمانځه و دریدم، د لمونځ وروسته هملته دهلیز کې مې ځانته ځای واچوی لو غوښتل مې چې ویده شم چې ذوالفقار وویل: که خبر وایې یو حمام کولو باندی داسې جوړیږی خپله مې وږی حمام ته...
د ذوالفقار په خبره مې وخندل خو جواب مې ورنکړو، خدای دی شمویل ته جنتونه نصیب کړی بیحده ښه احساس مې درلود نه مې د بدن کوم برخه درد کول او نه مې هم تبه درلود... همدا چې سر مې بالښت ته ورسیدی ویده شوی وم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار ذوالفقار ویل کار ته مه راځه او آرام وکړه، خو زه یو دم ښه وم نو ځکه مې پریکړه وکړل چې دا اخیری سو ورځی چې د ذوالفقار شرکت کې کار کوم په کامل ایمانداری او زحمت باندی خپل کار وکړم او بیځایه تنبلي ونکړم.. موټر کي د کیناستلو مخکې ذوالفقار ته زنګ راغې او هغه ماته د موټر کیلي راکړل تر سو موتر دباندی کوځې ته وباسم، ما هم په کراره کراره موټر د حویلي څخه دباندی وباسې، او په تمه شوم تر سو ذوالفقار د موبایل سره خبری خلاص کړی او راشې، ذوالفقار په تروش تندی لګیا وو خبری کول...

زما فکر د ذوالفقار خوا ته وو چې یو چا وویل: ای دیخوا...!

ددی لفظ په آوریدو مې رنګ یو دم وپریدی. او د سترګو مخکې مې سپین په وینو لړلی بوجی او د هغه څخه راوتلي تور ویښتیان انځور شول، خپل سر مې په تلوار وخوځه وی او د غږ د صاحب پسی مې وکتل چې چا ماته ناری وهلې وه؟ چې سترګې مې په دوه حجاب کړو انجونو ولګیدل..! یو دانه مې وپیژندل میشا وه خو دا بل چې ماته غږ کړی وو دا مې ونه پیژندل! همغه انجلې چې پر ما غږ کړی وو موټر ته رانږدی شوه او ویې ویل:

انجلې- کولې شې موږ دواړه خپل موټر کې تر یو ځای ورسه وی؟
ددی څخه مخکې چې زه کوم جواب ورکړم ذوالفقار وویل: لکه تر کوم ځای؟ ځای خو نوم لری؟
د ذوالفقار په غږ هغه دواړه و ډاری شوی او په بند بند لهجه یې وویل: ه... هغه... ت... تر... دا نږدی شفخانی پوری..
ذوالفقار- اممم کوم نږدی شفخانه؟ دا لقمان حکیم یاده وی؟
انجلې- هو..

ذوالفقار- اول خو دا چې دا دوه قدم لاره ده او موټر کې رسه ولو ته ضرورت نشته پیاده لاړشی ورزش مو کیږی. او دویم دا چې( ذوالفقار خپل د لاس ساعت ته اشاره وکړل او په مشکوک لهجه یې وویل: اوس ساعت 7:15 دقیقی دی او خدای خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شفخانه خلاصه وی.. ځکه هغه شخصی روغتون دی او د 9 بجو وروسته فعالیت شروع کوی..

د ذوالفقار په خبرو هغوی یو دم خاموش شول، ذوالفقار هم نور کوم خبره ونکړل او موټر ته راپورته شو، په تروش تندی زما خواته وکتل او ویې ویل: حرکت وکړه.
موټر مې روښانه کړو او بغیر لدی چی د هغه دواړو خوا ته وګورم حرکت مې وکړو، د ذوالفقار تندی د څو دقو لپاره تروش وو بیا ناسابه وویل: رښتیا پلار دی زنګ وهلې وو.

- د څه لپاره؟
ذوالفقار- ویل یې د فهیم درک یې معلوم کړی..
- عجب چیرته وو؟
ذوالفقار په غوسه وویل: اخ زما لاس ته به رانشی دا فرید و نعیم هسی زیات دوی دواړو ستونې شکوو چې فهیم نه تختی او فهیم بیغرت ندی او فلانکې ندی او بستانکې ندی...پرون ماښام یې فهیم یو شناخته د نیمروز باړر کې لیدلې چې ایران ته روان وو..
په پسخند مې وویل: دا خو معلومداره خبره وه خو دوی نه منل.
ذوالفقار- همم خو زه هم یو خبری ته حیران شوم..!
- څه ته؟
ذوالفقار- دا چې ته د کوم خوا پوی شوی چې فهیم قاچاقې خارج ته روان دی؟

په خندا مې وویل: تیر به شو لدی بحث.
ذوالفقار- نه ماته ووایه ته څنګه پوی شوی؟
- هسی سو وخت مخکې کله چې د کلې څخه راغلم ښار ته نو یو سو ملګرو راته دغه د قاچاق لاره وښودل چې لاړشه ایران بیا ترکیه و اروپا ته...
ذوالفقار- دا ملګری دی سوک وه؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښنګه پوی نشوم؟

ذوالفقار په غوسه وویل: سوک وه نوم آدرس؟

په حیرت مې وویل: نوم او آدرس سه کوی؟

ذوالفقار- غوارم خوله و پوزه یې ورمات کړم پدی بیځایه مشورو او خبرو باندی..

- اوس نشته زما په خیال مسکو کیدی روسیه... هی که هغه وخت ورسره تللی وایې اوس به زه هم روسیه کې وایې..

ذوالفقار- بنده کړه خوله دی....

- بغیر د ټوکو د رښتیا هم کله ناکله مې زړه غوارې ددی ځایه لاړشم..

ذوالفقار خپل لاس د وهلو پشان را پورته کړو او ویې ویل: یو بل خبره وکړې طاها پدی خوله دی وهم..

ذوالفقار دومره په کلک ګواښ وکړو چې نور مې د خولې کشک وتړې او خاموش شوم، شرکت ته چې ورسیدو د تل پشان خاله مبارک مخکې راته ولاړه وه په خوار نظر مې د ذوالفقار خوا ته وکتل چې هغه هم په تروش تندی راڅخه لرې شو...

خاله- سلام ښاغلې طاها..

- علیک سلام ښه یاست..

خاله- شکر د خدای فضل دی، تاسو ښه یاست..

- امم شکر ښه یم...

هیس مې زړه نغوښتل چې هلته اوسیږم خو بل چاره نه وه، په خفه انداز ولاړ وم او ورته کتل مې چې هغې په تلوار وویل: ما ټول دواګانې چې دلته دی نومونه او بیه زده کړې نور هم شته که خلاص شول؟

- امم یو دوه قلم نور دواګانی لاپاتی...

خاله- اوس بیکاره یاست..؟

- هو ... هو نن درته اخیری قلم دواګانی معرفی کوم بیا زموږ کار خلاصیږی..

دا چې نن ددی مصیبت اخیری ورځ وه نو په تلوار مې د هغه دواګانو نومونه او بیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودل شروع کړل.. کله چې کار مې خلاص شو یو راحت ساه مې واخیستل اه شکر تمام شو دا مصیبت... لا خوشحالی مې تمام شوی نه وه چې هغې کرار وویل:

خاله- هغ.... هغه ښاغلې طاها زه دا څو وخته کیږی چی کوښښ کوم یو مناسب وخت پیدا کړم ترسو ستاسو سره خبری وکړم، نن زما په نظر مناسب وخت دی ....

خاله خبری بندی کړی کرار مي وروکتل سر يي ښکته وو او د ډیر شرم څخه تکه سره شوی وه، څه خبره غواړی وکړی چی داسی سره او سپین کیږی؟ یو دم مي ذهن کی دا خبره راوګرځیده چی هسی نه د میشا قیصه بیا راباندی تکرار شی! هیس می زړه نغوښتل بیا کوم داسی خبره وشی، ځکه که دا ځل که خدای نکرده داسی کوم کار وشو او دا پر ما باندی مئین شوه نو ضرور د یو چا د لاس څخه مړ کیږم. نور می کار ته زړه نکیدو او یواځی په تمه وم چی هغه خپل خبره وکړی او لاړشی.

خاله - زه احساس کوم تاسو بهترینه کس یاست چی دا خبره ورسره شریک کولی شم، یو هفته کیږی چی دی وخت ته په تمه وم ترڅو تاسو ته داخبره وکړم او نن راته دا شانس پیدا شو چی ستاسو سره خبری وکړم، هغه.... دا څو وخته کیږی زه ښاغلی ذوالفقار باندی مینه شوی یم...

خاله همدا چی دا خبره وکړل چوپه شوه، دا خبره چی مي ورڅخه آاوریدل یو راحته ساه می واخیسته او بی اختیاره می یو مسکا وکړل، البته ډیر می ځان کنټرول کړو چی د څو دقیقو مخکی فکرنو باندی مي ونه خاندم. خو یو خبری ته حیران وم چیرته دا خاله او چیرته ذوالفقار...؟

- تاسو ډاډمن یاست؟ اخ ستاسو یو هفته لا نکیږی چې ذوالفقار پیژنی دومره کم وخت کې سنګه...
خاله- زه خپل د احساساتو څخه ډاډمن یم ښاغلې طاها..!
- اهوم ډیر ښه بیا نو دا خبره مو ولی ذوالفقار ته ونه ویل؟ او ماته مو وویل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاله - نه .. نه .. زه د هغوی مخکی داسی خبره نشم کولی، دا څو وخته را معلوم شوه چی هغوی ستاسو سره بیحده صمیمی دی او.. همدا چی ستاسو د هغوی کور ته زیات ورشه درشه لری او کاکا مو هم دی نو تاسو دا خبره ورته بهتره کولی شی.
- تاسو د ذوالفقار څخه ویریږی؟

زما پدی خبره خاله د شرم څخه تکه سره شوه سر یې ښکته واچوی او په ریږدیدلی غږ یی وویل: نه.. هغه زه نغواړم مخامخ داسی خبره هغوی ته وکړم او هغوی بد برداشت ورڅخه وکړی...

خاله دا خبری وکړل او زما د څنګ لری شوه! نه پوهیدم څه وکړم؟ په هر حال هغې پر ما دومره باور کړی وو او ماته یې خپل د زړه راز وویل زه باید د هغې خبری تر ذوالفقار ورسه وم نور فیصله بیا د ذوالفقار چې منې او کنه؟ پدی فکر د ذوالفقار دفتر ته داخل شوم هغه په کوچ ناست وو او حساب کتاب یې کوی! زبیر تراوسه نه وو راغلې کرار ولاړم او د ذوالفقار څنګ ته په کوچ کیناستم، د یو ثانې لپاره هغه د لیکلو څخه لاس واخیست او ماته یې راوکتل خو بیرته خپل په کار لګیا شو..

یو څه نور هم ورته نږدی شوم نه مې غوښت غږ مې بل سوک وآوری زما په نږدی کیدو ذوالفقار په غوسه وویل: داسې نکیږی طاها راشه زما غیږ کې کینه..! څه مرګ دی هې زما خوا ته راتخته کیږی؟
په خندا مې وویل: غواړم درته یو خبره وکړم خو نغواړم بل سوک یې وآوری!
ذوالفقار- څه خبره؟ د اوس څخه وایم که خبره دی د شرکت څخه د تلو یا هم کوم بل بیځایه خبره وه د اوس څخه خپل د غاښونو فاتحه ووایه..
- دا اوس چې خاله سره وم هغې راته ویل...

ذوالفقار- خاله؟ خاله بیا چیرته ده؟
- دا راغلې نوی انجلې درته ښا یم..
ذوالفقار- دا انجلې نوم لری او نوم یې هم فاطمه ده.
په شیطان خندا مې وویل: هو هو همدغه اغلې فاطمې راته ویل چې دا سو وخته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو موقع او فرصت پسی وه چې زما سره د یو موضوع په اړه خبری وکړی.. ؟!
ذوالفقار- د څه په اړه؟

- هغه دا چې ذوالفقار دا انجلۍ دا اغلې فاطمه پر تا مئین شوی..
ذوالفقار سو دقې هک پک راوکتل بیا یې په خندا وویل: ښه ټوکه وه و مې خندل..
- زه ټوکې نکوم پخدای همدغه خبره یې وکړل..
ذوالفقار په پریشان حال وویل: ته څه اپلاتی لګیا یې طاها!؟ د کوم خوا مئین کیدل؟ د کوم خوا عشق او عاشقی؟ دا انجلی پرون راغلی نن بیا د لیلا مجنون داستان یئ ماته شروع کړی؟

- ولای ما هم همدغه ورته وویل خو هغې ویل زه خپل په احساساتو باندی ډاډمن یم زه په ښاغلې ذوالفقار مئین یم...
د مئین لفظ مې له قصد کش کړو او په شیطان خندا مې وویل چې ذوالفقار په غوسه راوکتل او ویې ویل: خولې سره دی پام کوه طاها هغه انجلې یو غول وخوړل یو خبره وکړل، ته نور هسی ډنډوره مه جوړه وه او دا خبره همدلته خلاصه کړه، زه سبا سلطان خیل راغوارم او دا انجلې ددی شرکت څخه رخصته وم..
- یعنی جواب دی دهغې ومینې ته "نه" دی؟

ذوالفقار په غوسه لڅایه پاسیدی د کړکې پرده چې بیرون ورڅخه ښکاره کیدی را کش کړل او ویې ویل: دا ماشومه انجلې ده یو دقه پر ما مئین ده بل دقه پر تا هسی د دوی د نخبرو پسی سر مه ګرځه وه سبا یې زه خبره خلاصه وم ددی څخه مخکې چې کوم غلط کار وکړی..

تر غرمه آذان چې شرکت کې وم ذوالفقار خپل د کوټې پرده ښکته کړی وه، تر سو ورته هغه خاله چې اوس پوی شوی وم نوم یې فاطمه ده ښکاره نشی... د غرمې وروسته اجازه مې واخیست او د استاذ د کور خوا ته روان شوم د استاذ د کور دروازه مې چې ټکول نه پوهیږم څه چل وو خو یو ناشناس احساس مې ویل کاش بیا د استاذ لور راته دروازه خلاصه کړی او غږ وکړی سوک یې؟ لومړی څل وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره مې غوښت د یو انجلۍ غږ وآورم سترګې وګورم او په ساعتونو یې خبرو ته غوږ شم..

خو زما د فکرونو خلاف استاذ راته دروازه خلاصه کړه، او زما په لیدو یې په خوش اخلاقۍ راسره سترې مشی وکړل او زه یې د میلمه خانې خواته دعوت کړم، نه پوهیږم ولې خو له قصد مې خپل بوټونه باسل ځنډوله چې شاید د استاذ لور د کوم خوا څخه وګورم خو افسوس لکه چې کور کې نه وه ځکه ما ونه لیدل..

استاذ- پخیر راغلې محمد طاها ښه یې؟

- شکر دی تاسو طبعیت اوس ښه دی؟
استاذ- د خدای فضل دی ګوری خو اوس یو دم رک روغ یم..
- خدای مو تل همداسې روغ لره...
استاذ- بخښنه کوه هغه ورځ زما له وجهې په زحمت شوی..
- خدای دی نکوی د څه زحمت.. شکر دی چې اوس ښه یاست..

په ظاهر مې د استاذ سره خبری کول خو په باطن کې غوږونه مې تیز کړی وه تر سو د کوټې د دروازی ټک ټک وآورم او یو شانس وو موقع په لاس راوړم تر سو یو ځل بیا هغه تور عجیب سترګو ته وګورم..

خو زما د دومره انتظار وروسته هم چا دروازه ونه ټکول! لکه چې نن چا چای نه راوړل..! د لږ درس ویلو وروسته استاذ وویل: یو بهترینه عمل درته ښایم چې د هغه پر کولو به نور هیسکله کوم پیری تاته تکلیف و نه رسه وی...

- کوم؟
استاذ- اودس..بغیر د اوداسه هیس کله مه ګرځه اودس کې خدای ډیر حکمت ایخودلې، بغیر د ایت الکرسی ویلو مه ګرځه پدی کی الله ډیر غټ برکت ایخودلې، کله چې آیت الکرسې وایې نو اویا زره ملایکې که شپه یئ ووایې تر سهار ستا ساتنه کوی او که د ورځې ووایې بیا تر شپی ستا ساتنه کوی. او بغیر د چهار قل هیسکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه ګرځه تل يی وايه ددی سورتونو پر ويلو تعويذ، جادو او سحر څخه خدای نجات درکوی..

ماذديګر خوا وه چې د استاذ د کور څخه روان شوم، اول ځل و چې د خدای پامانی او تلو وروسته مې يو ځل د استاذ د کور خواته وکتل نه پوهيږم ولې؟ د هيچا په نه ليدو خپل پدی کار مې غوسه راغله پر ما څه مرګ شوی چې هی اخوا ديخوا ګورم؟ لعنت مې پر شيطان وويل او د استاذ د کور څخه روان شوم، په زر فکرنو کې غرق روان وم د کور خوا ته کور ته يو دو کوڅې پاتی وه چې يو نفر د شالخوا زما پر اوږه لاس کيخود..!

په تلوار را وګرځيدم چې وګورم چا زما پر اوږه لاس کيخودلې؟ چې د مخامخ نفر په ليدو مې سترګي د حيرت څخه راووتل او په ډار و ويری مې وويل: تاسو؟
جنرال- ستا سره مې لږ کار دی..
- څ...... څه کار؟
جنرال د کوڅې شاوخوا وکتل او کله چې کوڅه يې خالې وليده ويې ويل: ګوره ځوان زه پر تا هيس کار نلرم او نه هم کوم مشکل درسره لرم، يواځې غوښتل مې درته يو خبر داری درکړم...

پداسې حال کې چې د ويری له لاسه د جنرال څخه سو قدم شاته تلم او شاوخوا مې کتل چې هسی نه جنرال راپسی کوم سوک راوړی نه وی چی ما ووهې ..کرار مې وويل: د څه خبر داری؟
جنرال يو ځل بيا په مشکوک انداز شاوخوا وکتل او ويې ويل: دلته نه ويل کيږی سبا راشه اتم حوزی ته هلته زه درته ټول قيصه کوم.. خو دومره پوی شوه( جنرال خپل په هغه هيبتناک نظر زما خواته راوکتل او په کلکه لهجه يې وويل: ستا ژوند ته خطر دی.. هغه هم د مرګ... کوښښ وکړه تل يو داسې ځای کې اوسيږی چې يو سو نفره درسره وی يواځی ځان مه ګرځه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال د دی خبرو وروسته په تیز قدمو زما څخه لری شو! خو زه هک حیران هملته ولاړ وم دا نو سنګه چل شو؟ سنګه زما ژوند ته خطر دی؟ د چا لخوا؟ اولې نفر مې چې ذهن ته راتلې هغه همدا جنرال وو بل سوک خو نشته هسی ما پر ده او د ده پر خدای بخښلی لور شکایت کړی وو حوزی کې شاید د همغه وخت څخه یې راته په زړه کې کینه ساتلې وی او اوس غواړی ما تر اتم حوزی کش کړی او هلته مې مړ کړی!؟

خو یو بل حس مې راته ویل که جنرال ستا مرګ غوښت نو ستا د کرر آدرس ورسره ړه د شپی لخوا د څو نفرو سره درتلی او همهلته یې ستا چاره کول.. نه دا چی په ړنا ورځ راشی او درته خبرداری درکړی؟ هر شې چې وو خو بیحده ویریدلی وم او خپل کور ته د تلو جرئت می نه درلود فکر مې کوی هلته لاړشم یو سو نفره به راباندی حمله وکړی او مړ به مې کی... غوښتل مې یو چا سره دا خبره شریک کړم کنه لیونی کیدم د زیات فکرونو څخه، اول مې ذهن ته راغلل چې ذوالفقار ته ووایم! خو نه هغه جنګ ته تیار دی خبره به معلوم نه وی او هغه به د جنرال سره لاس و ګریوان شوی وی..

زبیر راته بهترینه نفر ښکاره شو نو لاره مې د هغه د کور خواته واړول او روان شوم، کل چې ورسیدم نو د زبیر مشر ورور زمری راته دروازه خلاصه کړه او زه یې میلمه خانې ته دعوت کړم...! او خپل ولاړی ترسو زبیر ته غږ کړی.. خپل په بې فکر مې لعنت وویل کاش اول مې زبیر ته زنګ وهلې وایی چې بیکاره دی او کنه؟ ما د هغه ددی ورور څخه هیس ښه نه راتلل البته هغه هم زما څخه چندان ښه نه وړل.. څو دقیقې وروسته زبیر راغې او غوښتل یې ما خپل کوټې ته ویسې خو زمری ویل همدلته کینې زه هم ستاسو سره مجلس کوم..

د مجبوری همله کیناستو ما خو پر ځان بار بار لعنت ویل چې ولې مې اول زبیر ته زنګ ونه وهې او ډاریک راغلم کور ته یې.. همدی فکرونو کې وم چې زمری وویل: ښه نو څه خبری طاها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خیروخیریت.

څو ثاني خاموشی شول د زمری په شتون کی په راحته می د زبیر سره خبری نشو کولی. زبیر هم نه پوهیږم ولی ګونګی شوی وو او خبری نه کول؟ د هغه حالت د خلاصیدو لپاره می وویل: زبیر راته څو ورځې مخکې وویل چی زوی دی پیدا شوی؟ مبارک دی ویی.

زمری- مننه ستا شیرنی البته په زبیر قرض ده.

زبیر- ولی پر ما قرض ده؟ زما زوی خو ندی پیدا شوی؟

زمری-ستا ملګری شیرنی غواړی، خپل د وراره په خوشحالی کي ورکړه.

زبیر- ورځه ورک کیږه وراره! هغه چینجی زما غیږ ته لا نه راځی ستا زړه غواړی زه یي په سر یو کلی ته شیرنی ورکړم؟ نه چی هغه سویلې آفریقای ډیر ښایسته دی؟

زمری- خلک خپل د وراره ګانو لپاره څه کارونه چی نکوی،او یو ته یی چی حاضر نه یی د هغه د پیدا کیدو په خوشحالی کی شیرنی ورکړی؟ ته باید کاکا توبی ورشی د طاها د کاکا څخه زده کړی.

د زمری پدی خبری کی بیحده طعنه او پیغور وو، زبیر هم لکه چی پوی شو چی ژر یی زما طرف ونیوی.

زبیر- طاها خپله داسی ښه هلک دی چی داسی کاکا هم لری.

- مننه

نور هلته د پاتی کیدو زړه می نغوښتی په همدی خاطر پاسیدم چی لاړشم

زبیر- چیرته؟

- ناوخته دی کور ته ځم بیا یو بل وخت به خبری وکړو..

زبیر هم لکه چې پوی شو د هغه د ورور خبری راباندی بد ولګیدی ځکه نور ټینګار یې ونکړو او راپاسیدی تر سو زما سره د کور تر دروازی لاړشی...

زبیر- د زمری په خبرو خفه نشی هغه بیځایه خبری زیات کوی..

- نه مشکل نشته نه یم خفه ورنه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- نو ولې داسې فکرمند یی؟

- یو بل خبرې ته فکرمند وم هرکله چې بیکار وی بیا درته وایم..

زبیر- ته لاړشه کور ته زه هم ماښام خوا ته درځم..

- سمده خدای پامان..

زبیر- خدای دی مل.

د زبیر د کور څخه په فکرمند انداز خپل د کور خوا ته روان شوم، زړه مې غوښت د ذوالفقار کور ته لاړشم خو بیا مې ځان سره وویل یو څه نر اوسیږې په هر خبره او هر مشکل ذوالفقار ته پناه نشی وړلی باید خپل مشکل خپله حل کړې.. پدی خبرو باندی مې ځانته دلداری ورکړل او کور خوا ته روان شوم، کور دروازی ته چې ورسیدم نو خپل د کور د دروازی سره مې دا ځل همغه پولیس قومندان ولید چې د جنرال د لور د قتل په ورځ د ذوالفقار کور کې زما څخه اظهارات اخیستلې وه...

زما په لیدو هغه رامخکې شو او د سلام په توګه یې لاس رامخکې کړو، د لاس ورکول حال کې هغه په ځیر ځیر زما خوا ته وکتل او ویې ویل: سنګه یې ښه یی؟

- شکر دی خپله ښه یاست.. کوم کار مو دلته درلود؟

قومندان زما د کور خوا ته اشاره وکړل او ویې ویل: ستا سره مې لږ کار وو،خبری کولې شو؟

په مشکوکه نظر مې شاوخوا وکتل زړه مې نغوښت خو کوم چاره نه وه، دروازه مې خلاص کړل او لاره مې پریخود ترسو قومندان دننه داخل شې، قومندان کور ته ننوت او شاوخوا په کتو شو..

- چای څکی؟

زما پر غږ هغه راوکتل او ویې ویل: نه دومره وخت نشته لږ کار لرم درسره کینه..

د هغه ومخ ته په یو نالې کیناستم هغه هم کیناستې بیحد تلوار مې وو چې پوی شم څه خبره غواړې وکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان- د ټولو څخه اول درته وایم هر خبره مې چې وکړل ورختا کیږي به نه او د خبرو تر اخیره به غوږ نیسې..

زه ورختا او ویریدلې وم هغه هم بیحد خو ومې ویل: سمده غوږ نیسم مهرباني..
قومندان- حوزي ته راغلې وایې بهتره توضیح مو درکولې شو خو تا چې سنګه ریکشن وخودو د جنرال په لیدو نو پوی شو حوزي ته نه راځې..! نو ځکه زه راغلم چې قیصه درته وکړم. تقریبا یو میاشت مخکې د جنرال د لور... ته خپل عینې شاهید د هغه موضوع وی..
په ویري مې وویل: ښه..!؟
قومندان- زموږ اول شک پر تا وو خو د همغه ورځ په سبا خبر شو چې د هغې خاوند هغه وژلی وه، او خبر در رسیدلی به وی چې سنګه پوی شو؟

د زبیر خبري مې یاد ته راغلل چې ویلې وه هغه سړي د جنرال د لور د سترګو د ښخ کولو حال کې ګیر کړی وو، نو ځکه مې خپل سر د هو پشان وخوځه وی، چې
قومندان په تروش تندی وویل: موږ فکر وکړو هغه سترګې د جنرال د لور دی خوو وروسته پوی شو چې هغه سترګې اصل کې د هغه هلک وه کوم چې د جنرال لور غوښتل ورسره وتختې..

د ویري له لاسه مې سترګې خلاصې پاتی وه.. په بند بند ژبه مې وویل: ی....یعنی ه... هغه هلک یې هم د .... داسی وحشیانه وژلی ووو؟
قومندان- متاسفانه هو... او د هغه هلک ټوټې ټوټې بدن یې بغیر له سترګو څخه په بوجۍ کی د یو خط سره د هغه هلک د کور مخکې ایخودلې وو..
فکر مې کوی چې د زیات ویري او ډار څخه مې فشار ښکته شوی، زړه مې ویلې دا خبري او قیصې هسې تاته نکوی...

- ت.... تاسو خو .... هغه ګیر ... کړو کنه...؟ اعدام کړي مو دی کنه....؟
قومندان- اعدام چیرته وو، که هغه تراوسه زموږ لاس کې وایې بیا هم اعدام کولې مو نشو هغه خپل یو افسر جنرال دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- څه ... مطلب ستاسو لاس کې وایې؟ هغه مګه زندان کې ندی؟؟
قوممندان- ګوره زه درته واضح خبره کوم ځکه ستا حق دی چی په موضوع خبر شی.. همغه ورځ مو چې قاتل ګیر کړو همغه شپه نه پوهیږم څنګه خو د زندان څخه وتختیدی...

هک حیران مې ورته کتل، سنګه امکان لری یو قاتل په دومره آسانې وتختې د زندان څخه؟
قوممندان- اوس تختیدل یې بلا وریسی کاش د وطن څخه بیخی تللې وایې خو....
- خو څه؟
قوممندان- سنګه دی پوی کړم قاتل اصل کې د جنرال صیب هم رزم ملګری وو، د جنایي بخش بهترینه او تکړه ترینه قوممندان وو اصل نوم یې جلالدین امیرخیل دی، قوم، دنده،کورنې، پیسه، رتبه، عزت او هر شئ کی ځانته نوم درلود او دا چې ښځه یې داسې د هغه سره دوکه وکړل هغه یې سم دم لیونې کړی..

- خو هغه خپل غچ واخیستو هغه هم په بدترینه طریقه هم انجلې مړه کړل او هم هلک، نو تاسو بیا ولی وایست چې کاش بیخی د وطن څخه تللی وایی؟ هغه خو اوس کوم خطر نلری؟
قوممندان- خبره هم دلته ده موږ هم همدغه فکر کو چې اوس به هغه و غوارړی وتختې خو، سنګه مې چې درته وویل هغه ددی انجلې په سر خپل ټول شیان له لاسه ورکړل نو ځکه اوس ورڅخه یو لیونې جوړ شوی، یو میاشت کې هغه خپل د ښځې او هغه هلک علاوه دری نور قتل هم کړی...

په حیرت مې وویل- څه..؟.. ش.... شاید هغه نه ویې کړی تاسو له کوم خوا پوی شو چې همده کړی؟
قوممندان- اول دا چې هر هلک چې وژل شوی په یو رقم د جنرال د لور سره یې ارتباط وو، او دویم هم د وژلو طریقه یو شانتې ده توټه، ټوټه کول او بوجۍ کې اچول... دریم هم دا چې د مقتول ټول اعضا کامل او پوره وی خو سترګې نشته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوڅلور هم يو خط..... او هغه کې يو جمله ليکې .... "زما ناموس ته چې سوک وګوری سترګې به يې زه خپل په لاسو باندی ځمکه کې ښخ کړم." څلور هلکان وژل شوی تر دی دمه.. او هغه کې يو دانه خو همغه وو چې د جنرال د لور سره تختيدی دويم هم د جنرال د کور اندې ته دوکاندار وو او دا دوه نور د جنرال په کوڅه کې اوسيدل او زموږ ګمان دی چې شايد راروان کس ته اوسيږی...

د قومندان پدی خبره فکر مې کو زړه مې د درزيدو څخه ودريدی..! نفس اخيستل مې د څو ثانې لپاره لياده ووتل، چې قومندان په ورختای لڅايه پاسيدی يو پياله اوبه يې زما خواته ونيول او بيا پداسې حال کې چې زما اوږه يئ مښل کرار او د دلداری ورکول پشان وويل: آرام اوسيږی هغه هيس کار نشې کولی تراوسه موږ نه پوهيدی چې د هغه مقصد څه دی؟ او راروان نفر به سوک ويې؟ خو اوس موږ خبر يو او معلومات لرو نو ويريدلو ته ضرورت نشته...

فکر مې کو چې لاس او پښې مې سستې کيږی او حرکت مې نشو کولې کامل توګه په بالښت مې تکيه ووهل او سر مې کيخودی..
قومندان- انديښنه مه کوه زموږ پام دی درته هغه هيس کار نشې کولې، ما درته خبر درکړو ترسو ته هم لږ چمتو اوسيږی کنه دا دری ورځې کيږی موږ ستا کور د نظر لاندی نيولې...
- رښتيا؟ وايست؟
قومندان- هو موږ د ډير وخت راهيسې پر تا فکر دی.. هيس د ورختا کيدو ځای نشته..
په پسخند مې وويل: بيا نو هغه څلور هلکان يې څنګه مړه کړل؟ کله چې د اول جسد سره ليکل شوی وه" زه خپل د ناموس غچ اخلم" تاسو هلته پوی نشوی قاتل سوک دی؟ او سنګه راګير کړی؟

قومندان هيس ونه ويل، د هغه شتون عصاب راخراب کول زړه مې غوښتل خپل د کور څخه يې وشړم، خو هيس توان راکې نه وو خپل ټول ژوند مې برباد شوی ليدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر مې کو د يو ليونې افسر قوندان په لاس به مرګ سومره دردناک وی؟ يعنی ما به هم ټوټې ټوټې کړی؟ زما سترګي به هم وباسې؟ پدی فکرونو حالت مې نور هم خراب شو او قومندان ته مې وويل: خبری مو خلاصې شوی؟ که کوم بل شئ هم پاتی؟

قومندان- نه خلاصې شوی..

- نو مهربانې وکړې زما د کور څخه لاړشی..

قومندان- هلک حالت دی ښه ندی پريږده يو سو ساعت همدلته اوسيږم..

- نه زه ښه يم مهربانی تاسو لاړشی..

قومندان- اممم رنګ دی بيحده پريدلې ويريږم هسې بې هوښ نشې.

- نه بې هوښه کيږه زه ښه يم مهربانی تاسو لاړشی..

قومندان زما د څنګ پاسيدی او ويې ويل: سمده زه ځم خو زنګ ووهه يو سوک دی مرستې ته راشې.. او هو د کوڅې سر کې په هغه کوچنې دوکان کې هغه دوه نفر پوليسان دی او ستا د ساتنې لپاره هلته دی که کوم مشکل وو هغوی ته ويلې شې. او دا هم زما شخصې نمبر دی هر وخت ... تاکيد کوم هر وخت کوم مشکوک شئ دی وليدی ماته زنګ وهلې شی..

قومندان خپل کارت چې هغه کې نمبر ليکلی وو زما څنګ ته کيخودی او د کور ووت، د هغه د تلو وروسته کور کې يو دم خاموشی خپره شوه، او زما زړه کې بيحد ويره او ناميدی وولیدل... خدايه ولې دا دومره مشکلات زما په سر راوړې؟ اخير ولی؟ ما ستا په حق کې کوم بدی کړی چې زه دی رانيولې يم او پريږدی می نه؟ خو وګوره دومره خلک پر يو بل چا دا بلاوی نازل کړه تنها زه خو دی بنده نه يم چې هې پر ما بانديــ....

شمويل- استغفرالله ماشوم کفر مه وايه...

د شمويل په ناساپه غږ دری متری لځايه مې خيز کړو او په غوسه مې د هغه خوا ته چې کرار د کوټې مينځ کې ولاړ وو وکتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمویل- لکه چې و مې ډاره ولې ماشوم..!
- ته همیشه اول زما زاره چوی بیا وایې لکه چې ومې ډاره ولې ماشوم..! هو انسان نه یې چې پوی شی ناساپه راتلل هغه هم داسې زما زاره راچوی...
شمویل- ښه سمده وبخښه راغلې وم یو خبره درته وکړم او لاړشم..

- څه؟

شمویل- د قوماندان او جنرال سره همکاری وکړه کوښښ وکړه، د هغوی سره اوسیږی او یوائی مه پاتی کیږه زه د پیریانو څخه ستا ساتنه کولې شم خو نشم کولې مخامخ د انسانانو موضوع کې لاس وهنه وکړم ځکه زموږ د قوانینو خلاف دی.. نو ته خپل ځان د انسانانو څخه وژغوره زه به دی د پیریانو څخه وژغورم..!
- بیخی ښه کار دی زما ژوند خو ندی د جنگ میدان دی یو ځل ستا قوم خویش راپسی و او اوس د جنرال لیونی زوم..!

شمویل- نامیده کیږه مه خدای مهربانه دی، د هر تیاری وروسته رڼا شته او د هر ناکامې وروسته کامیابې دا به هم تیر شې...
- هوم تیر به شې البته زما په مړه کیدو هغه هم د یو لیونی انسان پر لاس..
شمویل- بیځایه خبری مه کوه ترسو چې د مرگ نیټه دی پوره نه وې د دنیا هیس طاقت تاته ضرر نشې رسه ولې... زه باید لاړشم خو زما خبری یاد کې وساته طاها...

د شمویل د تلو وروسته لځایه پاسیدم داسې په مفته خو هم نشم کولې مرگ ته تسلیم شم باید خپل ټول وسه او توان مصرف کړم... هسی هغه د جنرال زوم د عمر څخه بوډا وو که یوائې ځان راشې زور به مې وربآندی ورسیږی؟.. خو هغه جنایی قوماندان وو همغه بوډاتوب کې لا غښتلې معلومیدی... که لاس په لاس لا وجنګیږو بیا هم زما زور وربآندی نه رسیږی..! موبایل ته مې زنگ راغې خو هیس د جواب ورکولو حوصله مې نه وه نو همغسې مې پریخود د سو دقیقو زنگ وهلو وروسته خاموش شو.. حویلې ته لاړم د کور دروازه مې قفل کړه د کور کړکې مې ټول بندی کړی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو غټ چاقو مې راوخیست او د هلیز کې کیناستم.. دواړه سترګې مې د دروازې خواته نیولې وه! فکر مې کو اوس دروازه خلاصه کیږي او هغه لیونی قاتل راځي...! هیس ځای نشوم تللې ویریدم هسې نه زما د لاسه کوم بل نفر ته ضرر ورسیږي ..! نه د ذوالفقار کور ته تللې شوم نه زبیر او نه هم بابا کور ته هیس ځای نشوم تللې..! فکر مې کو یواځې پاتې یم کامل یواځې... پدې فکرونو سترګې مې د اوښکو ډکې شوې.. چې موبایل ته مې زنګ راغې په نه زړه مې جواب ورکړو.. زبیر وو..

ویل یې نن ماښام زما کور ته راتلې نشې ځکه لږ کار لري، ما هم ورته هیس ونه ویل او د سمده کوم مشکل نلري په ویلو مې موبایل بند کړو ذوالفقار هم سو ځله زنګ وهلې وو او پوښتنه یې کړې وه خو د جواب ورکول حوصله مې نه درلود، یو خوا خوشحال وم لدې چې زبیر رانغې ځکه نه مې غوښتل زما د لاسه دې کوم بلا د هغه په سر راشې.. خو بلخوا زړه مې غوښت چې کاش راغلې وایې او زه داسې یواځې نه وایې پاتې شوې ..!

د ماښام تر یو دوه بجو همغسې چاقو په لاس ناست وم د هر خرپ سره به مې د زړه درزا یو سلواتیا ته پورته کیدل او ځان سره به مې ویل چې راغې...! ویره هم بد شئ وی انسان باندې خپل ژوند ګران ویې، مرګ خو اخیر ټول مړه کیږو خو داسې ظالمانه مرګ زه خپل دښمن ته لا نغواړم نور خو لرې..

نه پوهیږم څه وخت به د زیات بیخوبې له امله د غفلت نړې ته تللې وم.. د موبایل په بیحد او پرلپسې زنګونو راویښ شوم، په پټو سترګو مې موبایل راوخیست خو د جواب ورکولو مخکې زنګ قطع شو، ذوالفقار زنګ وهلې وو دومره حوصله مې نه درلود چې بیرته ورپسې زنګ ووهم او د هغه کنځلو ته غوږ ونیسم نو ځکه مې موبایل یو طرف ګوزار کړو او دا ځل سم په نالې پریوتم، چاقو مې تراوسه لاس کې وو د لمر وړانګې د کړکۍ څخه کوټې ته رانوت. ساعت ته مې وکتل د سهار اته بجې وه..

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سهار لمونځ راڅخه قضا شوی وو، پر ځای پروت وم شاوخوا مې خپل کور ته کتل د کلونو وروسته د کور صاحب شوی وم، کار مې پیدا کړی وو، د بابا سره لږ څه نا څه د آشتۍ او صلح کولو اراده مې کړې وه، هغه هم د بابا د هغه ورځ په کار چې د ذوالقرنین کاکا کور کې د فرید د ماما مخکې زما طرف نیولې وو، پدی شیانو دومره افسوس نخورم چې ولې اوس چې زما ژوند د رښتیا هم ژوند کیدی دا حالت راپیښ شو؟، د ټولو څخه زیات آرمان او افسوس پدی کوم چې تازه مې د یو چا سره زړه لګیدی، تازه مې راتلونکې ته پلانونه جوړه ول خو لکه چې د خدای منظور نه وو زما پلانونه چې داسې راته برباد کړل..

په ځای کې پروت وم او د دنیا ټول نامیده فکرونه مې ذهن کې ګرځیدل، لځان سره مې وویل هسې هم د ژوند اخیری شپې او ورځې ددې راځه دغه خو په خوند تیر کړه که نور نکیږی یو کرار آرام او پر سکون خوب خو پکې وکړه، پدی فکر کرار بیرته له سر ویده شوم د دروازی په ټک، ټک له خوبه راپاسیدم ساعت ته مې وکتل دا غرمې دولس بجې وی، کوږ، کوږ او خوب نیولې لاړم او د کور  دروازه مې خلاصه کړه، یو 25/26 کلن ځوان هلک چې تور سترګې او ګیره درلود د دروازی مخکې ولاړ وو..

هلک- ښه یاست؟
- شکر د خدای فضل دی .. اممم تاسو سوک؟ آیا زه تاسو پیژنم؟
هلک- نه اصل کې زه ستاسو ساتونکې پولیس یم قومندان صیب دلته وظیفه راکړې، نن تر غرمې منتظر وو چې تاسو له کور را ووځې خو ستاسو په نه راتلو ورخطا شو او قومندان صیب ته مو خبر ورکړو هغوی ویل چې کور ته درپسی درشو تر څو ستاسو حال معلوم کړو چې ښه یاست او کنه؟

پوی شوم دا همغه د دوه پولیسانو له ډلی څخه یو پولیس دی کوم چې قومندان ویل زما د کور مخکې په دوکان کې زما د ساتنې لپاره ټاکل شوی! د ښه یم پر ویلو دروازه مې ورباندی بنده کړه.. یعنی دوی امید لری هغه لیونی قاتل ګیر کړی؟ که ږوی دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکرہ وایې نو اول ځل به ددوی د زندان څخه نه وایې تختیدلې! بیرته کور ته راغلم بوډۍ ته مې زړه نکیدی بیرته ولاړم څملاستم..! زړه مې غوښت یو ځل د استاذ د کور خوا ته لاړشم او د اخیری ځل لپاره ... نه پوهیدم ولې مې زړه غواړی هغه خوا ته لاړشم؟ او د اخیری ځل لپاره نه پوهیدم غواړم سوک ووینم؟ زړه مې ولې غواړی هلته لاړشم؟ ګنګس وم خپل هم نه پوهیدم چې څه غواړم؟

په همدی فکرونو کې بیا ویده شوی وم... د موبایل په زنګ راویښ شوم دومره غوسه راغلې وه چې بغیر لدی چې وګورم سوک دی خاموش مې کړو، د ماذدیګر څلور بجې وه! نن مې د ټولو ورځو قصد واخیست دومره زیات ویده شوی وم..
اراده مې وه بیا ویده شم چې د دروازې ټک ټک شروع شو ځان سره مې وویل شاید بیا همغه پولیسان وی؟ سخت غوسه راغلې وه زړه می نغوښت دروازه خلاصه کړم، خو هغه نفر هم د کرار کیدو نه وو ویریدم که دروازه خلاصه نکړم مات یې کړی..! دومره په کلکه باندی ډب ډب ټکوی...

مجبور لځایه پاسیدم اراده مې کړی وه همدا چې دروازه خلاصه کړم هر سوک چې وو ښه سم صحیح یئ بیاب کړم خو دروازه مې چې خلاصه کړه نو ذوالفقار مې ولید..! د دروازې خلاصیدو څو ثانې وروسته هم ذوالفقار د دروازې څنډه ټکه ول...!
په بې حوصله لهجه مې وویل: هااا..؟ څه خبره ده؟
ذوالفقار- ما ویل داسې وټکوم شاید غږ وآوری...!
- وا مې وریدی...

ذوالفقار په غوسه باندی زه ټیله کړم او کور ته راننوت.. ما هم دروازه بنده کړه او ورپسی دهلیز ته ننوتلم، د ذوالفقار د کارو څخه معلومیده چې غوسه دی خو ما هم چندان ښه عصاب نه درلود، ذوالفقار د دهلیز مینځ کې ولاړ وو او شاوخوا یئ په مشکوک نظر کتل...

ذوالفقار- د پرون ماښام نه تراوسه څه مرګ دی کول؟ ولې شرکت ته رانغلې نن؟
- بخښنه کوه لږ ستړی وم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- سترې وی...؟ دومره سترې وی چې موبایل ته دی لا جواب نشو ورکولي؟
- هومم خو یو کار به مې درلود چې جواب مې ندی درکړی، اوس څه دی غوښتل
ووایې چې زنګونه دی وهلې وه؟
ذوالفقار- هیس غوښتل مې پوی شم چې مړ یې؟ ژوندی یې؟ په څه حال یې؟ هسی
دی وخت کې زما مسئولیت دی چې راټول دی کړم...

- که مړ شوم د مرګ خبر مې تر تا در رسیږي، او هو ته چا مجبوره کړی نه یې چې پر
ما پام وکړی او ما راټول کړې که خفه یې مهربانۍ زما له کور ووځه...!
ذوالفقار پداسې حال کې چې کوښښ کوی خپل غوسه کنټرول کړی ویې ویل: طاها
زما پر عصایو مه ځه کنه داسې دی ووهم چې د سپې غږ وکړی...
بیحده غوسه راغلې وه هیس مې ځان نشو کنټرول کولې او خوله مې خلاصه کړه:
کوم سپې چې غاپی هغه غاښ نشې لګولې...

پدی خبری ذوالفقار یو دندان شکن جواب راکړو... هو یو رقم یې په خوله ووهلم
چې نږدی وو غاښونه مې مات شوی وایې، دومره کلک یې ووهلم چې تر څو ثانیو
مې خپل نوم لا لیاده وویست..! د وینو خوند مې خوله کې احساس کوی دا هم د
خدای فضل وو د لاس په شا یې ووهلم که په بوکس یې وهلې وایې بغیر له کوم
شک چې غاښونه مې مات کیدل.. پوهیدم چې زور مې په ذوالفقار نه رسیږی او
وهلې نشم! ځان سره مې وویل دِب خو ما وخوړې وهلې خو نشې راځه لږ په خبرو
باندی خپل زړه ورباندی یخ کړه نو ځکه مې ورته وویل:

- پوهیږې ولې رانغلم شرکت ته؟ ځان سره مې ویل چې لیلا و مجنون پریږدم عشق
و تماشې ته...( مطلب مې فاطمه وه ... دا خبره مې چې وکړل خپل پوی شوم چې
څه بد مې وکړل! اصلا یو دقه مې د ذوالفقار سترګو کې د قاتلانو پشان غوسه او
قهر ولید.. بدبختانه بیحد مې غوسه کړی وو دا ځل په سپیږی په خوله ووهلم، نه
پوهیدم چې څه وکړم زور مې ورباندی نه رسیدی او یواځې مې کولې شو چینجې
خبری وکړم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ولې غوسه يې تخو بايد خوشحال اوسيږی تاته مې د يار سره د ليدو فرصت برابر کړو..
د سترګو په رپ کې ذوالفقار زما لاس ونيوی او د شالخوا يې قات کړو، دومره کلک يې لاس راقات کړو چې اخ مې پورته شو خو ذوالفقار هر ثانيه خپل د لاس فشار زيات کوی، ما هم ددی لپاره چې نور هم زور ورکړی د خاله خبره مې نيولې وه او نه مې خوشې کول.. فکر مې کو کله چې د خاله نوم ذوالفقار ته اخلم غوسه کيږی، او صحيح مې کمان کړی وو ځکه ذوالفقار طاقت ونشو او ددی لپاره چې زما خوله بنده کړی زه يې پر ځمکه د شاه پر تخته چپه کړم خپل دواړه زنګنونه يې زما پر لاس کيخود او زما پر سينه ناست وو دوه دری ځله يې پر خوله ووهلم البته دومره کلک نه بيايې زما زنه کلک خپل لاس کې ونيول او ګواښ لرونکې انداز باندی وويل:

ذوالفقار- طاها بل ځل به داسې خبری نکوی کنه پخدای قسم مړ کوم دی..
ما هم د ويری له لاسه خپل سترګې پټې کړی وه او ژر ژر مې خپل سر وخوځه ويې ترسو خوشې مې کړی د ذوالفقار لاندی مې نفس قيد شوی وو، فکر مې کوی د سينې هډوکې مې په مات کيدو دی.. شکر ذوالفقار خوشې کړم او په تلوار زما له کور ووت د حويلې دروازه يې هم داسې په کلکه بنده کړل چې زما د کور ديوالونه لا ولړزيدل ورسره....

د ذوالفقار د تلو وروسته په زحمت پاسيدم او خپل خوله باندی مې اوبه تيری کړی، شونډه مې خوږه شوی وه او وينه ورڅخه راتلل، او په مخ مې د ذوالفقار د ګوتمې نشان وو، شونډه مې زيات وينه نکول او د يو دوه ځل مينځلو باندی وينه راتلل يې بند شول.. لکه خر پښيمان وم لدی چې د ذوالفقار سره مې هغه رقم خبری وکړل کاش همغه ماښام مې د موبايل جواب ورکړی وايې، خو بيا هم نه بايد هغه زه وهلې وايې! خو ذوالفقار همداسې قهرجن شئ دی زه خو خبر وم بيا ولې مې داسې خبره يو پر دوه کړل ورسره...! اول و اخير خپل ملامت وم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس او مخ مې ومينځي او غوښتل مې کوټې ته لاړشم چې د کلا درواه وټکيده! ناساپه زړه ته مې ويره وولېدل هسی نه ذوالفقار وی؟ او راشې بيا مې ووهې؟ خو ذوالفقار دومره هم ليونې ندی چې دويم ځل راشې زما د وهلو لپاره! خپل په وينه شوی شونډه مې لاس نيولې وو او ولاړم دروازه مې خلاصه کړه زبير وو، زما د مخ په ليدو يې په ورخطای وويل:

زبير- څه خبره طاها؟ ښه يې؟

- هو ګوزاره کوم..

زبير- بيا ګوم پيری دربادی حمله کړی؟

- کاش پيری وايې...

لاره مې پرېخودل او زبير زما پسی کور ته راداخل شو، نه پوهيږم ولې خو زړه مې نغوښت زبير ته ووايم چې ذوالفقار وهلې يم! خو هغه په کراره نه پرېخودم هې پوښتنه يې کول چې څه دربادی شوی؟

- اوس چې دومره شوق لری پوی شې نو درته وايم يو چا ووهلم صحيح شو..

زبير- چا ووهلې؟

په افسوس باندی مې خپل سر وخوځه ويې او ومې ويل: ذوالفقار..

زبير- ټوکې کوی؟

- د څه ټوکې رښتيا وايم...!

زبير اول څو ثانې وخندل بيا يې په حيرت وويل: د څه لپاره يې ووهلې؟ ولې مو جنګ وکړو؟

- ماښام يې څو ځله زنګ وهلې وو ما فکر نه وو شوی، اوس يو څو دقيقی مخکې ستا څخه راغې خبره مو سره يو پر دوه شول او .....

زبير- منم چې ذوالفقار عصبی انسان دی او ډير ژر غوسه کيږی، خو داسې کس ندی چې ايله ميدان يو سوک ووهې ضرور تا کوم خبره ورته کړی، کنه هغه هر سوک ووهې پر تا باندی لاس نه پورته کوی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اوس خو یې لاس هم پورته کړی او لغته هم ...
زبیر- رښتیا ووایه څه دی ورته وویل چې داسې خشم یې درته راغې؟
- هیس... یو خبره کې مو اختلاف نظر راغې...
زبیر په خندا وویل: لکه چې اختلاف نظر مو یو څه زیات وو..
- هو لکه چې معلومیږی خو همداسې..

زبیر په خندا وویل: یعني اوس تاسو دواړه یو دبل څخه مرور یاست؟ جنګی جنګی؟
- بلا بلا..
زبیر په خندا وویل: اله وی خدایه همیشه مې آرمان وو تاسو دواړه داسې حال کې وګورم بیا راسم هې دواړه پعذاب کړم اخ چې خوند کوی...
- زمورږ دواړو جنګ خوند لری؟
زبیر- افف مه وایه عسل و مربا... داسی خوند کوی وای وای..

هیس مې ورته ونه ویل چې زبیر په خندا وویل: په هر حال که کوم وخت دی د ذوالفقار پسی زړه تنګ شو نو ماته داسې کوچنې اشاره کګ وکړه، نور زه درته موضوع حل کوم..
- همدغه پاتی ته مورږ دواړه آشتې کړی..
زبیر- زړه دی مه خوشحاله وه اوس آشتی نکوم پریږده یو څه پدی مینځ کی زه خوند واخلم بیا... ښه دا خبری اوس پریږده پرون دی څه ویل غوښتل؟
- ما؟
زبیر- هو تا... خو د زمری په شتون کیدی څه ونه ویل بیا شپه هم ونشو چې زه راشم ستا کور ته، اوس وایه څه خبره وه؟

- هیس... هسی راغلې وم ستا لیدو ته..
زبیر په مشکوک انداز راوکتل او ویې ویل: ستا په نظر زه خر معلومیږم؟
- نه یم خبر شاید..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- بلای شاید... لکه انسان پشان ووایه څه خبره دی غوښتل وکړی؟
- و مې ویل کنه هیس...

لڅایه پاسیدم او د آشپزخانې خوا ته لاړم نه مې غوښتل خبره زبیر یا هم کوم بل چا ته ووایم، اول خو فایده نه درلود ځکه د هغوی د لاسه کوم کار نه کیدو، دویم هم دا چې نه مې غوښتل زما د لاسه دی زبیر،ذوالفقار یا هم کوم بل چا ته کوم تکلیف ورسیږی، زبیر چې هر سومره کوښښ وکړو ما ورته یوه خبره لا ونکړل تر دی حده چې غوسه شو او د کور ولاړی، د هغه په تلو لږ خفه شوم خو په عین حال کې خوشحال هم وم... دا زما ستنوزه او مشکل دی ولی زما په خاطر دوی ته کوم نقصان ورسیږی.. د ذوالفقار سره په جنګ خفه وم... ځان سره مې ویل اخیر وقت دی کاش مې داسې جنګ نه وایې ورسره کړی... خدای خبر بیا به یې ووینم او کنه؟

لګیا شوم د کور په پاک کولو ترسو فکر مې د دی منفې فکرونو څخه واوړی، خو نه کیدو... هر رقم چې کوښښ مې کوی بیا هم زر رقم بیځایه فکر مې ذهن ته راتلل زبیر لس دقیقې وروسته ګرم ډوډی په لاس بیا راغې...
زبیر- ته فکر کوی زه تا په دومره آسانې ایله کوم تر سو چې پوی شوی ونه اوسیږم چې ولې دی شونډان بوک نیولې او خفه یې قدم لا نه ځم لدی ځایه..!

د هغه په راتلو خوشحال وم لدی چې یو چاته واقعاً زما د خفګان او خوشحالې مهم وه، په خندا مې ورته وویل: اول ډوډی وخور چې د ماښام راهیسې می هیس ندی خوړلې..
زبیر- ولې کور کیدی ډوډی نه وه؟
- ډوډی خو وه خو حوصله او اشتها نه وه..

زبیر نور څه ونه ویل په ګډه کیناستو او د زبیر اخیستل شوی، دوه خوراک کباب د ګرم ډوډی سره مو وخوړل.. د ډوډی خوړلو وروسته زبیر په تمه ناست وو تر سو ورته خبره وکړم خو زه اوس هم زړه نا زړه وم او نه پوهیدم چې زبیر ته ووایم او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر- ښه آورم..!

لګیا شوم او د قوموندان ویل شوې ټول خبرې مې زبیر ته وکړل، فکر مې کو چې شاید زبیر ته د خبرو کولو وروسته یو څه به راحت شم خو برعکس کار وشو لدی چې زبیر ته مې حال وویل خبره نور هم خراب شوه..! ځکه زبیر لکه لیونیانو پشان وای وای شروع کړو او بیحده ورخطا شو داسې چې وویریدم خدای مکړه کوم شئ وربانددی ونشې..

- زبیر یو دقه کینه دومره پدی کوټه کې مه ګرځه راګرځه زما عصاب دی خراب کړل..

زبیر پداسې حال کې چې د کوټې مینځ کې د زیات تشویش له لاسه ګرځیدی ویې ویل: وای... طاها ته سنګه داسې بی فکره اوسیدی شې؟ یو لیونې قاتل ستا پسی دیراو غوارې تا ټوټه، ټوټه کړی او بوجۍ ته دی واچوی او هغه وخت ته داسې کرار ناست یې...؟

- نو څه وکړم؟ زما د لاس هیس کار نکیږی مجبور یم صبر وکړم...

زبیر- وای.... وای ... طاها راځه لاړشو هغه دوه پولیسان وګور..

- څه یې کوی..؟

زبیر پداسې حال کې چې د کوټې دروازی خوا ته تلې وویل: باید ویې ګورم او خبری ورسره وکړم شابه راځه..

په نه زړه د زبیر پسی شوم د کور و وتلو او همغه د قوموندان یاد کړی کوچنې دوکان ته ولاړو، دوه نفر په دوکان کې ناست وو زموږ په ورتګ ولاړ شول، یو دانه مې وپیژندی همغه د نن غرمې هلک وو خو دا بل مې ونه پیژندی.. د دواړو سره مو ستړې مشی وکړل د کیناستلو مخکې زبیر خبری شروع کړل..

زبیر- ښه تاسو تر کوم وخت د طاها ساتنه کوی؟ قاتل دیخوا راغلې؟ مطلب د طاها کور ورته معلوم دی؟ هغه نور کسان چې مړه شوی تاسو د هغوی ساتنه هم کول؟ دا نو سنګه ساتنه وه؟

زبیر بغیر له وقفې لګیا وو او هغه دوه دانو پولیسانو څخه یې پوښتنی کول، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه هم په خلاص خول زبیر ته کتل.. تر دې چې مجبور شوم ځان مې د زبیر خبرو کې واچوی او زبیر مې لږ کرار کې، تر یو ساعت زبیر د هغه دواړو پولیسانو شجره نامه راویستل دومره پوښتنې او خبرې وکړل چې د هغه دواړو پولیسانو له څهرې معلومیدل چې زړه یې غوښت پاسیږی او موږ دواړه ښه سم وډبوی...

اخیر په سل منت او زاریو مې زبیر راضی کړو چې نور د دوکان څخه لاړشو، نه تلې زړه غوښت دې هم کینې دوکان کې او ځان څخه پولیس افسر جوړ کړی دومره پوښتنې وکړل..! کور ته چې داخل شو زبیر په تشویش وویل: طاها زه ډیر وخطا یم..
- کامل معلومداره خبره ده چې سومره ورخطا یې..
زبیر- باور وګړه زما لاس کې ندی هسی فکرونو مې ذهن ته راځې که ویې نه وایم لیونې کیږم..
- او که ویې وایې ما لیونې کوی.. دا یو ساعت کیدی زه زر ځل په بوجۍ کې ننویستلم او راوباسلم بس دی ..

زبیر- زه ستا په غم کې یم نغواړم د یو لیونی جنرال له لاسه مړ شې پدی ځوانې کی.. اصلاً زه یو پلان لرم..
- څه پلان؟
زبیر- همدا اوس ځو ذوالفقار ته ټول خبره کو او شپه د هغه کور کې پاتی کیږو..
- پولیسان زما د کور ساتنه کوی نه د ذوالفقار د کور..
زبیر- سمده که تللې نشې نو زنګ وهو او ذوالفقار دلته راغواړو او خبره ورته کو..
- او ستا په نظر د هغه جنګ وروسته ذوالفقار حاضر کیږی زما کور ته راشې..؟
زبیر- که خبر شې ستا ژوند ته خطر دی همدغه دقه راځې..

- نه..
زبیر- هو.. تا بیعقل تراوسه ذوالفقار ندی پیژندلی هغه ضرور راځی کله چې د خبری څخه خبر شی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خو زه نغوارم ذوالفقار لدی موضوع خبر شی..
زبیر- ولې؟
- تخو خپله ذوالفقار پیژنی هغه عصبې شئ دی د قاتل مخکې راځې یا ما مړ کوی یا هم دا پولیس افسران او قومندان ..
زبیر- دا خو ده که خبر شی اول ددغه دوه بیعقلو پولیسانو چاره کوی، و دی لیدل طاها زه ورځخه پوښتنه کوم لکه ګونګیان راګوری او جواب نه راکوی...

- ستا پوښتنې یو څه بې ډیزاینې وی..
زبیر- د څه بې ډیزاینې خو سم صحیح پوښتنه مې کول..
- دا نو ستا په نظر سم پوښتنه وه چې تا وویل هغه قاتل چپ لاستې دی که راسته؟
زبیر- خو ته بیعقل یې ددی پوښتنې په مطلب نه پوهیږی..
- ښه ته مې پوی کړه..
زبیر- ګوره ما آوریدلې چپ لاستې خلک زیات ظالمان او تکړه ویې خو راسته لاس خلک یو څه رحم دله او مهربان وی..

یو څو دقیقې مې په ځیر ځیر د زبیر خوا ته وکتل اخیر بغیر لدی چې څه ورته ووایم، لځایه پاسیدم نالې او کمپل مې ورته راوړو او خپل ځای مې هم واچوی..
زبیر خپل نالې زما د نالې سره جفت واچول او ویې ویل: طاها ونه خاندی ښه خو باور وکړه که ستا خاطر نه وایې له وخت ددی ځای تختیدم خو بس څه وکړم مجبوری ده نو څه به نه وایې نن شپه زه ستا څنګ ته ویده کیږم..

خندا مې راغلې وه د زبیر دومره ویری ته خو کله چې خپل د پرون شپه حالت او چاقو په لاس ویده کیدل مې یاد ته راتلل زبیر ته مې حق ورکوی چې داسې ویریدلې وایې، زه پرون د دی خبرو په آوریدو د زبیر څخه زیات ویریدلې وم خو اوس د زبیر په شتون کې ویره مې لمینځه تللې وه.

- مشکل نشته حق درکوم داسې و ویریږی پرون شپه چې زه هم اول ځل خبر شوم ستا څخه مې حالت بتر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبير- ډېر بيعقل يې نو ولې دې همغه شپه ماته يا هم ذوالفقار ته خبر ورنکړو؟؟
- نه مې غوښتل زما د لاس بل چا ته تکليف ورسيږي.. اوس مې هم تاته نه ويل بس زيات ټينگار دې وکړو مجبور شوم درته خبره وکړم..
زبير- تا بد کول چې ما ته دې خبره نکول.. د ټولو څخه اول تا بايد زه خبر کړې وايې..
- بيا تا څه کول؟
زبير- بس يو کار مې کوی.. خو دا چې ته ځان څخه د هندی فلمو هيرو جوړ کوی هيس مې نه خوښيږی(او بيا پداسې حال کې چې زما د خولې پيښی کول ويې ويل: نغواړم زما په خاطر بل چاته ضرر ورسيږی...

زبير- دا خبرى اوس پريږده زما خبره ومنه د ذوالفقار سره آشتې وکړه، او رايوړه دلته خپل کور ته، پدی پوليسانو باور مه کوه که دوی دومره تکړه وايې همغه اول کې به ورڅخه تختيدلې نه وايې، ذوالفقار را وغواړه د هغه څنگ کيدی امنيت ددی پوليسانو څخه زيات دی..
- ستا خبره يې صحيح خو خدای خبر ذوالفقار زما مخ ته لا وگوری د هغه جنگ وروسته راتلل خو لری...
زبير- عه خبره دومره مه کشه وه.. يو خبره تا وکړل يو ډب هم هغه درکړو خبره خلاصه.. سبا ورشه يو ښښنه ورڅخه وغواړه و من الله توفيق..

- ستا لپاره دا خبری کول آسانه دی... خو باور کوی يواځې 6/7 ساعت کيږی چې نمې دی ليدی... خو فکر کوم چې کلونه کيږی ورسره خبری مې ندی کړی دومره ورڅخه شرميږم او خجالت زده يم ورته.. ذوالفقار زما حق کې وروروالې نه بلکه پلار توبې کړی بلکه يو اصلې پلار لا دومره نيکې خپل د اولاد حق کې نکوی سومره چې ذوالفقار زما حق کې کړی او ما په بدل کې ورته ....
زبير- اممم دا خو ده.. او هو يو خبره ... ذوالفقار ما ته ويل چې طاها بيحد شرمندوک او خجالتې دی خو زما باور نکيدل اوس ستا په خبرو ډاډمن شوم... غم مه کوه زما رقم دوست لری خپله دی د ذوالفقار غيږ کې اچوم او آشتی آشتی..

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نه نه دا کار ونکړی بیخی نو رسوای ده.. زه خپل یو رقم ورسره آشتی کوم.
زبیر- ښه ده افرین خو یو څه ژر آشتی وکړه، کنه زه خپل په طریقه مو صلح کوم..
- سمده.. زبیر..!
زبیر- ها ..؟
- ګوره تر کوم وخت چې ما ذوالفقار ته خبره کړې نه وی، ددی قاتل په اړه ته ورته هیس ونه وایې..!
زبیر- ولې؟
- بس مه وایه ورته..
زبیر- سمده.

د شپې دوه بجو شاوخوا وه چې د ویده کیدلو اراده مو وکړل، زبیر د هغه دومره ویری او ډار با وجود کرار ویده شو خو ما ته خوب نه راتلې، هسی فکرونه مې کول او سترګې مې د کوټې چت ته نیولې وه چې حویلې څخه مې یو غږ وآورید! د غږ په آوریدو په تلوار لځایه پاسیدم د کوټې پرده مې لږ کش کړل تر سو وګورم څه خبره ده؟ چې د یو ثانی لپاره متوجه شوم یو وړوکی ماشوم په حویلی کی روان دی، او د دهلیز دی بلخوا څخه یو بل ماشوم د زبیر بوټ په هغه ماشوم ګوزاره وی.. د هغه صحنی په لیدو پرده می دلاس څخه ایله شوه! بیحده ویریدلی وم ځکه پوهیدم که د پیریانو کوچنیان دیخوا ګرځی هرومرو خپله هم دلته دی؟

خو دا چې هغوی لوبې کول او کوم جنګ او ګواښ لرونکې انداز ما ورنه ونه لید نو یو څه فکر مې راحت شو، بیا مې چې پرده پورته کړه نو هیس هم نه وه..! آیت الکرسي مې څو ځله ځان سره وویل او خپل ځای کې څملاستم.. خوب نه راتلې ځکه درسته ورځ ویده شوی وم د سهار تر آذان مې سترګه پټه نکړل.. سهار آذان وروسته پاسیدم مونځ مې وکړو او زبیر مې هم راویښ کړو لمانځه ته..

زبیر په خوبجن انداز وویل: ته تراوسه ویښ وی؟
- زه پرون درسته ورځ ویده شوی وم نوځکه خوب مې نه راتلې..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبیر پاسیدی مونځ یې وکړو او بیرته خپل ځای ته راغې ما تازه خوب راغلې وو او غوښتل مې چې ویده شم چې زبیر وویل: اوس که ویده شې تر دوه ساعت وروسته شرکت ته د تلو لپاره نشې راپاسیدلې..

- چا ویل زه شرکت ته ځم؟

زبیر- مګر نغواړې د ذوالفقار سره آشتې وکړې؟

- پرون یې لکه خر وډبولم او نن لاړشم د هغه لاس او پښې ښکل کړم چې راشه زما سره آشتی وکړه؟

زبیر- خو تا ماښام ویل چې ذوالفقار فلانکی او بستانکې حق پر ما لری او زه ورته خجالت زده یم ... بیا ولې اوس وایې نه؟

- ما وویل چې هغه حق لری اوس هم وایم خو د یو قاتل له ویری هیس کله د ذوالفقار سره آشتی نکوم... هغه هم ملامت وو پریږده یو څو وخته مرور اوسیږو تر سو ذوالفقار خپل په غوسه کنټرول پیدا کړې داسې خو نه کیږی چې خبره یو پر دوه شوی نه وی او هغه وهل شروع کړی..

زبیر چې هرسومره وویل راځه خو ما خبره و نه منل، او ویده شوم د غرمې په آذان راویښ شوم د لمانځه او ډوډی خوړلو وروسته زړه مې کور کې تنګ شو او لځایه پاسیدم له کور ووتلم او بغیر لدی چې پولیسانو ته کوم خبر ورکړم روان شوم، زړه مې غوښت لږ شاوخوا وګرځم ترسو فکر مې لږ سم شې خو یو وخت مې چې فکر شو نو د استاذ د کور د کوڅې مخکې ولاړ وم! حیران وم چې زه سنګه دلته راغلم؟ غوښتل مې بیرته شاته وګرځم او د هغه ځای لاړشم خو یو ناشناس حس نه پریخودم چې د هغه ځای دی روان شم...! بی ارادی بغیر لدی چې وغواړم د استاذ کور ته نږدی شوم او دروازه مې وټکول...

- سوک یې؟

د هغه غږ په آوریدو مې سترګې پټې کړل احساس مې کوی د بدن رګ،رګ مې د هغې د غږ د آوریدو تږی وو، هغې بیا غږ وکړو خو ما بیا هم جواب ورنکړو یواځې د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښايسته غږ په ترنم کې غرق وم چې دروازه يې خلاصه کړه او زما سترګې په هغه دوه تور سترګو کې بندی شوی، اول ځل مې و چې د يو انجلۍ سترګې ته مې داسې کتل دومره په ځير، ځير چې هغې د حيا څخه خپل د سترګو نظر رانه واخيست او ما بغير له ارادی ورته له خولې ووتل: زما څخه نظر مه اخله...

زما پدی خبری هغې په حيرت راوکتل او زه تازه پوی شوم چې عجب بد لفظ مې ورته وويل ژر مې خپل خبره بدل کړل او ومې ويل: ه ... هغه استاذ چيرته دی؟
استاذ لور- بابا مسجد کيدی د غرمې وروسته هلکانو ته د قران کريم ترجمه ورکوی..
- ا.. اها رښتيا وايست زما اوس ياد ته راغلل...

نور مې څه ونه ويل او ژر د هغه ځای څخه ولاړم، پر ځان مې لعنت ويل چې داسې بې اختيار الفاظ د هغې و مخ ته وايم! اوس به زما په اړه څه فکر کوی؟ چې دا يو ناپاک، بيحيا، او سپين سترګې هلک دی..! پدی فکر نور مې هم ځانته غوسه راغله خو کار تر کار تير وو، لعنت استول او کنځل کول کومه فايده نه درلود.. مسجد ته ننوتلم استاد د يو سورت تفسير هلکانو ته کوی زه هم ولاړم او د مسجد په يو کونج کې کيناستم، استاد ما ته فکر نشو ..

استاد- ما ته هغه ورځ يو ځوان هلک راغې عمر يې کم او زيات د 24/25 کالو شاوخوا کې و زما په ليدو يې په بيحد غمژن لهجه ووېل چې مولوی صيب يوه دعا راکړه،دم راکړه، تعويذه راکړه ما ورته ووېل ولې بچي خيرت خو دی د څشې دعا و دم غواړې؟ ما فکر وکړو چې شايد کوم د مينی قيصه او داستان به وی چې داسې پريشان دی خو هغه راته يوه داسې خبره وکړه چې خپل په ايمان کې مې شک راغی.. ماته يې ويل مولوی صيب زه يوه خارجې موسسه کې کار کوم او کوم بخش يا ځای

کې چې زما دنده او وظيفه ده هلته زما سره دوه دری دانې نجونۍ دی.. او دا نجونۍ حجاب نه مراعت کوی او زيات داسې ايله سره دي... نو زه زيات په تکليف يم، هره ورځ خپل زړه ته خدای و رسول مخکې کوم ترڅو کوم بد کار ونکړم .. تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته یو وظیفه یا عمل وښایست ترڅو د هغه پر کولو زما زړه ته نور کوم داسې خراب فکر او عمل رانشي او شیطان مې وسوسه نکړی راته دعا وکړی..

ما ورته ویل بچیه ته وماته دعا وکړه ستا ایمان زما څخه زیات قوی او مظبوط دی، زه دلته په کتاب ناست یم(استاد خپل د خبری دې ځای کې په خندا وویل: یادوم شینکي خالونه و ناری لونګینه و ناری..( د هغه پدی خبره مسجد کې موجود ټولو هلکانو وخندل چې استاد هم په خندا وویل: زما ایمان دلته مه معلومه وه بلکه زما نه د ټولو کسانو ایمان په مسجد کې مه معلومه وه په مسجد کې هر زنا کار، بدکار، سود خور، حرام خور، شراب خور، پلید او نجس شخص به درته ځان څخه نیک او صالح کس جوړکړی..

زما ایمان د مسجد څخه بهر د یو مظلوم په حق کې د فیصله کولو په حال کې معلوم کرۀ، زما ایمان د یو زنانه سره د خبرو کولو په حال کې معلوم کرۀ، هاروت او ماروت چې دلته آیت شریف کې نومونه راغلې دا اصل کې دوه دانې ملایکې وه، دوي دواړو چې د انسانانو نافرمانې او قتل و قتال د ځمکې پر سر ولید نو الله "ج" ته یې ګیله وکړل او ویې ویل: یا الله دا انسانانو ته تا دومره عزت و احترام ورکړی او هغوي دی اشرف المخلوقات ګرځه ولې، بیا هم هغوي ستا نافرمانې کوي او ستا حکم نه منې..

نو ته یې ولې نه تباه کوي؟ الله"ج" په جواب کې وفرمایل: چې ای زما ملایکو د انسان خلقت ستاسو سره فرق کوي! ستاسو وجود کې شهوت نشته! پداسې حال کې چې د انسانانو بدن کې ما شهوت، هوس، او غرایض ایخودلې او کله چې هغوي دا ټولو شیانو ته ماته ورکوي او زما سجده کوي نو د هغوي رتبه او درجه پر تاسو څکه پورته ده او هغوي اشرف المخلوقات دي.. خو دا ملایکو د الله"ج" خبره ونه منل او ویې ویل: چې موږ انسانان کړه موږ به هیڅکله هم ستا نافرمانې ونکړو او څنګه چې دلته ستا عبادت کو پر ځمکه به یې هم وکړو..

دا زیات غټ بحث دي خو زه به یې لږ رالنډ کړم څکه د ماذدیګر د لمانځه وخت دي... اخیر فیصله پدی وشوه چې الله"ج" دا دواړه ملایکې ځمکې ته واستوې هغه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانانو په خوي او جسم..! ځمکې ته د راستولو مخکې الله"ج" دې ملایکو ته درې شرط کیخودل چې تاسو به هیڅکله دا درې کارونه نکوي( استاد ټول هلکانو ته وکتل او ویې ویل: کوم درې خبرې ورته وویل؟

هیچا جواب ورنکړو دا کیسه یوځل مخکې هم ما یوځای آوریدلې وه نو ځکه مې لاس پورته کړو زما د لاس په پورته کولو استاد تازه ما ته فکر شو او په ورین تندې او خوشحالې وویل: ماشالله نوی څهره د تفسیر درس کې ګورم.. کوم شرطونه وه محمد طاها؟

- اول دا چې د الله"ج" سره به شریک نه نیسې.

استاد- افرین دویم..؟

- دویم دا چې شراب به نخوري.. او دریم هم زنا به نکوي..

استاد- ای ماشالله هو همدغه درې شرط او خبرې ورته وکړل او بیایې هغوی ځمکې ته راوستول، که چا راته وویل دا ملایکې د کوم پیغمبر په وخت کې ځمکې ته راغلل؟ او هغه وخت کې کوم عمل او کار بیحد زیات وو؟

بیا هم چا جواب ورنکړو چې استاد زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: محمد طاها! تاته جواب درځې..؟

- اممم لږ شک لرم جواب ورکولو کې..

استاد په نرې مسکا وویل: مشکل نشته ته ووایه که سم نه وو بیا زه درته صحیح جواب وایم..

- زما په نظر چې د سلیمان"ع" د پیغمبری زمانه وه او هغه وخت کې سحر و جادو بیحد زیات وو او الله "ج" دي ملاېکو ته دا حکم کړی وو چې خلکو ته د معجزې او سحر و جادو فرق وښایې..!

استاد- خو خلکو ددوې دواړو څخه څه زده کړل؟

- خلکو د هغوي دواړو څخه جادو زده کړو هغه جادو چې د ښځې او خاوند مینځ کې نفاق او جدایې رامینځ ته کول..

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد په خوشحالۍ وویل: ای ماشالله تخو زیات تکړه راوختې..
په خندا مې وویل: دا ټول مې هم ستاسو څخه زده کړي..
استاد وخندل او ویې ویل: نو دا خبره خو دلته پریږدی لاړ به شو هغه درې شرطونو ته، الله"ج" د دوي د امتحان کولو لپاره د دوي دواړو مخی ته یو ښایسته حسینه(
استاد په خندا وویل: د خلکو خبره دلربا ددوي دواړو مخې ته راوستل، نو ځکه چې دوي اوس ملایکې نه وه او انسانې خوۍ و خاصیت پدوي که موجود وو نو ددې نجلۍ په لیدو په دواړو باندي هوس، شهوت غلبه وکړل..

او د نجلۍ څخه یې د غلطې رابطې غوښتنه وکړل نجلۍ ورته وویل: که غواړي زما سره داسې کار وکړي نو اول به زما شرطونه منې.. هاروت او ماروت وویل: د څشي شرطونه؟ نجلۍ وویل: اول به بوت ته سجده کوي بیا به شراب څکې د هغه څخه وروسته به زما سره داسې یو عمل کوي.. نو شهوت او هوس وخت کې د انسانانو سترګې ړندي کیږي او خدای رسول نه پیژنې همداسې کار پدی ملایکو هم وشو او هغوی په یو دقه کې د خدای ټاکل شوي درې سره شرطونه مات کړل. او کله چې شهوت و هوس یې خلاص شو تازه یې خدای وریاد شو او چغې و فریاد، الله"ج" ورته وفرمایل: چې دی دنیا کې عذاب غواړې او که آخرت کې؟ نو هغوې دواړو پدی دنیا خپل د کار عذاب ومنل.. نو دا دواړه ملایکې به تر قیامت په زنځیرونو کې تړل شوي اوسیږي(د خبری خلاصیدو وروسته استاد وویل:

استاد- او دا کیسه او روایت اصل کې څه دی؟ ( ټول هلکان خاموش شول او جالب دا وه چې ټولو زما خوا ته راکتل چې ما په خندا وویل: دا کیسه په زیات اختلافاتو بیان شوی او صحیح و غلط یې الله اعلم..

استاد- هو بلکل همداسې ده داسې کیسی زیات ویل شوی د دوي دواړو ملایکو په اړه دا یې اولې کیسه وه چې ما تاسو ته وکړل دویم روایت داسې دیې چې( استاد تفسیر راوخیست او دا ځل یې د تفسیر څخه کیسه بیان کړل:وایې  هاروت او ماروت دوې اسماني فرشتي وي چه د الله ج په امر په انساني قالب کي د هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابل ښار یا اوسني عراق ته راواستول سوي او هوري یې ددي هدف لپاره ژوند شروع کړ چه د هغه ځای یهود د الله ج د کتاب په پرېښولو سره او د سلیمان علیه السلام د وفات څخه وروسته په سحر او جادوګري اموخته سول.

تردي حده چه جادوګري تر هر کور پوري ورسیده عامو خلګو د جادوګرانو د پیروۍ په اساس ویل مورِ جادوګري د سلیمان علیه السلام څخه زده کړې ده او حتی د سلیمان علیه السلام ټول قدرت یې په جادوګري پوری تړلی باله الله ج د جادوګرانو پلیتي څیري رسوا کړی پدي ډول چه هاروت او ماروت یې ورته راواستول په مصداق د سورت بقري د 102 ایات چه الله جل و علاشانه پدي اره فرمایي :

وَاتَّبَعُواْ مَا تَتْلُواْ الشَّيَاطِينُ عَلَى مُلْكِ سُلَيْمَانَ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمَانُ وَلَكِنَّ الشَّيْاطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنْ أَحَدٍ حَتَّى يَقُولاَ إِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلاَ تَكْفُرْ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَلَقَدْ عَلِمُواْ لَمَنِ اشْتَرَاهُ مَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلاَقٍ وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِ أَنفُسَهُمْ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ .

ژباړه : پیروي یې وکړه هغه څه چه شیطانانو ویل د سلیمان علیه السلام په زمانه کي ، او سلیمان ع کفر اختیار نکړ ، مګر شیطانان کافران سو ، او زده کول یې خلګو ته جادو ، او پیروي یې کوله د څه چه پر دوو فرشتو رانازل سوي وو د بابل په ښار کي د هاروت او ماروت په نومونو ، مګر دوی هیچا ته نه ور زده کول تر څو چه ورته ویل به یي دا هغه څه دی چه مورِ تاسو په ازمایو ، مه کافران کیږئ ، وروسته دوی زده کول ددوی څخه جادو ، او جلاوالي یې راوستی د ښځي او میړه په منځ کي یعني ( د شیطان هیله داده چه کورنۍ وپاشي او په کورنیو کي جګړې رامنځته کړي

ترڅو ددوی ښځي فاحشي ، اولادونه یې بي تربیي او میړونه یې نارواو لکه زنا ، لواطت ، شراب ، چرس ، هیروئین او انسان وژنه باندي اموخته سي ) ، نه وو د دوی څخه زیان رسوونکي په جادو هیڅ یوه ته مګر دالله ج په اراده ، او هغه څه یي زده کول چه تاوان یي رساوه دوی ته ، او ګټه یي نه ورته کوله دوی ته ، هغوی پوهیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چه جادو رانيسي په آخرت کي نصيب نلري ، او څومره بد وو چاچه د هغه په وړاندي ځانونه خرڅول که چيري پوهيدل (هغه علم چه ځوک پر سمه لاره برابر نکړي جهالت دی ).

پدي آيت شريف کي الله"ج" د جادو او سحر څخه يادونه کړيده که څه هم په اغلب ګمان جادو حتی د آدم ع د زامنو په منځ کي په پاشلي ډول ښکاره سوی وو مګر خلګ يې د اصل منبع په اړه نه پوهيدل او الله تعالی د موضوع د لا روښنايي په خاطر ښه مثال د سليمان ع تخت د حق او شيطانان د باطل په مثال او همدارنګه د هاروت او ماروت حضور يې ورکړی دي ، له دي جهته به هاروت او ماروت خلګ سره راجمع کول او دوی ته به يې نصيحت کاوه او ويل به يي :

د جادو دزده کولو او عملي کولو نتيجه د ايمان زوال راوځي خو ددي فرشتو په ذريعه د الله ج اهداف دخلګو ازمويل او د سحر او معجزو يعني حق او باطل سره جلا کول وو چا چه له ملايکو ځينی جادويي اسرار زده کول او عملي کول به يي نه يواځي په دې نړۍ کي نه بلکه په آخرت به هم ذليل او د جهنم د سون مواد وي که توبه وکاږی ممکن الله تعالی ورته بخښنه وکړي .
فلهذا نو اوس هم مسلمانان بايد د يهودو نصاراوو ، اهل هنودو فال ليدونکو او نورو بي ايمانه ډلو د ورتګ څخه پرهيز وکړي او بايد ووايم چه د سحر او جادو ، نظر او د پيريانو په ذريعه د اذيت مخنيوی يواځي د قرآن کريم په اياتونو کيږي څرنګه چه الله جل و علاشانه د اسراء سورت په (81-82) نمبر آيتونو کي څرګنده کړيده او فرمايي چه :

وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴿81﴾. وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاء وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ وَلاَ يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إَلاَّ خَسَارًا ﴿82﴾.
ددي ملايکو په اړه ځيني نور روايات هم سته چه وايي دوی الله ج ته وويل چه ستا بني ادم بندګان ګناهونه او انسان وژني کوي الله ج په دوی کي انساني غرايض پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل او دوی یي وازمایلي د دوی څخه ګناه وسوه الله ج ددوی په خوښه د آخرت پرځای پردي دونیا باندي سزا ورکړه (والله اعلم)

استاد- دا لاندی الفاظ یې همغه کیسه وه چې ما تاسو ته بیان کړل، نو د نن درس مو همدلته ته خلاصیږی پدی امید چې یوشئ مو زما له خبرو څخه زده کړی وی.( د درس خلاصیدو وروسته ځیني هلکان د مسجد څخه ولاړم او ځینی نور همله د ماذدیکر لمونځ لپاره کیناستل زه د استاد خوا ته ورغلم او ستړی مشې می ورسره وکړل..

استاد- چیرته یې بیخې نه ښکاره کیدی دا څو ورځې؟
- لږ کار مې درلود ونشو راشم..
استاد- اممم خدای دی درته کارونه سم کړی..
- امین.
استاد- رښتیا څنګه شو کاکا دی؟
په ګنګس انداز مې وویل: کاکا مې؟
استاد- هو همغه ذوالفقار خان.. پرون دلته راغلې وو.
په حیرت مې استاد خوا ته وکتل ذوالفقار دلته څه کول؟ په همغه انداز مې پوښتنه وکړل: د څه لپاره راغلې وو؟
استاد- ما ته یې ویل: مولوې صیب یو د غوسې تعویذ راته راکړۀ، ویل یې مولوی صیب بیحده ژر غوسه راځې او کله چې غوسه شم خپل و پردې نه پیژنم او ټول له یو سره ډبوم..

لدی چې ذوالفقار فکر کوی هغه ملامت دی او راغلې و مثلا خپل مشکل حل کړی خفه شوم.. ذوالفقار ملامت نه وو هغه ورځ ټول ملامت زه وم او هغه وهل مې هم حق وه حتا بتر له هغه وهلو څخه مې حق وه.. د استاد سره مې خدای پاماني وکړل او هغه چې هرسومره وویل راځه کور ته یو پیاله چای راسره وڅکه ومې نه منل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد کور کې زه خپل کنټرول له لاسه ورکوم او د یو بیعقل، نفهم او نمک حرام انسان پشان د هغه په کور کې د هغه د ناموس پسی څلور سترګې ګورم..

شاید زما کنټرول هلته زما اختیار کې ونه اوسیږی خو تګ خو مې خپل کنټرول کیدی؟ زه د استاد کور ته تر هغه وخت نه ځم تر څو چې خپل مشکلات مې حل کړی نه ويې او کوم ورځ چې د استاد کور ته ولاړم هغه ورځ به د هغه د لور د غوښتنې لپاره وی...

د کور طرف ته روان شوم خپل د کور کوڅې ته چې ورسیدم نو قومندان او هغه دوه پولیسان مې خپل د کور مخکې ولیدل زما په لیدو، قومندان ژر زما خوا ته راغې...
قومندان- چیرته تللې وی؟
- امم تر یوځای مې کار وو خیرت خو دی؟
قومندان په غوسه وویل: د تلو مخکې باید خبر دی ورکړی وایې داسې بیخبر سوک نه ځې..
په پسخند مې وویل: یعنې ستاسو ساتونکو زه ونه لیدم چې کله له کور ووتلم؟ نو آیا ستاسو په نظر کوم امید شته چې دوی هغه لیونې قاتل راګیر کړی؟

قومندان هیس و نه ویل او ما هم په همغه پسخند هغوي کوڅه کې پریخودل او کور ته ننوتلم، یعنې دوي ته امید هم شته؟ دوي چې زما د تګ راتګ خبر نشې اخیستې خاوری به د یو لیونې قاتل مخه ونیسې، لا کوټې ته ننوتلې نه وم چې موبایل ته مې زنګ راغی ناشناس شماره وه! یعنې ما نه پیژندل په نه زړه مې جواب ورکړو..

- الو.. سوک..؟
- سلام علیکم .. زه یم ..!
هیس مې ونه ویل اصل کې حیرت زده وم لدی چې د کلونو وروسته پلار مې راته زنګ وهلې وو! نه پوهیدم څه ووایم؟ څه پوښتنه وکړم؟ همغسې خاموش غوږ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولې وو چې بابا وویل: الو زما غږ آوری محمد طاها؟
- ه. هو.. غږ مو راځي...
بابا- نو علیک سلام..!
تازه مې لږ مغز ځای ته راغله او ومې ویل: هو .. هغه سلام علیک تاسو ښه یاست؟ ادی، طاهر، مروه ټول ښه دي؟
بابا- امهم شکر د خدای فضل دی، هغه نن شپه د طاهر د کوژدی شپه ده، ذوالفقار ته مې زنګ ووهې چې تا خبر کړی او یوځای راشې، خو هغه ویل زه کار لرم خپله طاها ته زنګ ووهه! نو ځکه مې زنګ در ووهه نن شپه راشه مور دی درته په تمه ده..

زړه مې غوښت نه ووایم او یو بهانه راوړم او د تلو څخه انکار وکړم.. خو د استاد خبري مې یاد ته راغلل هغه ویلې وه کوم زوی چې خپل د پلار څخه مرور اوسیږی او خپل د پلار سره ورشه درشه قطع کړی که عابد او نماز ګزار د عالم هم اوسیږی خدای نه بخښي.. ځان سره مې وویل بچیش طاها اخیر وخت ددې نو ورشه دعا واخله آشتې وکړه دا دنیا خو دې برباد شول خدای به دې هغه دنیا ښه کړی..

بابا- الوو.. محمد طاها غږ مې درځې؟
- هو ... هو اورم...
بابا- راځې کنه؟
- هو ضرور ولې نه، خپل کارونو سم کړم درځم..
نه پوهیږم ما داسې احساس کړو یا که د رښتیا هم د بابا غږ کې خوشحالې وه کله چې ویې ویل: سمده نو درته په تمه یو ژر راشه..

خدای پامانې مې وکړل او موبایل مې بند کړو، د ماښام د لمانځه وروسته یو موټر مې ونیو او د بابا کور خوا ته روان شوم، زما په نظر دومره غټ رسمې کوژده نه وه یواځې یو څه زموږ خپلوان او یوڅه هم د نجلۍ خپلوان خبر شوی وه بس..! کله چې د بابا کور ته ورسیدم نو د ذالفقار موټر مې د کور مخکې پارک شوې ولید..
خدای خیر لدې چې د ذوالفقار سره مخامخ شم بیحده شرمیدم..! دعا دعا مې کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې میلمانه یو څه زیات وي او زه په هغه جماعت کې چاته معلوم نشوم بلخصوص ذوالفقار سره سترګو په سترګو نشم...

د عمه ماشوم زوی مصطفی راته دروازه خلاصه کړه او زه یې د کور خوا ته دعوت کړم هې خدایه زما د کور لاره دا ماشوم ماته ښایې؟! هرسومره چې کور ته نږدې کیدلم هغومره مې د زړه درزا زیاتیده... مصطفې راته لاندی زیرزمینې لاره وښوده لکه چې سرېان هلته ناس وه! د پورت منزل څخه د سندری او نجونو د شورماشور غږ راتلې... د بوټو باسلو حال کې وم چې د پورته منزل څخه مې د یو نجلۍ غږ وآوریدی چې مصطفی ته یې ناری وهل لکه چې د عمه لور وه! مصطفې زما د څنګ ولاړی او زه یواځې پاتې شوم! دا چې باید یواځې ځان میلمستیا ته ننوتلې وایې هیس ښه احساس مې نه درلود

هر سومره آیتونه او سورتونه مې چې زده وه په ځان مې چوف کړل او لاندی زیرزمینې ته داخل شوم، اول شئ چې زما نظر جذب کړو هغه د زیرزمینې پراخ والي وو! بیحده لویه زیرزمینې وه.. ښه وه نفران زیات راغلې وه او زما ورتګ د چا فکر دومره زما خوا ته نکړو، راسته لاس ته په یو قطار کې په څو دانو نالې باندي بابا، ذوالقرنین کاکا او احمد خیل او د هغه انډی ته یو بل نفر ناست وو چې ما ونه پیژندی.

ضرور د نجلۍ له طرف وو! د هغوي و څنګ ته د زیرزمینې د یو پایې لاندي ذوالفقار په تروش تندی ناست وو، د ذوالفقار انډی ته انوار ناست وو! زما د راتګ سره ذوالفقار یو نظر لا زما خواته ونکړو، ما هم بغیر لدي چې نور تحقیق وکړم چې سوک راغلې او سوک نه..! هرسوک مې چې مخې ته راغلل بغیر لدي چې ویې پیژنم چې سوک دي؟ ورسره سترېي مشې مې وکړل، او غوښتل مې یو کونج کې ځانته ځای پیدا کړم چې بابا را غږ کړل:

بابا- محمد طاها.! دلته راشه..
د بابا په غږ ټولو زما خوا ته راوکتل ذوالفقار هم په تروش تندی یو نظر راواچوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرته یې نظر واخیست، د بابا په غږ د مجبورۍ څخه د هغه و خواته روان شوم، کله چې د هغوي څنګ ته ورسیدم نو غوښتل مې احمد خیل ته لاس ورکړم د سترګی مشې لپاره خو هغه زما و مخ ته راپاسیدي؟! د هغه پدي کار هک حیران شوم خو د مجبوري مې ورسره بغل کشې وکړل، فکر مو شوي کله چې یو مجلس کې د یو نفر سره بغل کشې وکړی نو هغه نور نفران هم لځای پاسیږی تر څو ورسره همغه شان سترګی مشي وکړي! پر ما هم همغه چل وشو د احمد خیل د کیناستلو وروسته د هغه د څنګ نفر پاسیدي او ما مجبوری د هغه سره هم بغل کشې وکړل...

او بیا یو پر بل پسې یو، یو نفر راپاسیدي تر دي چې ذوالفقار ته ورسیدم..!

هغه ته په رسیدو د ډیر شرم څخه تک سور شوی وم، ذوالفقار یو نظر راواچوی او نه پوهیږم زما څهره کې څه ولیدل چې کرار یې وویل: موږ هغه ورځ یو بل زیارت کړل سترګي مشې ته به حاجت نه ویې؟
هیس مې ونه ویل او په تلوار غوښتل مې بیرته خپل اول ځای ته لاړشم او ددوي د نظرونو څخه پناه شم خو لکه چې نن شپه زما د بدشانسې شپه وه ځکه ذوالقرنین کاکا په خندا وویل: انوار بچې د ذوالفقار څنګ ځانته صاحب لري نو شابه سیټ د هغه صاحب ته پریږده..

- نه مشکل نشته زه یو بل چیرته ځانته ځای پیدا کوم..
ذوالقرنین کاکا- نه ولې بل چیرته؟ ته تل د ذوالفقار اندې ته کینې اوس هم کینه..
هغه دقه دومره راباندی فشار او بوج راغلې وو چې یواځې مې غوښتل د هغه ځای او ماحول څخه وتختم نور هیس هم نه یواځې الفرار... ذوالقرنین کاکا په زوره باندې انوار د ذوالفقار د څنګ څخه ولاړ کړی او زه یې هلته کینه ولم! زما د کیناستلو سره سم بابا د احمد خیل څنګ نږته ناست په عمر پوخ سړی ته وویل:

بابا- محمود خان دغه زما کشر زوی محمد طاها دی..
د بابا په خبره هغه سړی چې محمود معرفې شوی وو زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: ښه .. ښه ماشالله دا زوی دی هم ځوان دی ذوالکفل( زما د پلار نوم ذوالکفل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو) ده ته لخیره کله واده کوی؟
بابا د جواب ورکولو مخکې ذوالقرنین کاکا وویل: ولاې د ده واده د ذوالفقار سره ترلې دواړه کاکا او وراره قسم کړی چې تر څو مقابل کس واده ونکړی دا بل یې هم نکوی( ذوالقرنین کاکا د ذوالفقار خوا ته وکتل او ویې ویل: ذوالفقار یو نیک کار وکړه خدای به درته اجر درکړی.. واده وکړه تر څو لاره طاها ته هم خلاصه شي او دی هم واده وکړی..

ذوالفقار- زه ستا ریشخند یم او که د طاها؟ هر سوک چې د واده شوقې دی او غواړی واده وکړی لاره یې خلاصه ده ما د چا لاره نده نیولې..

د ذوالفقار په تُنده او قهرجن لهجه یو دم ټول خاموش شول، بابا ژر بحث بدل کړو او خبری شروع کړل ترڅو کوم جنګ ونشي، خو د ذوالقرنین کاکا تندی له ورایه تروش شوا لکه چې د ذوالفقار خبری وربانډی بیحده بد ولګیدی.. غوښتل مې د ذوالفقار خوا ته وګورم ترڅو پوې شم چي آیا زیات غوسه دی او کنه؟ خو د کتلو جرئت مې نه درلود، نیم ساعت هلته ناست وم او یو ځل مې د یو نفر خولې ته کتل چې څه وایې بیا د بل نفر، په همدی حال لا شکر وو چې ناساپه زما د بدبختې هینداره فرید راورسیدی د بحث میدان ته...

نیم ساعت لګیا وو بړ، بړ بیځایه خبری کول د ذوالفقار عادت وو د کیناستلو وخت کې خپل یو لاس د څنګ نفر پر بالښت تکیه کړی خو نن ځکه چې مرور وو نو زما سره یې د کیناستلو وخت کې کامل فاصله نیولې وه او خپل یو لاس کې هې پیاله څرخه ول.. فرید لګیا وو ځان ښخه یې د معدنو رئیس جوړ کړی وو او داسې علمې، تخصص معلومات یې د معدنو په اړه ورکول ناساپه خپل د خبرو مینځ کې زه مخاطب کړم او ویې ویل:

فرید- ستا څه نظر دی طاها؟
خپل ستونې مې صاف کړو او ومې ویل: د څه په اړه؟
فرید- دا چې د الماسو څخه به بل کوم قیمتې شئ دنیا کې موجود وی او کنه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې فرید داسې یو خراب بحث د دومره مشرانو مخ کې راخیستې وو، او خپل لکه مات رادیو لګیا وو او بړ، بړ یې وو او بل چا ته یې د خبرو اجازه نه ورکول دا کار یې زما عصاب راخراب کړل نو ځکه مې په جواب کې وویل: ولای زه نه یم خبر ته د معدنو رئیس یې ته به زما څخه زیات خبر اوسیږی، هسی د افغانستان ټول معدنونه او خزانې ستا د لاس لاندی دی...

زما په خبرو د ذوالفقار کرار خندا مې تر غوږ شول، او د فرید سری د غوسې سترګې چې لکه قاتلانو یې راکتل خو ما ورته یواځې په پسخند وکتل داسې، چې د عمه کوچنې زوی مصطفې راغې او ماته یې وویل چې ادی راسره کار لری، زه هم لځایه پاسیدم او بیرون ووتلم د دویم منزل په زینو کې مې ادی ولیده زما په لیدو اول ادی ښه سم صحیح ګیلې راته وکړل او بیایې په ډیر شرم او حیا وویل چې نجونو راستولې ترڅو زه خپل موبایل ورکړم او هغوې ځانته په ټیپ کې سندره ولګوی، د موبایل ورکولو حال کې مې وویل چې زما موبایل کې چندان سندری نشته خو بیا هم ویسې چې ونه وایې طاها خپل موبایل چا ته نه ورکوی..

ادی زما موبایل واخیست او پورته منزل خوا ته ولاړه ما هم غوښتل بیرته لاندی زیرزمینې ته لاړشم چې فرید د زیرزمینې څخه را ووت او کله چې زه یې د دویم منزل په زینو ولیدم نو په غوسه یې وویل: هلته څه کوی؟ نجونو ته ګوری؟

د فرید په خبره سخت غوسه راغله او ومې ویل: خپل ګمان په هر چا مه کوه..
فرید- ګمان نکوم کوم ځای کې چې ولاړ یې همدغه معنا لری..!
- په تا باندی اړه نلری چې زه چیرته ولاړ یم او څه کوم؟
د فرید غوسه نور هم زیاته شوه او ویې ویل: هلته زما ښځه ده زما ناموس دی او زه نغواړم یو بیغرت انسان هلته و دریږی او زما د ناموس تماشا وکړی..

- خولې سره دی پام کوه فرید، ستا ښځه زما خور ده او زه ستا څخه زیات په هغې باندی غیرت او ننګ لرم هسې خپل خیرن او تور زړه ته د غیرت او اسلام نوم مه ورکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په خبرو فرید زما خوا ته رانږدی شو دومره چې یو بل ته مخامخ شو، هغه په غوسه زما خوا ته کتل..

- څه؟ غواړې ما ووهی؟

فرید- فکر کوی نشم دی وهلی؟

- زه دومره بیکاره نه یم چی وغواړم ستا پشان بی شخصیت انسان ته فکر وکړم.

دا خبره مې وکړل او د زیرزمینې خواته روانشوم چی فرید د شالخوا زما کمیس کش کړو، دا ځل د رښتیا په قهر شوم. غوښتل می په یو بوکس باندی د هغه جواب ورکړم او خوله یی وربنده کړم چی د ذوالفقار آواز می تر غوږ شوو چی په کلکه او ځنده لهجه یی وویل: ته څه بد کوی فرید؟

فرید بغیر لدی چی زما څخه سترګی واخلی ویی ویل: هیس یو مردانه ګپ مو لګوی.( او بیایې کرار زما د غوږ اندې ته وویل: ستا سره زما ډیر کار پاتی دی طاها..

فرید دا خبره وکړل او په تلوار د ذوالفقار د اندې څخه تیر شو..

ذوالفقار- څه یی درته ویل؟

- مهمه نده هسی خفه و چی ولی په مجلس کی می دده خبره رد کړل او و مې شرمه وی..

ذوالفقار- بد یی کول چی خفه وو، بیځایه خوله دی نه خلاصوی او اپلاتې دی نه وایی چی سوک یی ونه شرمه ویی...

- هوم..

هلته یواځې د ذوالفقار سره په اوسیدو بیحد شرمیدم او ښه احساس مې نه درلود نو ځکه مې غوښتل چې ژر د هغه ځای لاړشم همدا چې راغلم د ذوالفقار د څنګ تیر شم هغه زما لاس ونیوې او د تلو څخه یې منع کړم.

ذوالفقار- چیرته پخیر؟

- ه... هغه هلته .... مجلس ته به لاړشو...

ذوالفقار- اممم فکر نکوی مجلس ته د تلو مخکې باید ما ته یو وضاحت راکړې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ په اره؟
د خولې لاړې مې په سخته تیر کړل او په بند بند ژبه مې وویل: ه ... هغه ز...ب... زبیر به درته وایي..
ذوالفقار- عجب...! جنګ تا وکړو وضاحت ورکول یې په زبیر دی؟

هیس مې ونه ویل او یواځې خپل د تندې خوله مې خپل په لاس پاک کړل، فکر مې کو نفس نشم اخیستلې د ذوالفقار خبرې ما ته د یو جنایي افسر د اظهاراتو اخیستلو څخه په کمه نه معلومیدل، هغه چې زما خراب حال ولید نو لاس یې را خوشې کړو او پداسې حال کې چې یو غټ ساه یې اخیستل په کرار او نرم لهجه یې وویل:

ذوالفقار- مشکل دې څه ده؟
وروميې کتل په ظاهر آرام او خوش اخلاق معلومیدی خو نه پوهیږم ولې شرمیدم لدی چې ورته ووایم هغه ورځ پدی مې عصاب خراب وه ځکه یو رواني قاتل راپسې وو! اول خو ددې خبرو لپاره مناسب ځای نه وو او دویم دا چې د ذوالفقار څخه شرمیدم...
- زبیر درته څه ندی ویلې؟
ذوالفقار- نه..
- نظر نشې اول ځل دې یو خبره د زبیر په خوله کې ټینګ شوی ده، او ټول دنیا یې نده خبره کړې..
ذوالفقار په قهرجن لهجه وویل: اوس وایې او کنه؟ څه مرګ دی؟
- کولې شې د زبیر څخه پوښتنه وکړې هغه درته وایې...

ذوالفقار خو ثاني په ځیر، ځیر زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: سمده... د زبیر څخه پوښتنه کوم... که غواړې لاړشې زه به دې ورسه وم..
- اوس؟
ذوالفقار- هو زه ځم لږ کار لرم که غواړې تا به هم تر کوره ورسه وم..
- نه .. زه غواړم یو څو ساعت دلته تیر کړم..

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذوالفقار- عجب.. د کوم وخت ته د مجلسونو شوقې شوی یې؟
- ژوند باندی اعتبار نشته غوارم د کورنې سره مې یو څه وخت اوسیږم..

زما پدی خبری د ذوالفقار تندی تروش شو او په مشکوک لهجه یې وویل: خبری دی ما ته کږې ښکاری خدای دی خیر کړی بیا دی څه کړی؟
- هیس...
نور مې څه ونه ویل او د زیرزمینې خوا ته روان شوم، د ذوالفقار د تلو وروسته زه دوه دری ساعت نور هم کیناستم او د لس یوولس بجو شاوخوا وه چې د بابا د کور څخه روان شوم، د راتګ وخت کې بابا زیات وویل چې مه ځه او پورته منزل کې یو کوټه کې کرار ویده شه خو ما ونه منل، د نن لپاره همدومره آشتی کول بس وه! که ژوند وو کرار کرار نور به هم سره سم شو..او که مړ نشوم تر هغه وخت نو پورته منزل کې به هم خوب وکړم..

کور ته چې ورسیدم پداسې حال کې چې ټول ورځ مې خوب کړی وو بیا هم، بیحد خوب راتلو د دولس بجو شاوخوا وه چې زړه می ډوب شو او ویده شوی وم... د ویده کیدلو څخه مې زیات وخت نه و تیر شوی چې په یو غږ راویښ شوم!

غږ د ذوالفقار وو؟ خپل په ځای کې کیناستم او شاوخوا مې وکتل.. په ویره باندی مې څو ځله ذوالفقار ته ناری کړل، خو کامل خاموشی وه! د څو ثانیو وروسته بیا د ذوالفقار غږ راغې چې ماته یې ناری وهل..! زړه کې مې ویره وولیدل پدی نیمه شپه ذوالفقار زما کور کې څه کوی؟ که را هم شې داسې خو نه راځې..! او دا خبری زه ویره ولم، ځینی پیریان دی په نوم د مردآزما هغه کله ناکله خلکو ته آوزونه کوی که هغه کس ورته جواب ورکړو نو مړ کوی یی!

دا اولی فکر وو چی مغزو ته می راغې بغیر لدی چې کوم جواب ورکړم غوښتل مې په یو طریقه ځان قانع کړم او ویده شم چی ناساپه د کوټې دروازه په پوره طاقت او قدرت خلاصه او بیرته بنده شوه! دومره کلک یي ټک کړو چی زه خپل له ځایه دری متره وپریدم اوضاع راته خرابه معلوم شوه، نو غیرت میرت می پریخودو او غوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

می زبیر ته زنګ ووهم چی راشې همدا چی موبایل می راواخیستی د ذوالفقار غږ می وآوریدی دا ځل د هغه بل ځل څخه فرق یی کوی دا ځل غږ یی د کوټی د دروازی، دیوال، کړکی ټول ځایونو څخه راتلې چی ماته یی ناری وهل، څه سبب وو چی د ذوالفقار په آواز په نیمه شپه باندی یو څو پیریان ما و ویره ویی؟

مګر دا چی د ویره ولو خبره نه ویی؟! ژر می موبایل راواخیستی او ذوالفقار ته مې زنګ ووهې خو د هغه خاموش موبایل ورختا کړم نو دا ځل مې زبیر ته زنګ ووهی راته مهمه نه وه چی ساعت څو دی؟ ویده دی که ویښ؟ منتظر وم چی جواب راکړی خو موبایل یي خاموش وو. لږ لږ په زړه کی مي ویره او شک زیات شو د څو دقو زنګ وهلو او جواب نه ورکول وروسته د زبیر څخه هم نامیده شوم.. او لځایه پاسیدم.

دومره ورختا وم چې ژر تیار شوم او د ذوالفقار کور خوا ته روان شوم، دولس بجې وه کوڅه کې بغیر د سپې څخه یو انسان هم په سترګو نه ښکاره کیدی، د تلو مخکې مې غوښتل هغه ساتونکو پولیسانو ته خبر ورکړم خو په نهایت حیرت کې دوکان خالې وو او پولیسان نه وه! دوي نو چیرته تللې؟ دومره ورختا وم چې زیات توجه مې د هغوی نه شتون ته ونکړل او تر سړک په منډه لاړم هر سومره چې موټر ته په تمه شوم خو په هغه نیمه شپه یو موټر لا زما د کور خوا ته نه راتلې، نو مجبور پیاده روان شوم.. موبایل مې هم لاس کې وو او ذوالفقار ته مې زنګونه وهل خو هغه جواب نه راکو.. هیچا جواب نه راکو، نه ذوالفقار، او نه هم زبیر...

د زیات ویری او ورختای څخه لکه لیونیانو پشان منډي مې وهل، عجیب وه خو د ذوالفقار او خپل د کور دومره زیات فاصله او واټن مې دوه دقیقو موده که تمام کړو! د ذوالفقار د نوی کور مخکې ولاړ وم دلته هم کامل خاموشی وه او هیس سوک نه ښکاره کیدل! غوښتل مې دروازه وټکوم چې په نهایت حیرت کې د ذوالفقار د کور دروازه مې خلاصه ولیده..! په ویری او ډار مې شاوخوا وکتل، نیمه شپه که ذوالفقار خپل کور کې که حاضر هم اوسیږی بیا هم خپل د کور دروازه خلاصه نه پریږدی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډار او وېرې سره کور ته ننوتلم د کور ټول برقونه روښانه وه! د حويلۍ څخه د دهليز خوا ته په حرکت شوم او د همغه ځای څخه ذوالفقار ته مې ناری وهل شروع کړل، خو هيس جواب مې ترلاس نکړو.. د هليز دروازه مې چې خلاصه کړه اول شئ چې نظر مې ورباندی ولګيدی يو اوږده سره کرښه په غالۍ باندی وه چې تر تشنابه کش سوی وه، د هغه صحنې په ليدو د زيات وحشت او ويرې څخه مې لاسونه او پښې په لړزيدو شوه... هغه سره کرښه پر غالۍ يو خبره زما ذهن ته راوړل او هغه دا چې يو جسد ددې ځاې څخه په کش کيد يو چا تر تشناب وړی!

او د هغه دومره زيات وينو په ليدو پوهيدم چې ضرور د کوم ټوټه،ټوټه شوی جسد سره مخ کيږم د حمام د دروازی خلاصيدو مخ کې می يو آرمان وکړو او هغه دا چې خدايه که زه ستا بنده يم او يو ورځ می هم يواځې ستا په خاطر تاته سجده لګولې نو ذوالفقار دې هلته ونه اوسيږی بس.... دروازه مې کرار تيله کړل شاته يې هيس هم نه وو او په کرار خلاص شول.. د دروازی مخکې بيحده وينه تويه شوی وه، په لړزانده لاسونو مې د حمام ګروپ بل کړو او د مخامخ صحنې په ليدو مې نفس اخيستل ليادہ ووتل ..

ذوالفقار په وينو لړلې د حمام په کاشيانو پروت وو، نه پوهيږم څېل ځان مې سنګه تر هغه ورسه ويې.. اندی ته يې کيناستلم خپل لاسونه مې د هغه د سر لاندی کړل او خپل غيږ خوا ته مې راکش کړو، سپين جوړه کالې د ډير وينو تلو له لاسه تک سره شوې وه، ټول بدن يې زخمې وو.. کله چې غيږ کې مې ونيوی نو بدن يې يخ پخ وو، خو نفس يې اخيستې.. څو ځله په کرار مې په مخ ووهې او ناری مې کړل ورته.... بی اختيار مې اوښکې د سترګو څخه په بهيدو شول..

ذوالفقار په سل زور او زحمت باندی خپل سترګې لږ خلاصې کړل خو دومره ضعيف شوې وو چې د خبرو کولو توان يې نه درولو،بيحد ورخطا شوې وم نه پوهيدم چې څه وکړم؟ چا ته زنګ ووهم؟ چاته خبر ورکړم؟ پداسې حال کې چې د زيات بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسې له لاسه مې ژړا په ساندو بدله شوې وه او اوښکې مې لکه سیلاب په مخ رابهیدی په ژړا مې ذوالفقار ته وویل: که په تا باندی کوم څه وشول زه مړ کیږم...

د ریښتیا هم احساس مې کوې چې زړه مې د درد له لاسه په چویدو دې، پوې شوم چې ذوالفقار غوارې راته یو څه ووایې خو نشو ویلې حتا خوله یې لا د وینو څخه ډک وه، همدغه ثانیه وه چې احساس مې وکړو چې ذوالفقار نو ساه نه اخلې! لاس مې د هغه خولې خوا ته نږدی کړو خو کوم ګرم نفس مې احساس نکړو، لاس مې د هغه په زخمې بدن د هغه په زړه کیخودو خو زړه یې دړزا نکول....! هغه ثانیه دنیا مې په سر ورانه شول..

د ذوالفقار یخ بدن مې نور هم پخپل غیږ کې کلک ونیوې او په ساندو او په چغو ورته په ژړا شوم، ډاډمن وم چې زما مرګ هم نږدی دی زه د ذوالفقار څخه بغیر یو ساعت لا ژوندی نشوم پاتې کیدلې... مخ مې ورنه ښکول کړو او په ژړا او چغو لکه لیونیانو پشان ځان سره لګیا شوم...

- دا ځوانې او بدن د تور خاورو لیاقت نلری، دا ستا حق نه وو ذوالفقار... ته د نیمې لاری ملګری نه وې ذوالفقار.... پاسه ته و خدای ولاړسه .. خیر دی... زاری درته کوم.. ته مګر زما نه خفه نه وې؟ ولاړسه ګوره زه راغلې یم... را ولاړسه ومې وهه هر سومره چې زړه دی غوارې و مې وهه خو داسې مه څه .... ذوالفقار. .. کاش ستا لځایه زه مړ وایې.. ای کاش...

ناساپه د یښ اوبو په شیندلو په تلوار خپل لځایه پاسیدم...
شمویل- اممم بخښنه کوه ماشوم خو څه وکړم خوب دی زیات دروند وو او هیس رقم نه پاسیدی..
په خلاص سترګو مې هغه ته کتل بیا مې خپل شاوخوا ته وکتل زه خپل کور کې وم! ذوالفقار...
شمویل- ذوالفقار یو دم جوړ تیار دی او اوس هم ستا د دروازی مخکې د پولیسانو سره په جنګ دی... تا خوب لیدې طاها...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شمویل په خبرو مې باور نه راتلې تراوسه مې احساس کوی چې د ذوالفقار مړ جسد مې غیږ کیدی، او جالب دا وه چې ژړل مې؟ همغه ژړا باندی پاسیدم او نه پوهیږم په څه طریقه مې خپل ځان د کور دروازی ته ورسه وی، همغه د شپې دولس بجې وه! باور مې نکیدی ما یو دقیقه کې دومره غټ خوب لیدلې اوسیږی؟ همدا چې دروازه مې خلاصه کړه ذوالققار مې پورته لاس د دروازی ټکولو حال کې ولیدی... هغه زما د داسې حال په لیدو هک حیران شو ... او زه ... زه د هغه په ژوندی لیدو یو لس نظرونه او یو سل دانې صدقې او خیراتونه مې په غاړه واخیستل..

بغیر لدی چې کوم خبره وکړم په ژړا باندی مې ذوالفقار په غیږ کې ونیوې، ژړا مې بیحد زیات شوی وه، فکر مې کوی د مرګ وروسته خدای ما ته دویم ځل ژوند راکړی. زما پداسې ژړا او کار باندی ذوالفقار ورخطا شو د هغه څخه یو څه لری پولیسان ولاړ وه لکه چې ذوالفقار یې پیژندلې نه وو او دا چې پدی نیمه شپه زما د کور دروازه یې ټکه ول، غوښتل پوښتنه وکړی او ټول هم لکه چې زما راتګ په تمه وه تر څو زه تایید کړم ذوالفقار زما کاکا دی..!

خو زما پدی کار هغه دوه پولیسانو زه او ذوالفقار یو کونج ته ټیله کړو او وسله په لاس کور ته ننوتل..

زما په نظر هغوی فکر کړی وو چې کور ته قاتل راغلې چې زه داسې ژاړم؟ دا ځل ذوالفقار زه غیږ کې ونیول او پداسې حال کې چې کرار زما پر ملا لاس وهې ویې ویل: کرار شه طاها هر شئ سمیږی اوس ددې ځایه دی ورم..
د ذوالفقار په هر خبره زما ژړا زیاتیده... هر دقه مې هغه لیدلې خوب د سترګو مخکې پورته ښکته کیدی او ویریدلم چې د رښتیا ذوالفقار له لاسه ورنکړم.. لس دقیقې د کور دروازی مخکې ذوالفقار زه خپل غیږ کې نیولې وم او هغه پولیسان کور کې ګرځیدل تر څو قاتل پیدا کړی؟

په پښو د دریدلو توان مې نور نه درلود د دروازی مخکې کیناستلم او دومره ویریدلې وم چې ذوالفقار مې هم د اوږی څخه ونیوې او هغه مې هم د ځان سره کینوې، زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بد حال په لیدو بیچاره ذوالفقار زما په کارو هیس نه ویل او یواځې ما چې کوم شئ ویل هغه یې کو.. څو دقیقې وروسته پولیسان له کور را ووتل، او ددې خبری پر ویلو چې هیس مو پیدا نکړل له کور ووتل ... د هغوي پدې خبره ذوالفقار یو څه ورخطا شو ځکه تراوسه یې فکر کو ما قاتل لیدلې چې داسې ډاریدلې یم! خو کله چې پوی شو قاتل ماتل نشته. زه یې د لاس څخه ونیولم او د هلیز ته په ننوتلو یې کرار پوښتنه وکړل:

ذوالفقار- طاها څه خبره ده ولې داسې لوند خیشت یې؟ چا درباندې اوبه پاشلې؟ بغیر له ژړا څخه مې هیس جواب نشو ورکولې زما ددی حالت په لیدو ذوالفقار نور هم ګنګس او ورخطا شو او کرار یې پوښتنه وکړل: بیا دی کوم پیرې میرې ولیدې؟ وه یې ډاره ولې؟

هغه خوب پوهیدم چې د پیریانو مضریت وو نو ځکه مې د ذوالفقار په خبره سر د "هو" پشان وخوځه ویې چې ذوالفقار خپل ویښتیانو کې لاس کش کړو او کرار یې وویل: زه دلته یم نور هیس سوک تاته څه نشې ویلې طاها... نو ته وو قران کرار شه ستا ژړا چې ګورم عصاب مې خراب کیږی...

د سمده په توګه مې سر وخوخه ویې او کوښښ مې وکړو نور ونه ژاړم او لړ لړ بریالې هم شوم او ژړا مې بنده شوه، ذوالفقار لځایه پاسیدی او یو پیاله اوبه یې راته راوړل د اوبو څکلو وروسته سرمې پر بالښت کیخود احساس مې کوی فشار مې ښکته شوی او د هیس کار توان مې نه درلود، ذوالفقار زما څنګ ته کیناست او پداسې حال کې چې زما په تندی لاس کیخودې وویل: بدن دی یخ پخ دی..

د ذوالفقار پدی خبره بیا مې هغه صحنه او د ذوالفقار بی روح یخ پخ بدن یاد ته راغې او ټول و جود مې د وحشت له لاسه ولړزیدی په سل زحمت خپل ځای کې کیناستم ذوالفقار مرسته وکړل او یو بالښت یې زما شاته کیخودو چې و نه غورځیږم په بند بند ژبه او په ژړا مې وویل: ته حق نلری زما څخه مخکې مړ شې پوی شوې ذوالفقار...

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پدی خبره ذوالفقار هک حیران راوکتل او کرار یې وویل: تا زه د مرګـ..( خبره مې ورپری کړل او په همغه ژړا مې وویل: پخدای قسم زما نه مخکې درباندی کوم شئ وشې هغه دنیا درپسی درځم له ګریوان دی نیسم...
زما په خبره ذوالفقار کرار وخندل او ویې ویل: میدان حشر کې به هیچا کالې نه ویې اغوستې بیا ته څنګه غواړې ما له ګریوانه ونیسې؟

دومره دمه او توان راکې نه وه چې د ذوالفقار د ټوکو او شوخې جواب ورکړم بیرته ځای کې پریوتم، سر مې ګنګس وو او سترګې مې پټې پټې کیدل، ددی څخه مخکې چې د بیخبری نړۍ ته لاړشم د ذوالفقار غږ مې وآوریدی چې کرار یې وویل: تر څو چې ته ښه اوسیږې پر ما هیس نکیږې زه درته قول درکوم طاها....

تراوسه کامل ویښ شوې نه وم چې احساس مې کړو لاس مې د یو چا لاس کیدی؟ اصلا کلک یې نیولې نه وو خو ما دا احساس کولې شو چې لاس مې یو چا نیولې؟ په ویری او وحشت له خوب پاسیدم او خپل ځای کې کیناستم. همدا چې سترګې مې خلاصې کړې نو نظر مې په ذوالفقار ولګیدی چې په نهایت تشویش او مهربانې زما څنګ ته ناست و او ماته یې راکتل ... د هغه په لیدو مې د پرون شپې ټول خبری او کارونه یاد ته راغلل.. او د زړه له خلاص بی اختیار مې لځان سره وویل: خدایه شکر دی..

پداسې حال کې چې د ذوالفقار خوا ته مې کتل کرار مې وویل: ته درسته شپه زما سر ته ویښ ناست وی او ما ته دې راکتل؟
ذوالفقار- هو..

په حیرت مې وویل: ټول شپه زما سر ته ویښ ناست ویې؟
ذوالفقار- هو پام مې وو چې بیا و نه ډار شې.
- هومم مننه..
ناساپه د ذوالفقار تندې تروش شو او په غوسه یې وویل: زه باید دا دومره مهم موضوع د زبیر له خولې خبر شم؟؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هومم خو تا پرينخودم هغه ورځ...
ذوالفقار- تا هم چندان کار ونکړو هغه ورځ..! لياده مې ندې وتلې چې ما ته دې وويل"سپې" خو د اوس لپاره هغه خبر لياده باسم خو د هغه خبرى وهل دې پر ما قرض دى ..

شايد که کوم بل وخت وايې بحث او جنګ مې کړى وايې خو د پرون شپې او هغه خوب وروسته حاضر وم، لکه خر د ذوالفقار څخه وهل و خورم خو يواځې هغه دې ښه،خوشحال، ژوندى او روغ اوسيږى بس.

***

يو مياشت د هغه خبرو څخه تيريدل او پدى يو مياشت کې ما نه هغه ليونې قاتل وليد او نه مې هم کوم نوې خبرو ورڅخه ترلاسه کړو، لکه چې قاتل نيت بدل شوې وو او نه يې غوښتل ما مړ کړى؟ معلوميدل خو همداسې د يوه مياشت وروسته پوليسان هم د هغه د راتلو څخه نامید شول او زما د کور مخه يې پريخودل زه هم بيرته راغلم خپل عادى ژوند ته د همغه شپې په سهار چې ذوالفقار د قاتل د موضوع څخه خبر شو زه يې سهار خپل شرکت ته ويوړم او ماښام به زما سره زما کور کې ويده کې دې، او جالب دا چې شرکت کې خاله نه وه؟ کله چې پوښتنه مې وکړل نو معلومه شوه چې خاله ذوالفقار د شرکت څخه ويستلې زموږ د جنګ په دويم ورځ!

د استاد کور ته نه تلم پدې يو مياشت کې يواځې د هغه جومات ته تلم او هلته مې د استاد سره درس ويل، اراده مې کړه وه چې دا خبره يو چا ته وکړم تر څو يو لاره چاره را وښايې خو نه پوهيدم چا ته ووايم؟ او البته دا شک هم راسره وو چې استاد به آيا زما مرکې ته "هو" ووايې او کنه؟ د دې يو مياشتې د عادت مطابق د استاد سره مې خداى پامانې وکړل او د جومات څخه راووتلم او خپل د کور خوا ته روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم. خپل د کور کوټې ته رسیدلې وم چې موبایل ته مې زنګ راغې جواب مې کړو ذوالفقار وو..

- الو سلام علیکم..
ذوالفقار- علیکم سلام چیرته یې؟
- تازه راورسیدم خپل کور ته لګیا یم دروازه خلاصه وم..
ذوالفقار- زه سمده یو څه استراحت وکړه بیا یو ځل راشه زما د کور خوا ته زبیر هم دلته دې شپه به یوځای تیره کړو هسې قلیون مو هم لګولې...
- اوو اوس خو ضرور درځمـ...

خبره مې لا پوره شوې نه وه چې د شالخوا یو چا په یو کلک شې په سر ووهلم او د یو اخ پر ویلو ځای پر ځای په ځمکه وغورځیدم، په سل زور او زحمت مې خپل سترګې لږ خلاصې کړې، هر شئ مې دوه دوه تر سترګو کېدل په څو ځله سترګو پټه ولو او خلاصه ولو وروسته لږ لږ مې خپل شاوخوا شیان سم ولیده! یو تور تیاره کوټه کې وم! بغیر د یو کوچنې کړکې څخه چې د کوټې په اخیر سر کې وه نور هیس شې راته سم نه ښکاره کې دې سر مې بیحد درد کوې او وچ شوې وینه مې خپل په ویښتیانو کې احساس کولې شو.

عجیب وه خو لاس او پښې مې خلاصې وه! په سل جبر او مشکلاتو له ځمکې څخه پاسیدم غوښتل مې د کوټې د دروازې خوا ته روان شم او له هغه منحوس ځای څخه ووځم خو دوه قدم لا تللې نه وم چې خپل د شالخوا مې یو بډ کلک مردانه غږ وآوریدې چې په خوشحالې وویل: سلامونه جناب محمد طاها خان احمدزی صیب..

د هغه غږ په آوریدو بیحد و بډار شوم او په تلوار هغه خوا ته مې مخ وګرځه وی، بډېمن وم چې همغه لیونې جنرال دې چې زما د مړ کولو قسم یې اخیستې. یو خو کوټه توره شپه وه بلخوا زما سر دومره ګنګس وو چې سم مې نشو لیدلې چې څنګه کالې اغوستې او څه رقم دی؟ دا ځل د غږ سره سم یې د کوټې ګروپ هم روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو، د څو ثانیو لپاره د تیز رڼا له امله سترګې مې پټې کړل خو کله چې مې خلاص کړل نو هر څه راته یو څه واضح ښکاریدل..!

کوم ځای کې چې وم هغه اصل کې یو زیرزمینې پشان ځای وو، شاوخوا دیوالونه وه یو کوچنې کړکې پورته د دیوال په سر وه او یو دروازه چې د ننه لخوا یې یو غټ قفل وراچولې وو، د ځای د کتلو څخه مې نظر واخیست او هغه نفر ته چې دا یوه میاشت زما د ژوند د بربادې سبب ګرځیدلې وو وکتل، او د لیدلو څخه یې حیران شوم، ما انتظار درلود یو وحشې، خیرن،او لیونې پشان انسان سره چې لاسونه یې پر وینو لړلې مخ شم خو زما ټول ذهنیت د هغه پر لیدو خراب شو..

د هغه ځل څخه چې د جنرال د کور مخکې د هغه د لور سره مې یو نظر لیدلې وو او راته بوډا ښکاره شوې وو زیات یې توپیر درلود، یو جوړه تور کالې اچولې وه برابر منظم ګیره او ویښتیان یې پریخودلې وه البته لږ لږ سپین ویښتیان یې په ګیره او ویښتیانو کې له ورایه ښکاره کیدل خو دومره نه چې د څهرې جذابیت او ښکلا یې کمه کړې..! اوس چې د دومره نږدې څخه یې ګورم نو باید اقرار وکړم چې دا لیونې جنرال پدې بوډا والو کې لا ښکلې او زړه راښونکې وو...

خو دا دټول خبرې ددې سبب نکیدل چې زما ویره دې د هغه څخه زره اندازه لا کمه شې، خندا په خوله زما خوا ته رانږدې او خپل لاس یې د سترې مشې پشان زما مخ ته ونیوې او ویې ویل: اممممم موږ معرفې شوې نه یو کنه؟(کله چې زما لخوا یې کوم جواب وانخیست نو زما لاس یې په زور خپل لاس کې ونیوې او د پورته ښکته کولو حال کې په خوشحالې وویل: اممم دا خلک ډیر مضر کسان دی شاید زه یې درته سم معرفې کړې ونه اوسیږم.. زه جلالدین امیرخیل یم د جنایې بخش د *** قطعې قوماندان .. او تاسو؟

د هغه پدې کارونو زما ویره نور هم زیاته شوه، هغه امریکایې فلمونو کې قاتلان دی چې ښایسته استایلې ګرځې او خبرې کوې خو ناساپه روانې کسان ورڅخه جوړیږې جنرال هم ماته همغسې ښکاره کیدی.. د زړه درزا مې یو زرو اتیا ته پورته شوې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زوره مې خپل لاس د هغه د لاس څخه کش کړو البته که هغه اجازه نه وایې راکړې هیس کله مې خپل نشو ورڅخه خوشې کولې.. په وېرې او ډار د هغه څخه لرې شوم او د کوټې دروازې خواته ولاړم، پوهیدم چې هغه دومره غټ قفل نشم خلاصه ولې خو بیا مې هم لږ زور ووهې چې شاید خدای مهربان شې خو افسوس...

د هغه په غږ مې وروکتل: اممم هسې خپل انرژي مه مصرفه وه هغه قفل ته خو لرې هغه ستا لیونې کاکا ذوالفقار هم راشې نشې خلاصه ولې...
د ذوالفقار د نوم په آوریدو د بیځایه کش مکش څخه مې لاس واخیست او حیران مې د هغه خوا ته چې یوه چوکې د کوټې له کونج راوخیست او ماته مخامخ ورباندی کیناست وکتل، مغزو کې مې یوه خبره ګرځیده دې له کومه خوا ذوالفقار پیژني؟ خپل جواب مې خپله ورکړو هغه وویل د جنایې بخش قومندان وو نو دومره اطلاعت خو ضرور پیدا کولې شې..! خو بیا مې هم زړه طاقت ونکړو او په بند بند ژبه مې پوښتنه وکړل:

- ت .... ته ذ... ذوالفقار ... ل... له کوم خوا پیژنې؟
جلالدین- اممم طاها ګورم وېرې درباندې بیحد بد تاثیر کړې.. کنه ویلې مې وه چې زه سوک یم؟ باید له هغه خبرو پوې شوې وایې چې زه څه کارونو کولې شم؟!
- غ.... غواړې م... ما مړ کړې؟
جلالدین- که زما خبرې دی خیال راحت کوې نو باید ووایم "نه" زه نغواړم تا مړ کرم... بلکه زه ستا سره هغه کار کوم چې مرګ ورته په زیرې کې و ارزې..

د هغه د خبرو په آوریدو لاس او پښې مې د وېرې له لاسه یخ شول هغه دقیقه کې غټ ترینه آرمان مې دا وو چې خداې زما زړه و دره ویې او د زړه په هاټ هاتیک مړ شم، نه ددې لیونې قاتل په لاس ټوټه،ټوټه شم پدی فکرونو د زیات وېرې څخه د دروازې مخکې کرار کرار کیناستم نور راکې دومره انرژی او توان نه وو چې پر پښو و دریږم پداسې حال کې چې سترګې مې د اوښکو ډکې وه په لړزانده غږ مې وویل:
م.... ما څه کار په تا کړې چې ته غواړې ما مړ کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلالدین- امم طاها ته باید پوې شې سترګې نیول د خلکو ناموس ته اخیر کې سزا لري... بد دردناک سزا هم لري... او که هغه زما ناموس اوسیږي نو سزا یې پدې دنیا کې زه ورته د جهنم د سزا څخه لا دردناک ورکوم...
- م...ما ..س...ستا...ناموس ... ته پخدای ..که... کتلې ویې..
جلالدین- خپل د کړې کار څخه مه پیښمانه کیږه... نر اوسیږی او خپل د کړی کار مسؤلیت په غاړه واخله..
- کوم کار چې کړې مې ندې سنګه مسؤلیت په غاړه واخلم؟

جلالدین- امم تا هغه لیدلې وه کنه؟
جواب مې ورنکړو چې هغه په غوسه وویل: تا د هغې غږ آوریدلې وو کنه؟(بیا مې هم جواب ورنکړو او په وېرې او ډار مې ورته کتل چې هغه په غوسه وویل: ها...؟ (په ډار مې د "هو" پشان سر وغوځه ویې چې هغه خپل وریځه پورته کړل او ویې ویل: هوممم نو تا زما ناموس ته کتلې وه اوس دې ومنل..؟!

پوهیدم چې خبرې کول او دلایل راوړل فایده نلري، هغه زما د مرګ اراده کړی وه او هیس رقم امکان نه درلود چې ما خوشې کړی.. په لړزانده غږ مې وویل:
پ...پولیسان دې پیدا کوی...
زما پدی خبری هغه په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: یو داسې خبره وکړه چې ما و وېره وي.. زه یو میاشت کامل ستاسو مینځ کې وم ستا په ژوند کې خو هیچا زما شتون ته پام نشو اوس ته فکر کوې هغه کمعقل قوممندان به ما پیدا کړې؟ هغه چې یوه ورځ زه زندان کې و نه ساتلې شوم؟

نور نو واقعا د هر خوا څخه نامیده شوې وم او ناساپه مې له خولې ورته ووتل: که غواړی ما مړ کړې نو څه ته په تمه یې؟ ژر دا کار وکړه..!
جلالدین- مننه چې رایاد دې کړل..

خپل د خبرې سره سم خپل لځایه پاسیدې او زما خوا ته په راتلو شو، د هغه په پاڅیده خپل د کړې خبرې څخه پښیمان شوم، ای کاش خوله مې مات شوې وایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو داسې خبره مې ورته نه وایې کړې، دې خبرې ته په فکر کولو چې غواړې ما سنګه مړ کړې زاره راچول همدا چې رانږدی شو په زاری شوم ورته: ن.... نه... ته.... وخدای..هسی یو خبره مې وکړل...

همدا چې زما څنګ ته راورسیدې نفس اخیستل راته ستونزمن شول، یو دم د کوټې فضا درنه شوه او ساه اخیستل راته ګران کار شو زما څخه په لږ فاصله کې په ځمکه کیناست پداسې حال کې چې مسکا یې په خوله وه کرار یې وویل: ډارېږه مه زه تا دومره ژر نه مړ کوم پوهیږې ولې؟
نه مې غوښتل بیا داسې کوم بیځایه خبره وکړم چې هغه غوسه شې نو کرار مې وویل: ولې؟
جلالدین- اممم ځکه ستا نه وروسته بل نفر نشته..! ته آخیرې نفر یې او پوهیږی ما ولې ته د ټولو څخه اخیر انتخاب کړې؟ او ولې مې دومره وخت درکړو؟( د "نه" پشان مې سر وخوځه ویې چې هغه کرار وویل: ځکه ته په هغه ټولو هلکانو کې کمترینه او په عین حال کې زیاترینه ګناه دې کړې وه..!(پداسې حال کې چې زما سترګو ته یې په ځیر ځیر راکتل ویې ویل: پوهیږم ستا په نظر به زه یو وحشې ځناور څخه لابتره راځم.. او زه دا خبره رد کوم نه زه یم همداسې خو...

خو زه داسې نه وم...(خپل سر یې لږ کوږ کړو او ویې ویل: زما د ژوند کیسې ته غوږ نیسې؟( خپل د مرګ له وېرې مې ژر ژر سر د "هو" پشان وخوځه ویې چې هغه کامل زما و مخ ته په ځمکه باندی چهار زانو کیناست او ویې ویل: زه دا کیسه لدې لپاره نکوم چې خپل ځان بې ګناه ثابت کړم یا ستا زړه پر ما وسوځیږی، نه هیڅکله هم نه.. زه دا کیسه درته کوم تر څو ته لږ درس عبرت حاصل کړی البته اخیر وخت کې کوم فایده هم نه درته لرې خو بیا هم د مرګ څخه مخکې به دې یو لوې عبرت اخیستې ویې.. زه په یوه بیحد غریب کورنې کې پیدا شوې یم د شپږ کالو وم چې پلار مې د کلې د خان سره د ځمکې په سر په جنګ کې مړ شو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه زموږ وه هغه نه راکول اخیر کې جنګ شو زما پلار مړ شو ځمکه مو خان واخیسته او مور مې...(جنرال خپل غاښونه وچیچل او ویې ویل: او مور مې د میراث په توګه ورسیده زما مشر کاکا ته.. بوډا سړی وو د اویا کالو وو پداسې حال کې چې زما مور تازه د ۲۵/۲۶ کالو وه، ډیر ظالم انسان وو زه هغه وخت د شپږ اوه کالو ماشوم وم، همدغه یو اولاد وم نه مې خور درلود او نه هم بل ورور، مور مې په سخته د هغه سره وخت تیره ویې. دری څلور کاله ژوندی وو حرام خور مړ شو، د هغه څخه شکر خدای هیس اولاد زما مور ته ورنکړو، د مرګ وروسته یې بیا زموږ په سر قیامت شو..

دوه نور کاکا ګان مې درلود هغوې هم ګیره کې لاس وهې او زما مور ته یې نظر وو، خو زما مور کلک اراده کړې وه ټولو ته یې وویل: چې نور نغوارم واده وکړم او غوارم خپل په زوې سر سپین کړم.. خو چا د یو ځوانې کونډې خبره آوریدل؟ یاد مې دې ادی د ماسخوتن مونځ وکړو او زما څنګ ته یې خپل ځای واچوی( جنرال چې خبرې کول نظر یې ځمکې ته نیولې وو داسې چې هغه وخت ته تللې ویې..؟) د تل پشان یې ماته غوښتل کیسه وکړې زما د پلار کیسه زما مور او پلار په عشقو او عاشقې کې واده کړې وو..

مور مې د مرګ تر ساعت زما پلار هیر نکړو.. راته هغه کیسه یې کول چې زه تازه پیدا شوې وم او پلار مې زما د پیدایښت په خوشحالې کې ټول کلې باندې شیرنې ویشلې وه، چې ناساپه دروازی خرپ وهل او زما دویم کاکا لکه یو وحشې ځناور کوټې ته راننوت..(جنرال چپه سترګه بی اختیار به پریدو شوه! آوریدلې مې وه کوم نفران چې عصبې مشکل لرې نو چپه سترګې د غوسې حالت کې بی اختیار رپیږی! دا حالت ما ذوالفقار کې هم کله ناکله لیدو، خو دومره نه! جنرال خپل په لاس خپل هغه سترګه ونیول او کرار یې وویل:

جلالدین- نه زما د مور عزر او زاریو ته غوږ شو نه هم زما ژړا او چغو ته، زما مور یې له ویښتیانو ونیول او په زوره یې خپل کوټې ته ویوړل(جنرال په پسخند وویل: یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای جاهل ناپوه یې راوړې وه د مولا په نوم دوه کلمې اخوا دیخوا شول او زما مور شول د هغه ښځه... د کال په سر اولادونه راوړل شروع شول یو هرمونې به راغلې نه وو چې بل به په نس شو.. د پنځم ماشوم په سر زما مور مړه شول( جنرال ځو دقې خاموش بیا یې کرار وویل: هغه وخت زما عمر زیات او کم د اولس اتلس کالو به وو.. د مور مړینه راته درد نه بلکې خوشحالې او آزادی ښکاریده هم هغه د عذاب خلاصه شوه او هم زه آزاد شوم..

د هغې په خاطر د کاکا کور کې تینګ وم همدا چې جنازه مو وکړل همغه شپه مې حرکت وکړو سهار ته په تمه نشوم.. هغه وخت عسکری کې ځوانان ژر نیول خصوصاً د اطرافو ده ملې اردو کې اول داخله مې وکړه بیا کرار کرار په ځو کالو کې بخش پر بخش او بڼلو تقسیم شو ترځو چې راغلم جنایې بخش ته... کار مې وظیفه مې کول خو ژوند نه..

د کاکا ظلم مې نه هیریدې یو ورځ مې بیحد عصاب خراب شول ټوپک مې راواخیست او روان شوم د کاکا کور خوا ته کلک اراده مې کړې وه چې د ټوپک 32 مرمې د هغه په بدن کې خالې کړم او خپل زړه وربانده یخ کړم...

کله چې ورسیدم پوهیږې د لومړی ځل لپاره مې د خداې په انصاف باور وشو،(زما خوا ته یې راوکتل او ویې ویل: کله چې کلې ته ورسیدم نو یو خیرن، ببر سر بوډا مې په مخ راغې سوالګر وو لاس یې راته ونیو خو زه دومره غوسه وم چې هغه ته مې فکر ونکړو او مستقیم د کاکا کور ته لاړم هلته چې لاړم هیس نه وه! د کور لځایه ډیران وو! د خلکو څخه مې پوښتنه وکړل چې څنګه چل دي؟ نو په کیسې پوې شوم..( زما خوا ته یې راوکتل او ویې ویل:

هغه متل دې وایې"چوب خدا صدا نداره بزنه دوا نداره" څو میاشت مخکې د کاکا په کور امریکایې ځواکونو پدې ګمان چاپه اچولې وه چې د هغوې په اند هلته طالبان دي؟ او کامل کور یې ورته بمبار کړې وو او د هغه بمباران څخه یواځې زما کاکا پاتې وو هغه هم د دې مصیب په لیدو عقل له لاسه ورکړې وو او کلې کې ګدایګری کول..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(جنرال زما خواته راوکتل او کرار یې وویل: و مې بخښې د هغه څخه خدای زما حق او زما د مور د ژړا او اوښکو غچ اخیستې وو، هغه کور کلې مې خوشې کړو راغلم ښار ته لس کاله مې لکه سپې پشان شپه او ورځ کار وکړو، تر څو شوم د جنایې بخش قومندان... خو هغه وخت چې دې مقام او درجې ته راورسیدم یواځې د نوم مخکې مې یو قومندان وو او شاته یې امیرخیل ...

ټولو فکر کوې چې دغه دې خوشبخت انسان دې خو زه بدبخت وم، ما هیس نه درلود ما په ظاهر د خلکو مخکې ځان داسې معرفې کړې وو چې کور لرم، ژوند لرم، قوم لرم خو اصل کې هیس... هیس.. ما هیس نه درلود ما هسې واهې امید باندې ژوند کوې تر دې چې یو ورځ جنرال بابکر خیل... همغه ستاسو همسایه جنرال خپل کور ته دعوت کړم..

ملګرې مې وو پدې لس کاله وظیفه کې مو یو بل سره پیژندل، هلته چې لاړم د غرمې لمانځه لپاره جومات ته لاړم بیرته راتګ وخت کې جنرال میلمه خانې ته ننوت او زه ولاړ وم ترڅو خپل بوټان د پښو وباسم چې ناساپه یو چا راته وویل: ای دیخوا...

د هغه پدی خبره ما ناساپه وویل: د جنرال لور...
جنرال په تروش تندی راوکتل چې ما خپل خوله ژر بنده کړه جنرال خپل سر وخوځه ویې او ویې ویل: هو همغه وه اول مې کوم توجه ونکړل اصلا ددې مینې او عاشقې په خبرو او لین و دین کې نه وم خو یو میاشت کې هغې دومره ځان راته پورته ښکته کړو چې(ما ته یې راوکتل او ویې ویل: ما مینه نه وه لیدلې ما تراوسه د یو نجلۍ لخوا توجه نه وه لیدلې زما ټول جنګ،جګړه او خشونت کې تیر شوې وو.

زما په عمر مه ختا وځه،زما احساسات د یو شل کلن هلک څخه زیات تازه او ناشنا وه، زما زړه د هغې سره ولړیدې فکر مې کوې چې شاید خدای راته د دومره سختیانو او مصیبتونو وروسته یو نیک بدله راکړې ویې او دا نجلۍ زما مخې ته راویستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې؟ تر څو زما د دردونو او زخمونو ملحم شې، د زړه کرار مې شې ..خو لکه چې خدای دا ځل اراده کړې وه ددې نجلۍ په طريقه ما بيخې نيست او نابود کړې..

د هغې په نازو نخرو ما د مينې ګمان وکړو بابکر خيل ته مې وويل: لور به دې ماته رانکړې؟(په حيرت مې جنرال ته کتل چې هغه کرار وويل: زما هم باور نکېدی چې هغه به زما خبره ومنې خو لکه چې ټول نړې پر يوه خوله شوې وه ترڅو ما بدبخت کړې.. بابکر خيل "هو" کړل سبا يې دسمال راکړو د کوژدی وروسته چې کله لاړم د هغوې کور ته نجلۍ د ځمکې څخه آسمان ته تللې وه هغه پخوانې نجلۍ نه وه، جنګ و چيغې وه بوغې وه چې زه تا بوډا نغوارم او ته فلانکې بستانکې او سل بيځايه القاب يې زما پسی وتړل يواځې مې ورته يوه خبره وکړل(جنرال خپل ګيره لاس کې ونيول او کرار يې وويل: ورته مې وويل ستا د ټول عشق او عاشقی او نفری او يارانو څخه خبر يم..

ورته مې وويل خبر يم د شير اغا سره په کوم ورځ ويې او د ميراغا سره په کوم شپه وی؟(په حيرت مې ورته کتل چې هغه وويل: پوهيږم ستا په نظر شايد زه دوس او بيغرت راځم چې ددی خبرو د پوهيدو با وجود د داسې يو نجلۍ سره مې واده وکړو! خو ما ورسره زړه لړيدلې وو که هغه د يو فاحشه خانې نجلۍ هم وايې ما غوښتل سم لاری ته يې راوړم، دې خو لا زما په نظر يواځې د خبرو شيطنت درلود نور او د کوم کار کولو جرئت يې نه درلود، ما فکر کو شايد سمه شې شايد همغه د پيغلتوب شيطنت ويې او خوشې کړې خو نه نه ... نه ..( د جنرال مخ له غوسې څخه تک سور شوې وو په قهر لځايه پاڅيدې داسې چې زه له زيات وېرې څخه په دروازی وموښتم..

هغه په غوسه زما مخ ته په تلو شو او لکه ليونيانو پشان ځان سره لګيا شو: ما ورته دويم شانس ورکړو چې توبه وباسې اصلاح شې خو هغې زما دومره مينې او محبت ته ونه کتل او غوښتل يې( ناساپه د قدم وهلو څخه و دريدې زما خوا ته يې راوکتل سترګې تکې سرې شوې وه په يو لهجه باندی په خبرو کولو لګيا شو چې د زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېرې زما د بدن ويښتيا سيخ ودريدل: هغې غوښتل ما خوشې کړې او د داسې يو هلک سره وتختې چې خپل د پوزې د پاکولو لا نه وو، پوهيږې هغه هلک پدې مئين نه وو هغه يواځې ددې طلاو او پيسو ته پټه کړې وه، غوښتل يې دا له کور بهر کړې او هلته ورسره هر کار چې زړه غواړې وکړې..

لاس ترلې مې د هلک سره ګيره کړل ورته مې وويل: دا کاونه مه کوه خداې و رسول مې ورته شافيع کړو خو...(جنرال خپل ويښتيانو کې لاس تير کړو د مغزې او سر رګونه يې راوتلې وه په همغه لهجه يې وويل: خو هغې ستا پشان يو بې لياقت ته پر ما ترجيه ورکول هغې زه نغوښتم هغې ددې وخت لشمکې پطلونې هلکان غوښتل هغې...(جنرال په يو سرعت خپل ځان تر ما را ورسه ويې چې ما حتا د پاڅيدو وخت لا ونکړو زما د سر ويښتيان يې کش کړل دومره چې سترګې مې د اوښکو ډکې شوې خو هغه بغير لدې چې زما چغو ته وګورې لکه ليونيانو پشان لګيا وو: د هغې کاکولې غوړ پيکې هلکان خوښيدل، تا هم د هغې لپاره دا رقم ويښتيان پريخودلې کنه.؟

- ما پخداې که هيس کار کړې وې.. ته و خداې خوشې مې کړه..
جلالدين- د هغې لپاره خپل د کاکا کور کې اوسيدلې کنه، ترڅو د هغې سره يارانه جوړه کړې کنه؟

ما چې هر څه ويل هغه نه آوريدل يواځې په زوره سره يې زما ويښتيان کشه ول، دومره چې زما د سر زخم کوم چې اوس وينه راتلل يې بند شوې وه بيرته خوله خلاصه کړه او وينه بهيدل شروع شول، جنرال زه په يو لاس د سر له ويښتيانو څخه پورته نيولې وم، ناساپه يې د کوټې په ديوال وويشتم او همغه حال کې چې لګيا وو ځان سره يې خبرې کول د کوټې يو کونج ته روان شو، په دواړو لاسونو مې خپل سر نيولې وو

احساس مې کوې د سر پوستکې مې بيل شوې او هسې مغزه مې ښکارې دومره درد درلود چې سترګې مې لانشو خلاصه ولې.. د جنرال په لغته چې ويې وهلم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبوري خپل سر لږ پورته کړو او سترګې مې خلاصې کړی د مخامخ صحنې په لیدو روح مې له جسم خارج شوه... د جنرال لاس کې یو په وینو لړلې تبر وو!

جلاالدین- ویلې مې وه زما ناموس ته چې سوک وګورې زه پدی دنیا ورباندی د جهنم دیدن کوم..

د هغه په وینو لړلې تبر په لیدو مې ژبه بنده راغلې وه او یواځې مې په وېرې ورته کتل کله چې تبر یې پورته کړو د وهلو لپاره نو اول ځل پدې دومره وقت کې لاس په ګریوان شوم ورسره خپل د ځان د ژغورلو لپاره، خو چیرته زما زور او چیرته د هغه؟ هغه بیا په کلک باندی په دیوال ووهلم چې احساس مې کړو د بدن ټول هډوکې مې ماتې شول، په ځمکه پروت وم او د زیات درد څخه اوښکې مې تویه ولې چې ناساپه د تبر تیز والې مې خپل په پښې کې احساس کړو! ضربه دومره کلک وه چې نږدی وو پښه مې قلم جلا شې تبر زما د پښې په هډوکې کې موښتې وو...

د ډیر درد له لاسه مې چغه له خولې ووتل چې جنرال په نهایت بې رحمې خپل پښه زما پر پښه کیخودل او سنګه چې مورږ د لرګې مات کولو وقت کې تبر د لرګې څخه جلا کو همغسې زما د پښې څخه تبر وباسې چې زما د پښې څخه وینه په ډیر تیز والې سره په بهیدو شول زړه مې غرق غرق کیده او فکر مې کوی چې فشار مې صفر شوې.. د هیس کار توان راکې نه وو، نور مې درد لا نه احساس کوې جنرال تبر پورته کړو تر څو بیا زما د پښې په همغه ځای ووهې او زما پښه کامل پری کړی دا ځل....

خپل مرګ ته په تمه وم احساس مې کوې روح مې له وخته د بدن څخه وتلې ده. د مړې پشان پروت وم تر څو جنرال مې ټوټه، ټوټه کړې او بوجۍ ته مې واچوې.. خو ددې څخه مخکې چې تبر بیا دویم ځل زما پر پښه راپریوځې جنرال په یو بیحد قدرت او انرژی زما څخه لرې په دیوال ولړیدې.. په ګنګس انداز مې وکتل چې شمویل مې په غوسه او قهر د جنرال و سر ته ولیده..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول ځل وو چې شمویل مې دومره غوسه لیدې بغیر لدې چې کوم رحم وکړې جنرال یې وهې او جنرال بدبخت لکه چې شمویل نه لیده! ځکه چغې وهل دا سوک دې ما وهې؟ د ډیر وینو تلو له لاسه کرار، کرار د بې سده کېدلو حال کې وم چې شمویل د جنرال د وهلو څخه لاس واخیست او په تلوار زما خوا ته راغې..

شمویل- ماشوم ښه یې؟
د خبرې کولو توان مې نه درلود.. یواځې په حلاص سترګو مې ورته کتل چې شمویل په تلوار او ورخطاې وویل: اوس.... اوس پولیسان رارسیږی ما ستا کاکا ته ددې ځاې آدرس ورکړه هغه د پولیسانو سره راروان دې، یو څه لږ نور وزغمه ماشوم.. هر څه سمیږی..( شمویل په ورخطاې لګیا وو او زما ېښه یې کتل غوښتل مې ورنه پوښتنه وکړم چې څنګه ذوالففار ته یې ددې ځاې آدرس ورکړی؟ چې ناساپه د شمویل شاته مې جنرال تبر په لاس ولید..!

او په همغه حال کې مې له خولې چغه ووتل: شمویل شاته دې....

"څلور کال وروسته"

- شمویل په کرار بچې اوس غورځیږی..
خو هغه بغیر لدې چې زما خبرې ته غوږ ونیسې همغسې خپل په ساتېرې لګیا وو.
- څه کار لرې د ماشوم سره؟ پریږده خپل لوبې وکړې..(د هغې په غږ مې مسکا په خوله راغله او پداسې حال کې چې خپل څنګ ته ځاې مې د هغې د کیناستلو لپاره سمه ویې کرار مې وویل: په سترګو د استاد لورې ته امر کوه..
زما څنګ ته په کیناستلو هغې په خندا وویل: امر نه یادونه کوم جناب..
- امهممم ستا یادونه هم زما په سر سترګو قبول او منظور ده اغلې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد لور- نن د بابا کور کې میلمستیا ده مورې یې ور بللې یو..
- په څه مناسبت میلمستیا ده؟
استاد لور- ته خبر نه یې؟
- نه... څه خبره ده؟
استاد لور- عجیبه ده.. ما فکر وکړو چې ته به خبر اوسېږې..
- نه.. نه یم خبر ته راته ووایه څه خبره ده؟ خیرت خو دې؟

استاد لور- طیبه باندې د بابا یو شاګرد دا څو وخته کیږی چې مرکه دې نن بابا لکه چې اجازه ورکړې ترڅو شپې ته د مشرانو سره په رسمې توګه راشې او بابا ورته دسمال ورکړی...

- ښه نو داسې خبره ده مبارک دې وې..
استاد لور- سلامت اوسیږی جناب.. نو څکه شپې ته ټول د بابا کور ته دعوت یو..
- ذوالفقار دوي هم دعوت دې؟
استاد لور- زړه دې څه غواړی؟ بابا چې مورې دعوت کړې یو مطلب زمورې ښځه یې مخکې ذوالفقار اوښې ته خبر ورکړی...
- اوه نو هغه یې بیا ټکنې زوم دې زه بیچاره یې بیا میریضی زوم یم...

هغې بد بد راوکتل او له ځایه د پاسیدو حال کې وویل: دا ټکنې او میریضی پریږده پاسیږه لږ ګیره دې منظم کړه سم ګجر درنه جوړ شوې..
په خندا مې وویل:ولې ګجر دې نه خوښیږی..
هغې هم په خندا وویل: نه جناب زما جنټل مین خلک خوښیږی..
په خندا مې وویل: اووو خطرناک مولیانو پیشرفت وکړو نور ساده خلک نه خوښه ویې چنټل مین غواړی..
استاد لور په خندا وویل: خود نو..

په خندا مې د هغې خواته کتل چې هغې شمویل غیږ کې واخیست او کور خوا ته روانه شوه، کور ته د ننوتلو مخکې مې ورته ناری کړل: اقرا..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې مخ راوګرځه وېې او وېې وېل: جان...! څه وایې؟
- هیس..
هغې په خندا خپل سر راته وخوځه وېې او کور ته ننوتل، یو غټه ساه مې واخیستل او خپل سترګې مې آسمان خوا ته ونیول... خدایه شکر دې... تراوسه هم کله ناکله هغه څلور کاله مخکې د زیرزمینې هغه نفس تنګ کوټه او هغه لیونې جنرال تبر په لاس رایادیږی او شکر باسم لدې چې هغه ورځ شمویل زما مرستې ته راورسیدی او وېې ژغورلم، کنه د وخت به اوس زما هډوکوې لا په قبر کې خاورې شوې وه...

هې شمویل... هغه ورځ شمویل د جنرال د لاس په تبر هغه په تندې ووهې او جنرال هملته ځاې پر ځاې مړ شو.. د جنرال د مړه کولو سره سم یو څو پیریانو شمویل لاس ترلې د هغه ځاى ویوړې ځکه شمویل خپل د پیریانو نړی قانون زما د ژغورنې لپاره مات کړو او یو انسان یې زما په خاطر و وژې.. د هغه ورځ څخه تر نن ما شمویل ندې لیدلې چې چیرته دې؟ ځنګه دې؟ مړ دې؟ او که ژوندی دې؟ د شمویل د وړلو څو دقیقې وروسته ذوالفقار او پولیسان راورسیده او زه یې شفخانې ته منتقل کړم..

څو میاشتې وروسته چې لږ وضعیت مې ښه شو او امن امنیت مې ژوند ته راغې، او پیریانو انسانو زما بدبخت د وژلو څخه لاس واخیست ذوالفقار ته مې د استاد د لور خبره وکړل او هغه هم راته وویل: چې زه ستا خبره ستا پلار ته کوم او د مولا کور ته مرکه استوم ستا لپاره خو یو شرط یې درلود؟ او هغه دا چې د مولا مشره لور ذوالفقار ځانته غوښته...! پوښتنه مې ورڅخه وکړل چې تا هغه لیدلې؟ مئین شوې یې ورباندې؟ خو ذوالفقار یوه خبره راته وکړل" نه مې لیدلې او نه هم ورباند مئین یم، اول خو ښه کورنې دې خوښه مې ده او دویم دا چې ستا باجه کیږم نو ځکه غوارم ورسره واده وکړم...

او د قسمت خبره وه استاد هم ومنل او خپل دوه لورګانې موږ دوارو ته راکړل، د یو کال وروسته خداې ماته یو زوې راکړو چې ما یې نوم د شمویل په یاد کې شمویل کیخودو، ذوالفقار ته هم خداې یو لور ورکړه.. چې نوم یې ورڅخه راحیل کیخوده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا راحیل خانوم څهره کې خپل مور او اخلاق کې د ذوالفقار کاپې وه، کله ناکله په هغه دومره کک سر باندې پاسیږی او شمویل وهې بیچاره زما زوی عاجز راګیر کړی... او هوو زبیر هم اخیر سر د مجردانو له ډلې څخه ووت او خپل د خاله د لور سره یې کوژده وکړل...

خیرن ویل نه.. خو خپل د خاله په لور باندې د ماشومتوب مئین وو، د زبیر په عاشقې دومره حیران نشوم څومره چې د فهیم په دویم ځل عاشقې حیران شوم هغه هم په میشا باندې...؟ او د هغه څخه جالب دا چې د میشا کورنې هم راضې شوه او میشا ورکړل فهیم ته...! او فرشته وغوښته د میشا ورور ته بدل موخې وکړل ...! بس نو خداې داسې قسمتونه او تقدیرونه لیکې چې د انسان علم او هوش ورته نه رسیږی..

ددې ټولو خبرو او کیسو څخه ما یو درس عبرت واخیست..! او هغه دا چې د رښتیا هم یوه ښځه د یو کور څخه جنت هم جوړه ولې شې او دوزخ هم..! د جنرال لور یواځې خپل ژوند تباه نکړو بلکې د پنځه سړیو کورونه یې تباه او برباد کړل.. د رښتیا هم هغه متل دې چې وایې: جنګ زنها قتل مردها ... د پیغمبر"ص" حدیث برحق دې چې ویې فرمایل: کله چې شیطان پر کوم نیک صالح بنده زور ونه رسیږی او په هیس رقم ورته دوکه ورنشې کړې نو خپل اخیری چل او فریب کاره ویې چې هغه ښځې دې... النسا حبائیلو شیطان... معنا ښځې د شیطان رسې دې یعنې د هغه د چل او فریب ورکولو غټ ترینه وسله...

نو نیک او ښه ښځه پدې دنیا کې کور درته جنت ګرځه ویې او بده ښځه درته دوزخ، لکه څنګه چې جنرال ته یې وګرځه ویې.. په همدې فکرونو کې وم چې ناساپه یو چا وویل: سنګه یې ماشوم...(له وېرې درې متره لځایه وپریدم چې هغه کرار وویل: لکه چې و مې ډاره ولې ماشوم...؟!
- شمویل....!

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**